# د رسولانو عملونه

د کتاب پېژندنه

د رسولانو د عملونو کتاب د لوقا د انجیل څخه وروسته پیل کیږي چې لیکونکی یې لوقا دی. دا د لوقا د انجیل نه وروسته لیکل شوی دی. کله چې عیسی مسیح په صلیب باندې مړ کړای شو، نو شاګردانو یې له وېرې خپل ځانونه پټ کړل، خو عیسی مسیح د مړینې څخه وروسته په درېمه ورځ بیا راژوندی او د هغوی په منځ کې راښکاره شو. مخکې له دې چې عیسی بېرته اسمان ته پورته شي یوځل بیا یې د هغوی سره وعده وکړه چې پلار خدای به هغوی ته هغه وعده شوی سوغات یعنې روح القدس راولېږي. عیسی مسیح هغوی ته وویل چې دوی به د روح القدس په قدرت سره د هغه د پیغام شاهدان اوسي، لومړی په اورشلیم، یهودیه، سامره او بیا د نړۍ تر بل سره پورې (د رسولانو عملونه ۱:۸).

د رسولانو د عملونو د کتاب مهمې ځانګړتیاوې د روح القدس کار دی چې په اورشلیم کې د پنتیکاست په ورځ په خپل قدرت سره په ایماندارانو باندې نازل شو. روح القدس کلیسا او د هغې مشرانو ته په هغو ټولو پېښو کې چې په دې کتاب کې بیان شوي دي، لارښوونه کوي او هغوی ته قوت ورکوي. لومړنی مسیحي پیغام د یو شمېر موعظو او هغو پېښو لنډیز دی چې د رسولانو د عملونو په کتاب کې لیکل شوي دي چې د ایماندارانو په ژوند او د کلیسا سره په ملګرتیا کې د دې پیغام د قدرت ښکارندوی دی. په دې کتاب کې د لوستونکو پام دې ټکي ته راګرځول شوی دی چې کلیسا کوم سیاسي سازمان نه دی او د کوم حکومت د رانسکورولو او یا قدرت ته د رسېدلو دپاره فعالیت نه کوي، بلکې د کلیسا مقصد دا دی چې دا اعلان کړي چې خلک به په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو سره د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای پاچاهی ته دننه شي.

د رسولانو د عملونو کتاب دا څرګندوي چې روح القدس ټولو ایماندارانو ته لاربښوونه کوي او هغوی ته توان ورکوي، ترڅو د عیسی مسیح په هکله د اورشلیم څخه تر روم پورې یهودیانو او غیریهودیانو دواړو ته زېری ورسوي.

## د موضوعګانو لست

د خلاصون د زېري رسولو دپاره تیاری: ۱:۱-۲۶

الف: د عیسی وروستنی فرمان او وعده: ۱:۱-۱۴

ب: د یهودا اسخریوتي په ځای د یو بل کس ټاکنه: ۱:۱۵-۲۶

په اورشلیم کې د زېري رسول: ۲:۱ - ۸:۳
په یهودا او سامره کې د زېري رسول: ۸:۴ - ۱۲:۲۵
د پولوس رسول کارونه: ۱۳ - ۲۸ فصلونه

الف: د خلاصون د زېري رسولو دپاره لومړی سفر: ۱۳ - ۱۴ فصلونه

ب: د اورشلیم شورا: ۱۵:۱-۳۵

ت: د خلاصون د زېري د رسولو دپاره دوهم سفر: ۱۵:۳۶ - ۱۸:۲۲

ث: د خلاصون د زېري د رسولو دپاره درېم سفر: ۱۸:۲۳ - ۲۱:۱۶

ج: پولوس رسول د اورشلیم، قیصریه او روم په زندانونو کې: ۲۱:۱۷ - ۲۸:۳۱



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ ﴿١﴾ ای تیوفیلوسه! ما په خپل لومړي کتاب کې د هغو کارونو په هکله ولیکل چې عیسی سرته
ورسول او تعلیم یې ورکړ، یعني د هماغې ورځې نه چې کار یې پیل کړ، ﴿٢﴾ تر هغې ورځې پورې
چې هغه اسمان ته پورته کړای شو. مخکې له دې چې دا کار وشي هغه خپلو رسولانو ته چې هغه
غوره کړي وو د روح القدس په وسیله لارښووني وکړې. ﴿٣﴾ عیسی د خپلې مړینې څخه وروسته
خپل ځان رسولانو ته وښود او ډېر ثبوتونه یې وړاندې کړل چې هغه ژوندی دی او تر څلوېښتو
ورځو پورې څو څو ځلې هغوی ته ښکاره شو او د هغوی سره یې د خدای د پاچاهی په هکله
خبرې وکړلې. ﴿٤﴾ هغه وخت چې عیسی لا د هغوی سره ؤ، هغوی ته یې حکم وکړ: «د اورشلیم
څخه لاړ نه شئ بلکې د هغې وعدې انتظار وباسئ چې زما پلار کړې ده او د هغې په هکله مې تاسو
ته ویلي وو. ﴿٥﴾ یحیی به په اوبو باندې د تعمید غسل ورکاوه، خو څو ورځې وروسته به تاسو ته
په روح القدس د تعمید غسل درکړل شي.»

## اسمان ته د عیسی مسیح ختل

﴿٦﴾ نو کله چې رسولان سره راټول شول، د عیسی څخه یې پوښتنه وکړه: «ښښتنه، ایا همدا یې
وخت دی چې ته به بیا اسراییلو ته پاچاهي ورکوې؟» ﴿٧﴾ عیسی هغوی ته وویل: «تاسو ته په کار
نه دي چې هغه وختونه او نیټې وپېژنئ چې زما پلار په خپل اختیار سره ټاکلي دي. ﴿٨﴾ خو د
روح القدس په نازلېدلو به تاسو قدرت پیدا کړئ او په اورشلیم، ټوله یهودیه، سامره او د نړۍ تر بله
سره پورې به زما شاهدان یئ.» ﴿٩﴾ وروسته له دې چې عیسی دا وویل، په داسې حال کې چې
هغوی ورته کتل هغه اسمان ته پورته بوتلل شو او ورېځې هغه د هغوی له نظره پناه کړ. ﴿١٠﴾ کله
چې عیسی پورته روان ؤ او هغوی لا اسمان ته ځیر ځیر کتل، نو ناڅاپه دوه سړي چې سپین کالي
یې اغوستي وو د هغوی په خوا کې ودرېدل ﴿١١﴾ او ویې ویل: «ای جلیلیانو، تاسو ولې دلته ولاړ
یئ او اسمان ته ګورئ؟ دغه عیسی چې ستاسو څخه اسمان ته پورته بوتلل شو، لکه څنګه چې لاړ
او تاسو ولیده، نو همداسې به بېرته راشي.»

## د یهودا په ځای د ماتیاس ټاکل

﴿١٢﴾ بیا رسولان د زیتون د غره څخه چې له اورشلیم څخه یو کیلومتر لېرې دی، بېرته اورشلیم ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راستانه شول. ۱۳ کله چې هغوی ښار ته ورسېدل، نو هغې بالاخانې ته پورته شول چې هغوی په
کې د يو څه وخت دپاره اوسېدل. کوم رسولان چې هلته تللي وو هغوی پطروس، يوحنا، يعقوب،
اندرياس، فيليپوس، توما، بارتولما، متي، د حلفي زوی يعقوب، شمعون سرتېری او د يعقوب زوی
يهودا وو. ۱۴ هغوی ټول به يوځای سره راټولېدل او تل به يې په ګډه دعا کوله چې په هغوی کې د
عيسی مور مريم، څو نورې ښځې او د عيسی ورونه هم وو.

۱۵ په هغو ورځو کې پطروس په يوه غونډه کې چې د عيسی شاګردان په کې راټول شوي وو او
شمېر يې شاوخوا يوسلو شل تنه وو، ودرېده او ويې ويل: ۱۶ «ای خويندو او ورونو! د خدای د
کلام هغه پېشګويي بايد رښتيا شي چې روح القدس د داود په خوله د يهودا په هکله چې د عيسی د
نيوونکو لارښوونکی ؤ، کړې وه. ۱۷ هغه زمونږ د ډلې څخه ؤ او زمونږ سره په خدمت کې شريک
ؤ. ۱۸ کومې پيسې چې يهودا د هغه بد کار په بدل کې ترلاسه کړې وې، په هغو باندې يې يوه ټوټه
ځمکه واخيستله او په هغې کې سر په تالاق راولوېد. خېټه يې وشلېدله او ټولې کولمې يې دباندې
راووتلې. ۱۹ د اورشليم ټول خلک له دې نه خبر شول او هغوی دا ځمکه په خپله ژبه د حقل‌دما
په نوم ياده کړه چې معنی يې ده د وينې ځمکه. ۲۰ نو ځکه د زبور په کتاب کې ليکل شوي دي:

وران او ويجاړ دې شي د هغه د اوسېدلو ځای

په هغه کې دې هېڅوک نه اوسي

او همدارنګه ليکل شوي دي:

د هغه مقام دې بل څوک ونيسي.

۲۱ نو اوس بايد يو داسې سړی وټاکل شي چې هغه په ټوله موده کې چې څښتن عيسی زمونږ
سره تګ او راتګ درلود، زمونږ سره ملګری ؤ، ۲۲ يعنې له هغه وخت نه چې يحيی د تعميد غسل
ورکاوه تر هغه وخته پورې چې عيسی زمونږ څخه پورته بوتلل شو. نو د دغو کسانو څخه بايد يو
يې د عيسی د بيا راژوندي کېدلو د شاهد په توګه زمونږ سره وي.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ نو هغوی د دوو کسانو وړاندیز وکړ: یوسف چې د برسابا په نوم یادېده او همدارنګه د یوستوس په نوم هم مشهور ؤ او بل یې ماتیاس ؤ. ۲۴ بیا هغوی دعا وکړه: «ای څښتنه، ته د ټولو انسانانو د زړونو څخه خبر یې، نو مونږ ته وښایه چې په دې دوه کسانو کې تا کوم یو غوره کړی دی ۲۵ چې د رسول په توګه د یهودا په ځای خدمت وکړي، ځکه چې هغه خپل رسالت پرېښود او هغه ځای ته لاړ چې د هغه لایق ؤ.» ۲۶ بیا هغوی پچه واچوله او پچه د ماتیاس په نوم راووتله او هغه په هغو نورو یوولسو رسولانو کې شامل شو.

## د روح القدس نازلېدل

**۲** ۱ کله چې د پنتیکاست ورځ راورسېدله، ټول ایمانداران په یو ځای کې سره راټول شوي وو. ۲ ناڅاپه د اسمان څخه د یو تېز باد په شان یو اواز راغی او په ټول کور کې چې هغوی په کې ناست وو، دا اواز خپور شو. ۳ هلته هغوی ته د اور د لمبو په شان ژبې رابنکاره شوې او په هغوی هر یو باندې نازلې شوې. ۴ هغوی ټول د روح القدس څخه ډک شول او څنګه چې روح القدس هغوی ته د خبرو کولو توان ورکړ، نو په نورو ژبو یې خبرې پیل کړلې.

۵ په هغه وخت کې پرهېزګاره یهودیان چې د نړۍ د هر هېواد څخه راغلي وو، په اورشلیم کې اوسېدل. ۶ کله چې هغوی دا اواز واورېد، نو ډېر خلک سره راټول شول او حیران پاتې شول، ځکه چې هر یو د ایماندارانو خبرې په خپلو ژبو باندې اورېدلې. ۷ هغوی ډېر حیران پاتې وو او ویل یې: «ایا دا ټول جلیلیان نه دي چې خبرې کوي؟ ۸ نو بیا څنګه مونږ هر یو په خپله مورنۍ ژبه د هغوی خبرې اورو؟ ۹ مونږ پارتیانو، مادیانو، ایلامیانو، د بین النهرین اوسېدونکو، د یهودیې او کپدوکیې، پونتوس، د اسیا د ولایت ۱۰ او فریجیې او پمفیلیې، مصر او لیبیا د سیمو څخه چې د قیروان ښار ته نژدې دي، رومي مسافران ۱۱ چې اصلي یهودیان او څوک چې یهودیان شوي دي، کریتیان او عربان یو. خو بیاهم مونږ د هغوی خبرې چې د خدای د حیرانوونکو کارونو په هکله یې کوي په خپلو خپلو ژبو اورو.» ۱۲ هغوی حیران او وارخطا ولاړ وو او یو د بله څخه یې پوښتنه کوله چې دا څه معنی لري؟ ۱۳ خو نورو به ملنډې وهلې او ویل به یې چې دا خلک نشه دي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ بیا پطروس د نورو یوولسو رسولانو سره ودرېده او په لوړ اواز یې د خلکو ګڼې‌ګوڼې ته په وینا
کې وویل: «ای یهودیانو او د اورشلیم اوسېدونکو! زه چې څه وایم، غواړم په هغې باندې پوه شئ او
په غور سره یې واورئ. ۱۵ لکه څنګه چې تاسو فکر کوئ دا خلک نشه نه دي، ځکه چې اوس لا
د سهار نهه بجې دي. ۱۶ بلکې دا هغه څه دي چې یوییل نبي د هغه په هکله ویلي وو:

۱۷ خدای وایي: په اخرو ورځو کې به داسې وشي. زه به خپل روح کړمه نازل په ټولو خلکو
باندې ستاسو لوړګانې او زامن به زما پیغام رسوي ستاسو ځوانان به رویاګانېویني او ستاسو
سپین‌ږیري به خوبونه ویني ۱۸ هو، په هغو ورځو کې حتی په خپلو غلامانو او وینځو باندې به هم
خپل روح نازل کړم او دوی به زما پیغام رسوي. ۱۹ زه به پاس په اسمان کې عجیبه کارونه وښایم
او لاندې په ځمکه باندې حیرانوونکې نښې یعنې وینه، اور او سخت لوګی. ۲۰ مخکې له دې چې
د څښتن ورځ راشي یعنې لویه او د جلال ورځ، نو لمر به په تیاره باندې بدل شي او د سپوږمۍ رنګ
به لکه د وینې په شان سوري شي. ۲۱ نو بیا به داسې وشي چې هرڅوک د څښتن په نوم چې
مرسته وغواړي، هغه به وژغورل شي.

۲۲ ای د اسراییلو خلکو! دې خبرو ته غوږ ونیسئ: ناصري عیسی یو سړی ؤ چې خدای هغه تاسو
ته د معجزو، حیرانوونکو کارونو او نښو له لارې چې خدای د هغه په وسیله ستاسو په منځ کې
وښودلې، ثابته کړه چې هغه څوک دی، لکه څنګه چې تاسو په خپله ورباندې خبر یئ. ۲۳ دا
سړی تاسو ته د خدای د ټینګې ارادې او پوهې له مخې په لاس درکړل شو او تاسو هغه د بدکارانو
په مرسته په صلیب ځوړند او مړ مو کړ. ۲۴ خو خدای هغه بېرته راژوندی کړ او د مرګ د عذاب
څخه یې خلاص کړ، ځکه چې مرګ نه شو کولای هغه په خپلو منګولو کې وساتي. ۲۵ ځکه چې
داود د هغه په هکله ویلي وو:

‹زه وینم چې تل څښتن زما سره دی

هغه موجود دی زما ښي لاس ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زه ونه غورځېږم

۲۶ نو زما زړه دی خوشحال

کله چې کړم خبرې نو ډېر خوشحاله یمه

او اوسې په هیله کې به ارام بدن زما

۲۷ ځکه چې ته به ما پرېنږدې د مړو په دنیا کې

او ته به پرېنږدې مړی د خپل سپېځلي خادم

چې شي خراب

۲۸ تا راته وښودلې لارې د ژوند

په خپل دیدار به کړې ما ډک

د خوشحالیو څخه›

۲۹ ای ګرانو دوستانو! زه کولای شم په پوره ډاډ سره د خپل نیکه داود په هکله تاسو ته ووایم چې
هغه مړ شو او ښخ شو او د هغه قبر تر نن ورځې پورې دلته موجود دی. ۳۰ خو داود پیغمبر ؤ او
پوهېده چې خدای ورسره وعده کړې او قسم یې خوړلی چې د هغه د اولادې څخه به یو کس د
پاچاهی په تخت کښېنوي. ۳۱ داود پوهېده چې څه به کیږي او ویلي یې وو چې مسیح به بیا
راژوندی کیږي. هغه وویل چې خدای به هغه د مړو په دنیا کې پرېنږدي او نه به د هغه مړی خرابېدلو
ته پرېږدي. ۳۲ خدای همدا عیسی د مړو څخه راژوندی کړ او مونږ ټول د دې شاهدان یو. ۳۳
نو بیا عیسی پورته یووړل شو چې د خدای ښي لاس ته کښېني او هغه د اسماني پلار له خوا وعده
شوی روح القدس ترلاسه کړ او په مونږ باندې یې نازل کړ چې اوس یې تاسو وینئ او اورئ. ۳۴
ځکه چې داود خپله اسمان ته نه ؤ پورته شوی، خو هغه وایي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن وویل زما بادار ته

کښېنه زما ښي لاس ته

۳۵ ترڅو ستا دښمنان کړم

ستا د پښو لاندې

۳۶ نو د اسراییلو ټول خلک دې په یقین سره په دې پوه شي چې هغه عیسی چې تاسو په صلیب ځوړند کړی ؤ، خدای هغه ښښتن او مسیح وټاکه.»

۳۷ کله چې خلکو دا واورېدل، نو زړونه یې مات شول. هغوی پطروس او نورو رسولانو ته وویل: «ای ګرانو دوستانو! مونږ باید څه وکړو؟» ۳۸ پطروس هغوی ته وویل: «تاسو هر یو باید د خپلو ګناهونو نه توبه وباسئ او د عیسی مسیح په نوم د تعمید غسل واخلئ، په دې ډول به ستاسو ګناهونه وبخښل شي او روح القدس به د یو نعمت په توګه ترلاسه کړئ. ۳۹ ځکه چې دا وعده ستاسو سره، ستاسو د اولادونو او هغو خلکو سره ده چې په لرې ځایونو کې اوسیږي، یعني د هغو ټولو سره چې زمونږ ښښتن خدای یې خپل ځان ته رابولي.» ۴۰ پطروس هغوی ته نورې ډېرې خبرې وکړې او هغوی ته یې خبرداری ورکړ او ویې ویل: «خپل ځانونه د دې زمانې د بدکارو خلکو څخه وساتئ.» ۴۱ کومو خلکو چې د پطروس پیغام ومانه، نو هغوی ته د تعمید غسل ورکړل شو. په هغه ورځ شاوخوا درې زره کسان د ایماندارانو د ډلې سره یوځای شول.

## د ایماندارانو ژوند

۴۲ ایماندارانو خپل وخت د رسولانو څخه د تعلیم په اورېدلو، د یو بل سره په ملګرتیا، په ګډه سره د ډوډۍ په خوړلو او دعا کولو تېراوه. ۴۳ د هغو حیرانوونکو کارونو او معجزو له امله چې د رسولانو په وسیله به ښودل کېدلې، د ټولو په زړونو کې به وېره پیدا کېدله. ۴۴ ټول ایمانداران به سره راټولېدل او هغوی چې هرڅه لرل نو ټول به په کې شریک وو. ۴۵ هغوی به خپل مال او جایداد خرڅاوه او هر یو ته به یې د هغه د اړتیاوو له مخې پیسې ورکولې. ۴۶ هغوی به هره ورځ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای په کور کې سره راټولېدل او په خپلو کورونو کې به یې په خوشحالۍ او اخلاص یوځای
ډوډۍ خوړله. ۴۷ هغوی به د خدای ثنا ویله او ټول خلک ترې خوشحاله وو او هره ورځ به چې
څومره خلکو خلاصون مونده، نو څښتن به د هغوی په ډله کې شاملول.

## پطروس او یوحنا یو شل سړي ته شفا ورکوي

**۳** ۱ یوه ورځ د ماسپښین درې بجې چې د عبادت وخت ؤ، پطروس او یوحنا د خدای کور ته
تلل. ۲ یو سړی چې له مور نه شل پیدا شوی ؤ، د خدای د کور د هغې دروازې مخې ته چې د
ښکلې دروازې په نوم یادېدله کښېناسته، ترڅو د خلکو څخه چې د خدای کور ته به ننوتل، خیرات
وغواړي. ۳ کله چې هغه شل سړي ولیدل چې پطروس او یوحنا د خدای کور ته ننوځي، نو د
هغوی څخه یې خیرات وغوښت. ۴ پطروس او یوحنا هغه ته په ځیر ځیر وکتل او پطروس ورته
وویل: «مونږ ته وګوره.» ۵ هغه شل سړي هغوی ته وکتل او تمه یې لرله چې د هغوی څخه به
کوم څه ترلاسه کړي. ۶ خو پطروس وویل: «زه سره زر یا سپین زر نه لرم، خو څه چې لرم هغه
تاته درکوم. د ناصري عیسی مسیح په نوم امر کوم چې پاڅېږه او وګرځه.» ۷ بیا پطروس هغه د
ښي لاس څخه ونیوه او د هغه سره یې مرسته وکړه چې ویې دروي. سمدلاسه د هغه په پښو او د
پښو په بندونو کې قوت پیدا شو. ۸ بیا هغه زر پاڅېده او په خپلو پښو ودرېده او روان شو. بیا
هغه سړی د هغوی سره د خدای کور ته ننوت، ګرځېده او ټوپونه یې وهل او د خدای ثنا یې ویله.
۹ ټولو خلکو ولیدل چې هغه ګرځېده او د خدای ثنا یې ویله. ۱۰ کله چې هغوی دا سړی
وپېژانده چې دا هماغه سړی دی چې د خدای د کور د ښکلې دروازې په خوله کې به ناست ؤ او
خیرات به یې غوښته، نو ټول هک حیران شول چې په هغه باندې څه وشول.

## د خدای په کور کې د پطروس وعظ

۱۱ په داسې حال کې چې هغه سړي پطروس او یوحنا کلک نیولي وو، ټولو خلکو په حیرانتیا سره
په هغه ځای کې چې د سلیمان د برنډې په نوم یادېده، د هغوی خواته منډې وهلې. ۱۲ کله چې
پطروس خلک ولیدل، نو هغوی ته یې په وینا کې وویل: «ای د اسراییلو خلکو، تاسو ولې په دې کار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حیران شوئ او ولې مونږ ته داسې ګورئ؟ تاسو فکر کوئ چې دا سړی مونږ په خپل قدرت او
دینداری سره جوړ کړ چې وګرځي؟ ۱۳ د ابراهیم، اسحاق، یعقوب یعنې زمونږ د نیکونو خدای
خپل خدمتګار عیسی ته لویي ورکړې ده. خو تاسو هغه حاکمانو ته په لاس ورکړ او د پیلاتوس په
حضور کې مو د هغه څخه انکار وکړ، که څه هم پیلاتوس پرېکړه کړې وه چې هغه ازاد کړي. ۱۴
تاسو د هغه سپېڅلي او نېک سړي څخه انکار وکړ او د یو قاتل د خوشې کولو غوښتنه مو وکړه.
۱۵ تاسو هغه څوک وواژه چې د ژوندون سرچینه ده، خو خدای هغه بېرته د مرګ څخه راژوندی
کړ او مونږ د دې شاهدان یو. ۱۶ دا د عیسی د نوم قدرت ؤ چې هغه شل سړي ته یې چې تاسو
یې وینئ او پېژنئ، توان ورکړ. د عیسی په نوم او په هغه باندې په ایمان راوړلو سره دا سړی بالکل
روغ شو او تاسو یې وینئ.

۱۷ اوس ای زما ورونو! زه پوهېږم چې تاسو او ستاسو مشرانو دا کار په ناپوهۍ سره کړی دی.
۱۸ خو خدای چې کومه پیشګویي د خپلو پیغمبرانو په وسیله کړې وه چې د خدای مسیح به
تکلیفونه وزغمي، هغه یې پوره کړه. ۱۹ نو توبه وباسئ او د خدای خواته راوګرځئ، ترڅو ستاسو
ګناهونه وبخښل شي. ۲۰ بیا به داسې وختونه راشي چې څښتن تاسو ته روحاني سکون درکړي.
خدای به تاسو ته عیسی چې ستاسو دپاره ټاکل شوی مسیح دی، درولېږي. ۲۱ لکه څنګه چې
خدای د خپلو سپېڅلو پیغمبرانو په وسیله ډېر پخوا وعده کړې وه، عیسی باید تر هغه وخته پورې په
اسمان کې پاتې شي، ترڅو ټول شیان بېرته جوړ شي. ۲۲ څکه چې موسی وویل: ‹ستاسو څښتن
خدای به ستاسو د خپل قوم څخه زما په شان یو پیغمبر درولېږي. هغه چې هرڅه وایي تاسو به ورته
غوږ نیسئ. ۲۳ هرڅوک چې د هغه پیغمبر خبرو ته غوږ ونه نیسي او هغه ونه مني، نو هغه به د
خدای د قوم څخه وویستل شي او له منځه به یوړل شي.› ۲۴ سموییل او نورو ټولو پیغمبرانو چې
د هغه څخه وروسته راغلي دي په دې هکله خبرې کړې وې چې په دې ورځو کې به څه وشي.
۲۵ تاسو د پیغمبرانو وارثان یئ او په هغه لوظ کې شریک یئ چې خدای ستاسو د نیکونو سره
کړی دی، لکه څنګه چې خدای ابراهیم ته وویل: ‹ستا د اولادې په وسیله به د نړۍ ټول خلک برکت
ومومي.› ۲۶ کله چې خدای خپل خدمتګار عیسی وټاکه، نو هغه یې اول تاسو ته درولېږه چې
تاسو هر یو د خپلو بدو لارو څخه راواړوي او برکت درته درکړي.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پطروس او یوحنا د شورا په مخکې

۴ ﴿۱﴾ پطروس او یوحنا لا د خلکو سره خبرې کولې چې په دې وخت کې ځینې کاهنان، د
خدای د کور د ساتونکو قوماندان او ځینې صدوقیان راورسېدل. ﴿۲﴾ هغوی ډېر په قهر وو، ځکه
چې رسولانو خلکو ته تعلیم ورکاوه او اعلان یې کاوه چې عیسی د مړو څخه بیا راژوندی شوی دی
او دا ثابتوي چې مړي به راژوندي کیږي. ﴿۳﴾ هغوی پطروس او یوحنا ونیول، خو له دې امله چې
ماښام ؤ، نو هغوی یې تر سبا ورځې پورې په زندان کې وساتل. ﴿۴﴾ خو ډېرو خلکو چې دا پیغام
واورېد، نو ایمان یې راوړ. د هغوی شمېر نژدې پنځو زرو کسانو ته ورسېده.

﴿۵﴾ بله ورځ د یهودیانو حاکمان، مشران او د شریعت عالمان په اورشلیم کې سره راټول شول. ﴿۶﴾
لوی کاهن حناس او قیافا، یوحنا، سکندر او د لوی کاهن د کورنۍ نور غړي هم هلته وو. ﴿۷﴾
هغوی پطروس او یوحنا راوستل او د شورا په مخکې یې ودرول او پوښتنه یې ترې وکړه: «تاسو په
کوم قدرت او د چا په نوم دا کار کړی دی؟» ﴿۸﴾ پطروس چې د روح القدس څخه ډک شو، هغوی
ته ځواب ورکړ: «ای د قوم حاکمانو او مشرانو: ﴿۹﴾ که چېرې تاسو نن زمونږ څخه د هغه نیک کار
په هکله چې د هغه شل سړي سره مو کړی دی پوښتنه کوئ او غواړئ په دې پوه شئ چې هغه
څنګه روغ شو، ﴿۱۰﴾ نو تاسو ټول او د اسراییلو ټول قوم دې په دې پوه شي چې دا سړی چې
ستاسو په مخکې ولاړ دی، هغه د ناصري عیسی مسیح د نوم په قدرت سره چې تاسو په صلیب
ځوړند کړ او خدای بېرته د مړو څخه راژوندی کړ، روغ شوی دی. ﴿۱۱﴾ عیسی هغه ډبره ده چې
د هغه په هکله د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

کومه تیږه چې رد کړې ګلکارانو وه

هغه اوس شوه اصلي تیږه د تهداب

﴿۱۲﴾ خلاصون یوازې د عیسی په وسیله ترلاسه کېدای شي. ځکه چې په ټوله نړۍ کې بل داسې
څوک نشته چې د هغه په وسیله مونږ خلاصون ومومو.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ کله چې هغوی د پطروس او یوحنا زړورتیا ولیدله او پوه شول چې هغوی عادي او بې‌تعلیمه
خلک دي، نو حیران شول او ویې وپېژندل چې د عیسی ملګري دي. ۱۴ خو څرنګه چې هغوی
هغه سړی ولیده چې روغ رمټ د هغوی په منځ کې ولاړ دی، نو هېڅ یې ونه شو ویلی. ۱۵ نو
هغوی پطروس او یوحنا ته امر وکړ چې د شورا څخه ووځي او بیا یې په خپل منځ کې بحث پیل کړ.
۱۶ هغوی وویل: «دې خلکو سره څه وکړو؟ ځکه چې د اورشلیم ټول خلک پوهېږي چې دا
حیرانوونکې معجزه د هغوی له خوا وشوه او مونږ له هغې څخه منکرېدلی نه شو. ۱۷ خو د دې
دپاره چې دا خبره نوره هم د خلکو په منځ کې خپره نه شي، نو هغوی ته باید خبرداری ورکړو چې
نور د عیسی په هکله د هېچا سره خبرې ونه کړي.»

۱۸ نو هغوی پطروس او یوحنا بیا راوغوښتل او حکم یې ورته وکړ چې نور به هېڅکله د عیسی
په نوم چاته څه نه وایي او نه به تعلیم ورکوي. ۱۹ خو پطروس او یوحنا ځواب ورکړ: «تاسو په
خپله قضاوت وکړئ چې د خدای په نظر کې کومه خبره سمه ده، ایا د خدای څخه اطاعت وکړو او
که ستاسو څخه؟ ۲۰ مونږ چې څه لیدلي او اورېدلي دي د هغې په هکله غلي نه شو پاتې کېدلی.»
۲۱ شورا پطروس او یوحنا ته یوځل بیا سخت خبرداری ورکړ او بیا یې پرېښودل چې لاړ شي.
هغوی داسې کوم دلیل پیدا نه کړ چې دوی ته سزا ورکړي، ځکه څه چې شوي وو د هغې په خاطر
ټولو خلکو د خدای ثنا ویله. ۲۲ کوم سړي چې په دې معجزې شفا موندلې وه د هغه عمر د
څلوېښتو کلونو څخه زیات ؤ.

## د ایماندارانو د زړورتیا دپاره دعا

۲۳ کله چې پطروس او یوحنا رخصت شول، نو هغوی خپلو ملګرو ته لاړل او څه چې مشرانو
کاهنانو او د قوم مشرانو ورته ویلي وو، هغوی ته یې وویل. ۲۴ کله چې ایماندارانو دا واورېدل، نو
په ګډه یې خدای ته دعا وکړه او ویې ویل: «ای څښتن تعالی، ای د اسمان، ځمکې، بحیرو او هرڅه
چې په هغو کې دي، د هغو ټولو خالقه! ۲۵ تا د روح القدس په وسیله د خپل خدمتګار او زمونږ د
نیکه داود په خوله وویل:

‹ولې دومره شول په قهر نور قومونه؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولې بېځايه دسيسې جوړوي دغه قومونه؟

٢٦ تياروي ځانونه جنګ ته پاچاهان د جهان

او يوځای کيږي يو د بله سره حکمرانان

د څښتن او د هغه د مسيح په وړاندې›

٢٧ په حقيقت کې دلته په همدې ښار کې هيروديس او پانتياس پيلاتوس د غيريهوديانو او د اسراييلو د خلکو سره ستا د سپېڅلي خدمتګار عيسی په وړاندې چې تا مسح کړی دی، سره يوځای شوي دي. ٢٨ دوی هغه کارونه وکړل چې تا په خپل قدرت او خپلې ارادې سره مخکې پرېکړه کړې وه چې بايد وشي. ٢٩ اوس ای څښتنه، د هغوی خبرداريو ته وګوره او خپلو خدمتګارانو ته دې دا توان ورکړه چې په پوره زړورتيا سره ستا پيغام بيان کړي. ٣٠ خپل لاس دې رااوږد کړه چې خلک شفا ومومي او ستا د سپېڅلي خدمتګار عيسی په نوم معجزې وښايي او حيرانوونکي کارونه وکړي.» ٣١ کله چې د هغوی دعا پای ته ورسېدله، نو په کوم ځای کې چې هغوی راټول شوي وو، هغه ځای ولړزېده او هغوی ټول د روح القدس څخه ډک شول او د خدای پيغام يې په زړورتيا سره بيان کړ.

## ايمانداران په مال او جايداد کې شريک دي

٣٢ ټول ايمانداران په يو زړه او يو فکر وو. د هغوی څخه يو هم دا دعوه نه کوله چې دا د هغه مال او جايداد دی، بلکې هرڅه چې يې لرل هغوی ټول په کې شريک وو. ٣٣ رسولانو به پوره قدرت سره د څښتن عيسی د بيا راژوندي کېدلو په هکله شهادت ورکاوه او په هغوی ټولو باندې د خدای ډېر فضل ؤ. ٣٤ په هغوی کې هېڅوک هم محتاج نه ؤ، ځکه هرچا چې ځمکه يا کورونه لرل هغه به يې خرڅول او پيسې به يې راوړلې ٣٥ او د رسولانو په اختيار کې به يې ورکولې او د محتاجانو ترمنځ به وېشل کېدلې. ٣٦ د مثال په ډول يو سړی ؤ چې يوسف نومېده او رسولانو به ورته برناباس ويلو چې معنی يې ده تشويق کوونکی دی. هغه يو لاوي ؤ او د قبرس څخه ؤ. ٣٧ هغه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپله ځمکه خرڅه کړله او پیسې یې راوړلې او رسولانو ته یې ورکړې.

## حنانیا او سفیره

**۵** ① خو یو سړی وُ چې حنانیا نومېده او ښځه یې سفیره نومېدله. هغوی خپله یوه ټوټه ځمکه
خرڅه کړه ② او په داسې حال کې چې ښځه یې هم پوهېدله چې هغه یو څه پیسې یې د ځان
سره وساتلې او پاتې پیسې یې رسولانو ته راوړلې. ③ خو پطروس هغه ته وویل: «ای حنانیا، ته
ولې شیطان ته تسلیم شوې او دې ته یې مجبور کړې چې روح القدس ته دروغ ووایې او یو څه
پیسې چې د ځمکې د خرڅولو څخه دې لاسته راوړې دي، خپل ځان ته وساتې؟ ④ ایا د
خرڅولو څخه مخکې هغه ځمکه ستا نه وه؟ کله چې دې خرڅه کړه هغه پیسې ستا نه وې؟ نو بیا
دې څنګه فکر وکړ چې داسې کار وکړې؟ تا انسانانو ته نه بلکې خدای ته دې دروغ ویلي دي.»
⑤ کله چې حنانیا دا خبرې واورېدلې، نو هغه راولوېد او مړ شو. نورو ټولو چې دا واورېدل، ډېر
ووېرېدل. ⑥ بیا یو څو ځوانان راغلل، د هغه مړی یې په کفن کې تاو کړ، هغه یې یووړ او ښخ یې
کړ.

⑦ نژدې درې ساعته وروسته د هغه ښځه سفیره راننوتله او خبره نه وه چې څه شوي دي. ⑧
پطروس د هغې څخه پوښتنه وکړه: «ماته ووایه چې تاسو خپله ځمکه په همدومره پیسو خرڅه کړې
وه؟» هغې ځواب ورکړ: «هو، په همدې پیسو.» ⑨ پطروس هغې ته وویل: «تاسو دواړو څنګه
داسې پرېکړه وکړه چې د خښتن روح وازمایئ؟ ګوره، کومو خلکو چې ستا مېړه ښخ کړ، هغوی
همدااوس په دروازه کې ولاړ دي او هغوی به تا هم یوسي.» ⑩ سمدلاسه هغه ښځه د پطروس په
پښو کې راولوېدله او مړه شوه. کله چې هغه ځوانان راننوتل، نو ویې لیدل چې هغه هلته مړه پرته ده،
نو د هغې مړی یې هم یووړ او د خپل مېړه په خوا کې یې ښخه کړه. ⑪ د کلیسا ټول خلک او نور
کسان چې د دې پېښې نه خبر شول، نو ډېر ووېرېدل.

## د رسولانو معجزې او حیرانوونکې کارونه

⑫ رسولانو د خلکو په منځ کې ډېر حیرانوونکې کارونه وکړل او ډېرې معجزې یې وښودلې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایمانداران به د سلیمان په برنډه کې یوځای سره راټولېدل. ۱۳ که څه هم خلکو هغوی ته په درنه سترګه کتل، خو کوم خلک چې د دوی په ډله کې نه وو، د هغوی څخه هېڅوا هم زړه نه شو کولای چې د ایماندارانو سره یوځای شي. ۱۴ خو بیاهم ډېرو سړیو او ښځو په څښتن باندې ایمان راوړ او د هغوی د ډلې سره یوځای شول. ۱۵ د هغو معجزو له امله چې رسولانو به ښودلې، خلکو به خپل ناروغان کوڅو ته راویستل او په کټونو او بسترو باندې به یې اچولي وو، ترڅو کله چې پطروس له هغه ځای څخه تېرېږي، نو لږ تر لږه د هغه سیوری د هغوی څخه په ځینو باندې ولوېږي. ۱۶ د اورشلیم د شاوخوا ښارګوټو څخه به ډېر خلک راتلل او هغوی به خپل ناروغان او هغه خلک راوستل چې پېریانو نیولي وو او ټول به روغ شول.

## رسولان ځورول کیږي

۱۷ نو بیا د لوی کاهن او د هغوی ټولو ملګرو چې د صدوقیانو د ډلې غړي وو، په زړونو کې کینه پیدا شوه. ۱۸ هغوی رسولان ونیول او د خلکو په مخکې یې په زندان کې واچول. ۱۹ خو په هماغه شپه د څښتن فرښتې د زندان دروازې خلاصې کړې او هغوی یې دباندې راوویستل او ورته وېې ویل: ۲۰ «لاړ شئ او د خدای په کور کې ودرېږئ او خلکو ته د دې نوي ژوندون په هکله پیغام ورسوئ.» ۲۱ لکه څنګه چې رسولانو ته ویل شوي وو، هغوی سهار وختې د خدای کور ته ورننوتل او د تعلیم په ورکولو یې پیل وکړ.

کله چې لوی کاهن او د هغه ملګري سره راټول شول، نو د یهودیانو ټول مشران یې د شورا د غونډې دپاره راوغوښتل. هغوی امر وکړ چې رسولان د زندان څخه راولي. ۲۲ خو کله چې مامورین زندان ته ورغلل، نو هغوی یې په زندان کې پیدا نه کړل. نو بېرته شورا ته راغلل او د شورا غړي یې خبر کړل او ویې ویل: ۲۳ «کله چې مونږ زندان ته ورغلو، نو ومو لیدل چې د زندان دروازې کلکې بندې وې او ټول ساتونکي په دروازه کې ولاړ وو. خو کله چې مونږ دروازې خلاصې کړې، نو دننه په کې هېڅوک نه ؤ.» ۲۴ کله چې مشرانو کاهنانو او د خدای د کور د ساتونکو قوماندان دا خبر واورېد، هغوی حیران شول چې اوس به څه کیږي. ۲۵ بیا یو سړی راغی او هغوی ته یې وویل: «کوم کسان چې تاسو په زندان کې اچولي وو هغوی د خدای په کور کې دي او خلکو ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تعلیم ورکوي.» ۲۶ بیا قوماندان د خدای د کور د ساتونکو سره لاړ او رسولان يې بېرته راوستل. د
هغوی سره يې د زور څخه کار وانخیست، ځکه چې هغوی د دې څخه وېرېدل چې خلک به يې
سنګسار کړي.

۲۷ هغوی رسولان راوستل او د شورا په مخکې يې ودرول او لوی کاهن ورڅخه پوښتنې پیل کړې
او ۲۸ ويې ويل: «مونږ تاسو ته په ټینګه امر کړی ؤ چې د عیسی په نوم تعلیم مه ورکوئ. خو
تاسو خپل تعلیم په ټول اورشلیم کې خپور کړی دی او کوښښ کوئ چې د هغه سړي خون زمونږ په
غاړه واچوئ.» ۲۹ پطروس او نورو رسولانو په ځواب کې وويل: «مونږ باید د خدای امر ومنو، نه
د انسان. ۳۰ زمونږ د نیکونو خدای هغه عیسی بیا راژوندی کړ چې تاسو په صلیب ځوړند کړ او
مړ مو کړ. ۳۱ خدای هغه ته د سردار او خلاصوونکي په توګه د عزت مقام ورکړ او خپل ښي لاس
ته يې کښېناوه، ترڅو د اسراییلو خلکو ته د توبې ویستلو موقعه ورکړي او د هغوی ګناهونه وبخښل
شي. ۳۲ مونږ د دې کارونو شاهدان یو او همدارنګه روح القدس چې خدای هغه چاته ورکړی دی
چې د هغه امر ته غاړه ږدي.»

۳۳ کله چې د شورا غړو دا واورېدل، نو هغوی دومره په قهر شول چې غوښتل يې رسولان ووژني.
۳۴ خو په هغوی کې یو فریسي ؤ چې غمالاییل نومېده. هغه د شریعت استاذ ؤ او ټولو خلکو يې
درناوی کاوه. هغه راپاڅېده او امر يې وکړ چې رسولان دې د لږې شیبې دپاره دباندې وویستل شي.
۳۵ بیا هغه شورا ته وويل: «ای د اسراییلو خلکو! تاسو چې د دې خلکو سره څه کوئ، نو د
احتیاط څخه کار واخلئ. ۳۶ څه موده مخکې یو سړی چې تیوداس نومېده، راپورته شو او دعوه
يې کوله چې زه یو لوی مشر یم. نژدې څلور سوه تنه د هغه سره یوځای شول، خو هغه ووژل شو او
ټول پیروان يې خواره واره شول او هرڅه پای ته ورسېدل. ۳۷ له هغه نه وروسته د سرشمېرنې په
وخت کې د یهودا په نوم یو سړی چې د جلیل څخه ؤ، راپورته شو او ډېر خلک د هغه په لمسون
یاغیان شول، ترڅو د هغه پیروان شي، خو هغه هم ووژل شو او ټول پیروان يې خواره واره شول.
۳۸ نو اوس زه تاسو ته مشوره درکوم چې د دې خلکو څخه لېرې اوسئ او هغوی په خپل حال
پرېږدئ. ځکه که چېرې دا نقشه او دا کار د انسان له خوا وي، نو هغه به ناکام شي، ۳۹ خو که
چېرې د خدای له خوا وي، نو تاسو يې مخه نه شئ نیولی او دا به په دې معنی وي چې تاسو د
خدای سره جنګ کوئ.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی د غمالاییل مشوره ومنله (۴۰) او رسولان یې راوغوښتل، هغوی یې په دورو ووهل او حکم
یې ورته وکړ چې بیا هېڅکله د عیسی په نوم خبرې ونه کړي. بیا یې هغوی پرېښودل چې لاړ شي.
(۴۱) کله چې رسولان د شورا څخه ووتل نو خوشحاله وو، ځکه چې خدای هغوی د دې وړ وګڼل
چې د عیسی د نوم په خاطر بې‌عزتي وزغمي. (۴۲) هغوی هره ورځ د خدای په کور او د خلکو په
کورونو کې تعلیم او زېری ورکاوه چې عیسی هماغه وعده شوی مسیح دی.

## د خدمت دپاره د اووه تنو ټاکل

۶ (۱) په هغو ورځو کې چې د عیسی د پیروانو شمېر زیاتېده، نو یوناني ژبو یهودیانو د عبراني
ژبو یهودیانو څخه شکایت وکړ چې د ورځني خوراک د وېشلو په وخت کې یوناني ژبو یهودي
کونډو ښځو ته خپله برخه نه ورکول کېږي. (۲) نو هغو دولسو رسولانو ټول ایمانداران راوغوښتل
او ویې ویل: «دا زمونږ دپاره مناسبه نه ده چې نورو ته د خوړو د رسولو په خاطر خلکو ته د خدای
د پیغام رسول پرېږدو. (۳) نو ای خویندو او ورونو! د خپل منځ څخه اووه تنه چې نېک نامه او د
روح القدس څخه ډک او د حکمت لرونکي خلک وي غوره کړئ، ترڅو د دې کارونو مسوولیت د
هغوی په غاړه واچوو. (۴) خو مونږ به خپل وخت په دعا کولو او د خدای د کلام په وعظ او تعلیم
ورکولو تېروو.» (۵) د رسولانو دا نظر د ټولو خوښ شو، نو هغوی استیفان چې ډېر ایمانداره سړی
ؤ او د روح القدس څخه ډک ؤ او فیلیپوس، پروکروس، نیکانور، تیمون، پرمیناس او نیکولاوس چې
یهودي شوی ؤ او د سوریې د انطاکیې څخه ؤ، غوره کړل. (۶) هغوی دا کسان رسولانو ته
وروپېژندل او رسولانو د هغوی په سرونو باندې خپل لاسونه کېښودل او د هغوی دپاره یې دعا وکړه.

(۷) نو د خدای کلام په پرله پسې توګه خپرېده او په اورشلیم کې د ایماندارانو شمېر زیاتېده او
ډېرو کاهنانو هم ایمان راوړ.

## د استیفان نیول

(۸) استیفان چې د خدای د فضل او قدرت څخه ډک ؤ، د خلکو په منځ کې به یې ډېر حیرانوونکي
کارونه کول او معجزې به یې ښودلې. (۹) خو ځینې خلک چې د ازادو خلکو په نوم د کنیسې غړي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو چې د قیروان او سکندریې د ښارونو او نور خلک چې د قیلیقیې او اسیا د ولایتونو څخه وو،
راپورته شول او د استیفان سره يې بحث پیل کړ. (۱۰) خو استیفان داسې په حکمت او د روح
القدس په قدرت سره خبرې کولې چې هغوی نه شو کولای د هغه په وړاندې ودرېږي. (۱۱) نو
هغوی ځینې خلک ولمسول چې ووایي: «مونږ واورېدل چې استیفان د موسی او خدای په ضد کفر
ویل.» (۱۲) نو په دې ډول هغوی خلک، مشران او د شریعت عالمان راوپارول او استیفان يې ونیوه
او شورا ته يې راوست. (۱۳) بیا هغوی څو تنه د دروغو شاهدان راوستل او دې شاهدانو وویل: «دا
سړی تل د دې سپېڅلي کور او د موسی د شریعت په خلاف خبرې کوي. (۱۴) مونږ د هغه څخه
واورېدل چې ویل يې: ‹ناصري عیسی به دا د خدای کور وران کړي او کوم دودونه او دستورونه چې
موسی مونږ ته راکړي دي هغه به بدل کړي.›» (۱۵) نو په شورا کې چې کوم خلک ناست وو هغوی
ټولو په ځیر سره استیفان ته کتل او ویې لیدل چې د هغه مخ لکه د فرښتې د مخ په شان ځلېده.

## د استیفان وینا

۷ (۱) لوی کاهن د استیفان څخه پوښتنه وکړه: «ایا دا رښتیا دي؟» (۲) استیفان ځواب ورکړ:
«ای ورونو او پلرونو! ماته غوږ ونیسئ! مخکې له دې چې زمونږ نیکه ابراهیم لاړ شي او په حاران
کې واوسېږي، د جلال خاوند خدای ورته په بین النهرین کې ورښکاره شو (۳) او هغه ته يې وویل:
‹خپل وطن او خپل خپلوان دې پرېږده او هغه هېواد ته لاړ شه چې زه يې درته ښایم.› (۴) نو
ابراهیم د کلدانیانو د وطن څخه لاړ او په حاران کې اوسېده. کله چې د ابراهیم پلار مړ شو، نو خدای
هغه دې وطن ته چې تاسو اوس په کې اوسېږئ، راوست. (۵) خو خدای په هغه وطن کې هغه ته
حتی یو متر مربع ځمکه هم د میراث په توګه ورنه کړه، حتی دومره ځمکه يې هم ورنه کړه چې پښه
ورباندې کېږدي. خو خدای وعده وکړه چې دا ځمکه به هغه ته او د هغه څخه وروسته د هغه اولادې
ته ورکړي چې د هغوی ملکیت شي، که څه هم ابراهیم په هغه وخت کې اولاد نه درلود. (۶) نو
خدای ابراهیم ته داسې وویل: ‹ستا اولاده به په پردي وطن کې د مسافرو په شان اوسېږي. هغوی به
هلته غلامان وي او څلور سوه کاله به ورباندې ظلم کیږي.› (۷) همدارنګه خدای وویل: ‹خو زه به
هغه قوم ته چې ستاسو د اولادې څخه غلامان جوړوي، سزا ورکړم. وروسته به هغوی د هغه وطن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه راووځي او په دې ځای کې به زما عبادت کوي.› ⑧ بیا خدای ابراهیم ته د سنتولو حکم ورکړ چې د لوظ یوه نښه به وي، ترڅو دا وښايي چې هغه په شوي لوظ باندې عمل کړی دی. نو کله چې د ابراهیم زوی اسحاق پیدا شو، نو هغه یې په اتمه ورځ سنت کړ. اسحاق خپل زوی یعقوب سنت کړ او یعقوب خپل دولس زامن چې وروسته بیا د دولسو قبیلو مشران شول، سنت کړل.

⑨ د یعقوب زامنو د خپل ورور یوسف سره بخیلي پیدا کړه او هغه یې په مصر کې د غلام په توګه خرڅ کړ. خو خدای د هغه سره مل ؤ ⑩ او هغه یې له خپلو ټولو تکلیفونو ښخه خلاص کړ. کله چې یوسف د مصر د پاچا فرعون په حضور کې راښکاره شو، خدای په هغه باندې فضل وکړ او هغه ته یې حکمت ورکړ. نو فرعون هغه د ټول مصر واکمن او د خپلې کورنۍ مسوول وټاکه. ⑪ بیا په ټول مصر او کنعان کې قحطي راغله چې د یو لوی مصیبت د رامنځته کېدلو سبب شوه او زمونږ نیکونو د خوراک دپاره څه شی نه شو پیدا کولای. ⑫ نو کله چې یعقوب خبر شو چې په مصر کې غلې دانې پیدا کېږي، نو هغه خپل زامن یعنې زمونږ نیکونه د لومړي ځل دپاره هلته ولېږل. ⑬ کله چې هغوی د دوهم ځل دپاره هلته لاړل، نو یوسف خپل ځان خپلو ورونو ته وروپېژانده او فرعون د یوسف کورنۍ وپېژندله. ⑭ نو یوسف خپل پلار یعقوب او ټول خپلوان چې شمېر یې پنځه اویا تنو ته رسېده، مصر ته راوغوښتل. ⑮ نو یعقوب مصر ته لاړ او هلته هغه او زامن یې یعنې زمونږ نیکونه مړه شول. ⑯ د هغوی مړي شکیم ته یووړل شول او په هغې هدیره کې ښخ کړای شول چې ابراهیم د حمور د زامنو ښخه په بیه اخیستې وه.

⑰ کله چې هغه وخت راورسېد چې خدای د ابراهیم سره خپله کړې وعده پوره کړي، نو په دې وخت کې زمونږ د خلکو شمېر په مصر کې ډېر زیات شو. ⑱ بیا په مصر کې یو بل پاچا په تخت کښېناست چې یوسف یې نه پېژانده. ⑲ هغه زمونږ د نیکونو سره ټګي وکړه، په هغوی باندې یې ظلم کاوه او هغوی یې دې ته مجبور کړل چې خپل نوي زیږېدلي ماشومان د کورونو ښخه دباندې پرېږدي چې مړه شي. ⑳ په دې وخت کې موسی وزیږېده. هغه یو ډېر ښکلی ماشوم ؤ او تر درې میاشتو پورې د هغه پالنه د خپل پلار په کور کې کېدله. ㉑ خو کله چې هغوی مجبور شول چې هغه د کور ښخه دباندې پرېږدي، نو د فرعون لور هغه واخیست او د خپل زوی په شان یې د هغه روزنه کوله. ㉒ موسی د مصریانو د ټول حکمت او پوهې تعلیم حاصل کړ. هغه په خبرو او کارونو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې غښتلی شو.

(۲۳) کله چې موسی څلوېښت کلن شو، نو په زړه کې يې دا وګرځېدل چې د خپلو اسراييلي ورونو
د ليدلو دپاره لاړ شي. (۲۴) کله چې هغه وليدل چې يو مصري د يو اسراييلي سره بد چلند کاوه، نو
هغه ورغی چې د هغه اسراييلي څخه دفاع وکړي او د مصري څخه يې د هغه بدل واخيست او هغه
يې وواژه. (۲۵) موسی فکر کاوه چې د هغه خپل قوم به په دې پوه شي چې د ده په وسيله به خدای
هغوی ته خلاصون ورکوي، خو هغوی پوه نه شول. (۲۶) بله ورځ موسی وليدل چې دوه اسراييليانو
په خپلو کې سره جګړه کوله او هغه هڅه کوله چې د هغوی ترمنځ روغه جوړه وکړي، نو موسی
هغوی ته وويل: ‹ای خلکو! تاسو خو سره ورونه يئ، نو ولې يو د بله سره جګړه کوئ؟› (۲۷) خو
هغه ملامته سړي موسی تېل واهه او ورته ويې ويل: ‹ته چا په مونږ باندې حاکم او قاضي ټاکلی يې؟
(۲۸) ايا ته غواړې چې د پروني مصري په شان ما هم مړ کړې؟› (۲۹) کله چې موسی دا خبره
واورېدله، نو هغه د مصر څخه وتښتېد او مديان ته لاړ او هلته د مسافر په شان اوسېده. هلته د هغه
دوه زامن پيدا شول.

(۳۰) څلوېښت کاله وروسته د سينا غره ته نژدې په يوه دښته کې د يو سوځېدونکي بوټي د اور په
لمبو کې يوه فرښته موسی ته ورښکاره شوه. (۳۱) کله چې موسی هغه وليدله، نو حيران شو. څنګه
چې نژدې ورغی چې هغه ښه ووينې، نو د څښتن اواز يې واورېد: (۳۲) ‹زه ستا د نيکونو خدای يم،
د ابراهيم، اسحاق او يعقوب خدای يم.› موسی له وېرې رېږېده او جرات يې نه شو کولای چې ورته
وګوري. (۳۳) څښتن هغه ته وويل: ‹خپلې څپلی وباسه، ځکه په کومه ځمکه باندې چې ته ولاړ يې
هغه سپېڅلې ده. (۳۴) ما ليدلي دي چې زما په قوم باندې په مصر کې ظلم کيږي. ما د هغوی
فريادونه اورېدلي او زه د هغوی د خلاصون دپاره راښکته شوی يم. اوس راشه، زه تا بېرته مصر ته
لېږم.›

(۳۵) نو دا هماغه موسی دی چې د اسراييلو خلکو رد کړی ؤ او ورته ويلي يې وو: ‹ته چا په مونږ
باندې حاکم او قاضي ټاکلی يې؟› خدای همدا موسی د هغې فرښتې په وسيله چې هغه ته د
سوځېدونکي بوټي د اور په لمبو کې ښکاره شوه، ولېږه ترڅو د اسراييلو د خلکو حاکم او
خلاصوونکی وي. (۳۶) دا موسی ؤ چې هغوی يې د مصر څخه راوويستل او په مصر او سره بحيره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې او څلوېښت کاله يې په دښته کې حيرانوونکي کارونه وکړل او معجزې يې وښودلې. ۳۷ دا هغه موسی دی چې اسراييليانو ته يې وويل: ‹خدای به ستاسو د خپل قوم څخه ستاسو دپاره زما په شان يو پيغمبر درولېږي.› ۳۸ دا موسی ؤ چې په دښته کې زمونږ د نيکونو يعنې د خدای د قوم په غونډه کې د هغوی سره ؤ او فرښتې ورسره د سينا په غره کې خبرې وکړې. هلته هغه د خدای ژوندی کلام ترلاسه کړ چې مونږ ته يې راورسوي.

۳۹ خو زمونږ نيکونو د موسی د منلو څخه انکار وکړ. هغه يې رد کړ او غوښتل يې چې بېرته مصر ته لاړ شي. ۴۰ نو هغوی هارون ته وويل: ‹مونږ ته داسې خدايان جوړ کړه چې زمونږ لارښوونه وکړي. ځکه مونږ نه پوهېږو چې په دې موسی باندې چې مونږ يې له مصر څخه راوويستلو، څه وشول.› ۴۱ په هغه وخت کې هغوی د خوسکي په شکل يو بت جوړ کړ او هغه ته يې قرباني وړاندې کړه او په خپلو لاسونو جوړ شوي شي ته يې خوشحالي وکړه. ۴۲ نو خدای د هغوی څخه مخ واړاوه او هغوی يې پرېښودل چې د اسماني ستورو عبادت وکړي، لکه څنګه چې د پيغمبرانو په کتابونو کې ليکل شوي دي:

ای د اسراييلو قومه! ايا تاسو په دې څلوېښتو کالو کې په دې دښته کې ماته قربانۍ او نذرانې راوړې دي؟ ۴۳ نه، تاسو هغه د مولک بت د عبادت خېمه او د خپل رفان خدای د ستورې تصوير له ځان سره وړئ چې په خپله مو جوړ کړي دي چې عبادت يې وکړئ. نو تاسو به د بابل بلې خواته جلاوطنه کړم.

۴۴ زمونږ نيکونو په دښته کې د شهادت خېمه لرله. دا هغه خېمه وه چې خدای موسی ته حکم کړی ؤ چې د هغې نمونې له مخې چې هغه ته ښودل شوې وه، جوړه کړي. ۴۵ وروسته بيا دا خېمه زمونږ نيکونو ته ورکړل شوه او هغوی دا هغه وخت راوړله کله چې د يوشع سره روان وو او د هغو قومونو ځمکه يې ونيوله چې خدای د هغوی له مخې څخه لېرې کول. دا خېمه د داود تر وخته پورې هلته پاتې وه. ۴۶ خدای د داود څخه خوشحاله ؤ او هغه خدای ته سوال وکړ چې د يعقوب د خدای دپاره د اوسېدلو ځای جوړ کړي. ۴۷ خو دا سليمان ؤ چې د خدای دپاره يې کور جوړ کړ.
۴۸ خو خدای تعالی د انسانانو په لاس جوړ شوي کور کې نه اوسېږي. لکه څنګه چې يو پيغمبر وايي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿۴۹﴾ اسمان زما تخت دی او ځمکه زما د پښو چوکی ده. تاسو به ماته څه ډول کور جوړ کړئ؟
ښښتن وايي: او زما د اوسېدلو ځای چېرته دی؟ ﴿۵۰﴾ ايا دغه ټول شيان ما په خپلو لاسونو باندې
پيدا کړي نه دي؟

﴿۵۱﴾ ای سرزورو خلکو! ستاسو زړونه د کافرو د زړونو په شان دي، د خدای د پيغام اورېدلو ته
کاڼه يئ! تاسو تل د خپلو نيکونو په شان د روح القدس په وړاندې ودرېږئ. ﴿۵۲﴾ ايا داسې کوم
پيغمبر شته چې ستاسو نيکونو ځورولی نه وي؟ هغوی هغه پيغمبران هم ووژل چې د هغه د نېک
خدمتګار د راتګ پېشګويي يې کړې وه او اوس تاسو د هغه سره خيانت وکړ او هغه مو وواژه. ﴿۵۳﴾
تاسو هغه خلک يئ چې شريعت درته د فرښتو په وسيله دروروسېد، خو تاسو ورباندې عمل ونه کړ.»

## د استيفان سنګسارېدل

﴿۵۴﴾ کله چې د شورا غړو د استيفان خبرې واورېدلې، نو ډېر په قهر شول او د قهر له لاسه يې خپل
غاښونه وچيچل. ﴿۵۵﴾ خو استيفان چې د روح القدس څخه ډک ؤ، اسمان ته په ځير وکتل او د
خدای جلال يې وليده او عيسی يې وليده چې د خدای ښې لاس ته ولاړ ؤ. ﴿۵۶﴾ هغه وويل:
«ګورئ! زه وينم چې د اسمان دروازې خلاصې دي او د انسان زوی د خدای ښې لاس ته ولاړ
دی.» ﴿۵۷﴾ د شورا غړو په لوړ اواز سره چيغې ووهلې او خپل غوږونه يې بند کړل او هغوی ټولو په
هغه باندې حمله وکړه ﴿۵۸﴾ او هغه يې د ښار څخه دباندې وويست او سنګسار يې کړ. کومو خلکو
چې د هغه په خلاف شاهدي ورکړې وه خپلې چپنې وويستلې او د شاوول په نوم د يو ځوان په پښو
کې کېښودلې. ﴿۵۹﴾ کله چې هغوی استيفان سنګساراوه، نو هغه دعا وکړه: «ای ښښتنه عيسی! زما
روح قبول کړه.» ﴿۶۰﴾ هغه په ګونډو شو او په لوړ اواز يې چيغې ووهلې: «ای ښښتنه، هغوی په دې
ګناه مه نيسه.» هغه دا خبره وکړه او مړ شو.

۸ ﴿۱﴾ شاوول د هغو کسانو څخه ؤ چې د استيفان په مرګ باندې راضي ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شاوول ايمانداران ځوروي

په هماغه ورځ په اورشليم کې د ايماندارانو سخته ځورونه پيل شوه او پرته له رسولانو ټول ايمانداران د يهوديې او سامرې شاوخوا سيمو ته خواره واره شول. ۲ ځينې پرهېزګاره خلک راغلل او استيفان يې ښخ کړ او په هغه باندې يې ډېر وير وکړ.

۳ خو شاوول کوښښ کاوه چې کليسا ورانه کړي. هغه کور په کور ګرځېده او ښځې او نران به يې له کوره راويستل او په زندان کې به يې اچول.

## په سامره کې زېرى رسول

۴ خو هغه ايمانداران چې هرې خواته خواره واره شوي وو، هرچېرته چې تلل د عيسى په هکله يې پيغام اوراوه. ۵ فيليپوس د سامرې يو ښار ته لاړ او خلکو ته يې د مسيح په هکله وعظ کاوه. ۶ کله چې ګڼ شمېر خلکو د فيليپوس خبرې واورېدلې او هغه معجزې چې هغه ښودلې وليدلې، نو ټولو د هغه خبرو ته په غور سره غوږ نيوه. ۷ د ډېرو خلکو څخه چې پېريانو نيولي وو، پېريان په چيغو چيغو راوتل او ډېر شل او ګوډ خلک روغېدل. ۸ نو په هغه ښار کې لويه خوشحالي وه.

۹ خو په هغه ښار کې د شمعون په نوم يو سړى اوسېده چې د يو څه مودې راهيسې يې د سامرې خلک د خپلې جادو په زور حيران کړي وو او دعوه يې کوله چې هغه يو لوى سړى دى. ۱۰ د ټولو طبقو خلکو يعنې هم لويانو او کوچنيانو د هغه خبرو ته په غور غوږ نيوه او ويل يې: «دا سړى زمونږ د خدايد هغه قدرت ښکارندوى دى چې ورته لوى قدرت وايي.» ۱۱ هغوى ځکه د هغه خبرو ته په غور سره غوږ نيوه چې تر ډېر وخته پورې يې هغوى د خپلې جادو په زور حيران کړي وو. ۱۲ خو کله چې هغوى د فيليپوس په هغه زېرې ايمان راوړ چې د خداى د پاچاهۍ او د عيسى مسيح په هکله يې ووراوه، نو نر او ښځو دواړو د تعميد غسل واخيست. ۱۳ تر دې پورې چې خپله شمعون هم ايمان راوړ، د تعميد غسل يې واخيست او له هغې وروسته به هغه تل له فيليپوس سره ؤ. کله چې هغه د فيليپوس لوى او حيرانوونکي کارونه او معجزې چې هغه ښودلې وليدلې، نو حيران پاتې شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ کله چې په اورشليم کې رسولان خبر شول چې سامريانو د خدای پيغام منلی دی، نو هغوی
پطروس او يوحنا ورولېږل. ۱۵ کله چې هغوی هغه ځای ته ورسېدل، نو د هغو نويو ايماندارانو
دپاره يې دعا وکړه چې روح القدس ورباندې نازل شي. ۱۶ ځکه چې هغوی يوازې د څښتن
عيسی په نوم د تعميد غسل اخيستی ؤ او تر دې وخته پورې لا د هغوی څخه په هېڅ باندې روح
القدس نازل شوی نه ؤ. ۱۷ نو بيا پطروس او يوحنا په هغوی باندې لاسونه کېښودل او هغوی روح
القدس ترلاسه کړ. ۱۸ کله چې شمعون وليدل چې د رسولانو د لاس په اېښودلو روح القدس
ورکول کېږي، نو هغه پطروس او يوحنا ته پيسې وړاندې کړې ۱۹ او ويې ويل: «دا اختيار ماته هم
راکړه چې زه په چا باندې لاس کېږدم او روح القدس ورباندې نازل شي.» ۲۰ خو پطروس ځواب
ورکړ: «ستا پيسې دې ستا سره يوځای تباه شي، ځکه تا فکر کاوه چې د خدای دا نعمت په پيسو
اخيستل کېږي. ۲۱ په دې کار کې ستا نصيب او برخه نشته، ځکه چې ستا زړه د خدای په نظر کې
سم نه دی. ۲۲ نو بيا له خپلو بدو کارونو څخه توبه وباسه او څښتن ته دعا وکړه، کېدای شي چې
هغه تا د دې بدو خيالونو په خاطر چې په زړه کې يې لرې، وبخښي. ۲۳ زه وينم چې ستا زړه
سخت د کينې څخه ډک دی او د ګناه غلام يې.» ۲۴ شمعون پطروس او يوحنا ته په ځواب کې
وويل: «زما په خاطر څښتن ته دعا وکړئ چې څه چې تاسو وويل هغه په ما باندې رانه شي.»

۲۵ کله چې پطروس او يوحنا د څښتن عيسی په هکله شاهدي ورکړه او د هغه پيغام يې اعلان کړ،
نو بېرته اورشليم ته لاړل او په لاره کې يې د سامرې ډېرو کليو ته زيری ورساوه.

## فيليپوس او ايتوپيايي خصي مامور

۲۶ بيا د څښتن فرښتې فيليپوس ته وويل: «پاڅېږه او جنوب خواته په هغه لاره لاړ شه چې د
اورشليم څخه غزې ته تللې ده.» (دا د دښتې يوه لاره ده.) ۲۷ فيليپوس پاڅېده او روان شو. هغه
په لاره کې د يو ايتوپيايي سره چې خصي شوی ؤ او د ايتوپيا د کنداکې د ملکې د دربار د ټولې
خزانې مشر مامور ؤ، مخامخ شو. هغه مامور اورشليم ته د عبادت دپاره راغلی ؤ ۲۸ او اوس بېرته
خپل کور ته روان ؤ. هغه په خپلې ګاډۍ کې ناست ؤ او د اشعيا پيغمبر کتاب يې لوسته. ۲۹ روح
القدس فيليپوس ته وويل: «لاړ شه او هغې ګاډۍ ته ورنژدې شه.» ۳۰ نو فيليپوس د هغه خواته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورمنډه کړه او هغه واورېدل چې هغه سړی د اشعیا پیغمبر کتاب لولي. نو پوښتنه یې ترې وکړه: «ته
چې څه لولي ورباندې پوهېږې؟» ۳۱ هغه ځواب ورکړ: «ترڅو پورې چې کوم څوک یې راته
تشریح نه کړي زه ورباندې څنګه پوهېدلی شم؟» نو هغه د فیلیپوس څخه وغوښتل چې ګاډي ته
وخېژي او د هغه سره کېښيني. ۳۲ هغه چې د خدای د کلام کومه برخه لوستله هغه داسې وه:

هغه سړی د هغه پسه په شان ؤ چې حلالېدلو ته وړل کېده او د هغه وري په شان ؤ چې د
سکولوونکو په مخکې غلی وي او هېڅ نه وايي. ۳۳ هغه سپک کړای شو او انصاف ورسره ونه شو.
څوک کولای شي چې د هغه د اولادې په هکله خبرې وکړي، ځکه چې د هغه ژوند د ځمکې په مخ
پای ته ورسېده.

۳۴ هغه مامور فیلیپوس ته وویل: «زه درته سوال کوم، ماته ووایه چې پیغمبر دلته د چا په هکله
خبرې کوي؟ د خپل ځان په هکله یا د بل چا په هکله؟» ۳۵ بیا فیلیپوس د خدای د کلام د
هماغې برخې څخه پیل کړه او هغه ته یې د عیسی په هکله زېری وواوه. ۳۶ څنګه چې هغوی په
لاره روان وو، نو یو داسې ځای ته ورسېدل چې هلته اوبه وې او هغه مامور وویل: «ګوره چې دلته
اوبه شته، نو څه شی زما د تعمید د غسل اخیستلو مخه نیولی شي؟» [ ۳۷ فیلیپوس وویل: «که
چېرې ته د زړه نه ایمان راوړې، نو بیا کولای شې.» هغه ځواب ورکړ: «زه ایمان لرم چې عیسی
مسیح د خدای زوی دی.»] ۳۸ نو هغه مامور امر وکړ چې ګاډی ودروي. فیلیپوس او هغه دواړه
اوبو ته ورښکته شول او فیلیپوس هغه ته د تعمید غسل ورکړ. ۳۹ کله چې هغوی دواړه له اوبو
څخه راووتل، نو د څښتن روح فیلیپوس بوته او هغه مامور نور فیلیپوس ونه لیده او په خوشحالی
سره په خپله لاره روان شو. ۴۰ خو فیلیپوس پوه شو چې زه د اشدود په ښار کې یم. هغه په ټولو
ښارونو کې ګرځېده او زېری یې ورکاوه، ترڅو قیصریې ته ورسېده.

## شاوول په عیسی باندې ایمان راوړي

۹ ۱ په هماغه وخت کې شاوول لا د څښتن عیسی پیروانو ته د قتل سخت خبرداری ورکولې.
هغه لوی کاهن ته لاړ ۲ او د هغه څخه یې وغوښتل چې د دمشق د کنیسو دپاره لیکونه ورکړي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې که چېرې هلته داسې سړي يا ښځې پيدا کړي چې د څښتن عيسی د لارې پيروان وي، نو هغه
ونيسي او اورشليم ته يې راولي. (٣) کله چې شاوول دمشق ته نژدې کېده، نو ناڅاپه د اسمان څخه
يوه رڼا د هغه شاوخوا وځلېدله. (٤) هغه په ځمکه باندې راولوېد او يو اواز يې واورېد چې ويل
يې: «شاووله، شاووله! ته ولې ما ځوروې؟» (٥) شاوول پوښتنه وکړه: «ای څښتنه، ته څوک يې؟»
ځواب راغی: «زه عيسی يم، يعنې هغه څوک چې ته يې ځوروې. (٦) اوس پاڅېږه او ښار ته لاړ
شه او هلته به تاته وويل شي چې څه بايد وکړې.» (٧) کوم کسان چې د شاوول سره په سفر کې
ملګري وو، غلي ولاړ وو. هغوی اواز واورېد، خو هېڅوک يې ونه ليده. (٨) نو شاوول د ځمکې
څخه راپورته شو او سره له دې چې سترګې يې غړېدلې، خو څه شی يې نه شو ليدلی. نو ملګرو يې
هغه له لاسه ونيوه او دمشق ته يې بوته. (٩) هغه تر درېو ورځو پورې ړوند ؤ او نه يې څه خوړل
او نه يې څښل.

(١٠) په دمشق کې يو ايماندار اوسېده چې حنانيا نومېده. هغه رويا وليدله چې څښتن ورته وويل:
«ای حنانيا!» هغه ځواب ورکړ: «ای څښتنه، زه حاضر يم.» (١١) څښتن هغه ته وويل: «پاڅېږه او
هغې کوڅې ته لاړ شه چې د مستقيمې کوڅې په نوم يادېږي او د يهودا په کور کې د شاوول په نوم د
يو تن څخه چې د ترسوس د ښار څخه دی، پوښتنه وکړه. هغه همدااوس دعا کوي. (١٢) هغه په
رويا کې وليدل چې د حنانيا په نوم يو سړی راځي او د هغه په سر باندې به لاس ږدي، ترڅو هغه
بېرته بينا شي.» (١٣) حنانيا ځواب ورکړ: «ای څښتنه، ډېرو خلکو ماته د دې سړي او د هغو ټولو
بديو په هکله چې هغه په اورشليم کې ستا د خلکو سره کړي دي، ويلي دي. (١٤) او مشرانو کاهنانو
هغه ته اختيار ورکړی چې دمشق ته راشي او هغه ټول خلک چې ستا نوم اخلي، ونيسي.» (١٥) خو
څښتن هغه ته وويل: «لاړ شه، ځکه چې دا سړی يوه وسيله ده چې ما غوره کړې دی، ترڅو زما نوم
غيريهوديانو، د هغوی پاچاهانو او د اسراييلو قوم ته ورورسوي. (١٦) زه به په خپله هغه ته وښايم
چې هغه بايد زما د نوم په خاطر څومره کړاوونه وزغمي.»

(١٧) نو حنانيا روان شو او هغه کور ته ورننوت چې شاوول په کې اوسېده او خپل لاس يې په
شاوول باندې کېښود او ورته ويې ويل: «ای شاووله وروره! کله چې ته دلته راروان وې، نو څښتن
يعنې هماغه عيسی چې تاته په لاره کې درښکاره شو، زه رالېږلی يم چې ته بېرته بينا شې او د روح



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

القدس ښخه ډک شي.» ۱۸ سمدلاسه د شاوول د سترګو ښخه د پوستکو په شان شیان
راوغورځېدل او هغه بېرته بینا شو. بیا هغه راپاڅېده او د تعمید غسل یې واخیست. ۱۹ له هغې
وروسته هغه ډوډۍ وخوړله او بېرته یې قوت پیدا کړ.

## شاوول په دمشق کې وعظ کوي

شاوول یو څو ورځې په دمشق کې د ایماندارانو سره پاتې شو. ۲۰ هغه سمدلاسه کنیسو ته لاړ او
وعظ یې پیل کړ او ویل یې چې عیسی د خدای زوی دی. ۲۱ هرچا چې د هغه خبرې اورېدلې، نو
حیران به شول او پوښتنه به یې کوله: «ایا دا هماغه سړی نه دی چې په اورشلیم کې به یې هغه
خلک له منځه وړل چې د عیسی نوم به یې یاداوه؟ هغه دلته د دې مقصد دپاره نه دی راغلی چې دا
خلک ونیسي او لاس تړلي یې مشرانو کاهنانو ته بوځي؟» ۲۲ خو د شاوول د وعظ کولو قدرت
نور هم زیاتېده او په خپلو قانع کوونکو دلیلونو یې ثابتوله چې عیسی هماغه وعده شوی مسیح دی
او د دمشق یهودیانو ورته ځواب نه شو ویلی.

۲۳ ډېره موده وروسته یهودیان سره راټول شول او دسیسه یې جوړه کړه چې شاوول ووژني. ۲۴
هغوی شپه او ورځ د ښار په دروازو کې څوکیداري کوله، ترڅو هغه ووژني. خو شاوول د هغوی له
دسیسې ښخه خبر شو. ۲۵ نو یوه شپه د شاوول پیروانو هغه په ټوکری کې د ښار د دېوال د سوري
په لاره راښکته کړ.

## شاوول په اورشلیم کې

۲۶ کله چې شاوول اورشلیم ته ورسېده، نو کوښښ یې وکړ چې د نورو ایماندارانو سره یوځای
شي، خو هغوی ټول د هغه ښخه وېرېدل، ځکه چې هغوی په دې باور نه درلود چې شاوول په رښتیا
سره ایماندار شوی دی. ۲۷ بیا برناباس د هغه سره مرسته وکړه او هغه یې رسولانو ته بوته او
هغوی ته یې وویل چې شاوول څنګه دمشق ته په لاره کې ښښتن عیسی ولیده او هغه څنګه د
شاوول سره خبرې وکړلې. همدارنګه برناباس هغوی ته وویل چې شاوول څنګه په دمشق کې په
زړورتیا سره د عیسی په نوم وعظ وکړ. ۲۸ نو شاوول د هغوی سره پاتې شو او په اورشلیم کې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی سره ګرځېده او په زړورتیا سره یې د څښتن عیسی په نوم وعظ کاوه. ۲۹ هغه به د یونانی ژبو یهودیانو سره خبرې او بحث کاوه، خو هغوی کوښښ کاوه چې شاوول ووژني. ۳۰ کله چې ایمانداران د دې څخه خبر شول، نو شاوول یې قیصریې ته بوته او بیا یې هغه د ترسوس ښار ته ولېږه.

۳۱ نو په ټوله یهودیه، جلیل او سامره کې کلیسا ارامه وه او قوي شوه. ایماندارانو د څښتن څخه په وېره کې او د روح القدس په مرسته پرمختګ کاوه او شمېر یې زیاتېده.

## پطروس په لده او یافا کې

۳۲ پطروس به هرځای ته سفر کاوه او یوځل هغه د هغو ایماندارانو د لیدلو دپاره چې د لده په ښار کې اوسېدل، لاړ. ۳۳ په هغه ځای کې هغه د اینیاس په نوم یو سړی ولیده چې شل ؤ او د اتو کالو راهیسې په کټ کې پروت ؤ. ۳۴ پطروس هغه ته وویل: «ای اینیاسه، عیسی مسیح درته شفا درکوي. پاځېږه او بستره دې راټوله کړه.» او هغه سمدلاسه پاځېده. ۳۵ هغو ټولو خلکو چې په لده او شارون کې اوسېدل، اینیاس ولیده او په څښتن عیسی یې ایمان راوړ.

## پطروس طبیتا بېرته راژوندی کوي

۳۶ د یافا په ښار کې یوه ایمانداره ښځه اوسېدله چې طبیتا نومېدله. (په یوناني ژبه کې د هغې د نوم معنی هوسی ده.) هغې تل نېک کارونه کول او د غریبانو سره یې مرسته کوله. ۳۷ په دې وخت کې هغه ناروغه او بیا مړه شوه. خلکو هغې ته غسل ورکړ او پاس په بالاخانه کې یې د هغې مړی کېښود. ۳۸ یافا د لدې څخه ډېره لرې نه وه او ایمانداران خبر شول چې پطروس په لده کې دی، نو هغوی دوه تنه ورولېږل او د هغه څخه یې وغوښتل چې زر تر زره مونږ ته ځان راورسوه. ۳۹ نو پطروس پاځېده او د هغوی سره روان شو. کله چې هغه راورسېده، نو پاس بالاخانې ته یې بوته. ټولې کونډې ښځې د هغه څخه راتاوې شوې، هغوی ژړل او هغه کالي او چپنې چې طبیتا د خپل ژوندانه په وخت کې ګنډلې وو، هغه ته وښودل. ۴۰ پطروس هغوی ټولې له کوټې څخه وویستلې، هغه په ګونډو شو او دعا یې وکړه. بیا یې مړي ته مخ راواړاوه او ویې ویل: «طبیتا پاځېږه!» هغې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې سترګې وغړولې او کله چې يې پطروس وليده، نو کښېناستله. (۴۱) پطروس هغې ته لاس ورکړ
او هغه يې په پښو ودروله. بيا پطروس ټول ايمانداران او کونډې راوغوښتلې او طبيتا يې ورته ژوندۍ
وسپارله. (۴۲) دا خبره په ټوله يافا کې خپره شوه او ډېرو خلکو په څښتن عيسی باندې ايمان راوړ.
(۴۳) پطروس د زيات وخت دپاره د شمعون په نوم د څرمنو جوړوونکي سره په يافا کې پاتې شو.

## کورنيليوس رويا ويني

١٠ (١) په قيصريه کې يو سړی ؤ چې کورنيليوس نومېده او د رومي لښکرو د کنډک چې د
«ايټالوي کنډک» په نوم يادېده، مشر ؤ. (٢) کورنيليوس او د هغه کورنۍ ديندار خلک وو او د
خدای څخه وېرېدل. هغه به غريبو يهوديانو ته ډېر خيراتونه ورکول او تل به يې دعا کوله. (٣) يوه
ورځ د ماسپښين شاوخوا درې بجې هغه رويا وليدله چې د خدای فرښته د هغه خواته راغله او ورته
ويې ويل: «ای کورنيليوسه!» (۴) هغه له وېرې په ځير سره فرښتې ته وکتل او پوښتنه يې ترې
وکړه: «ښاغليه څه وايې؟» فرښتې ځواب ورکړ: «ستا دعاګانې او خيراتونه چې تا ورکړي وو، هغه د
خدای حضور ته ورسېدل او قبول يې کړل. (۵) اوس يو څو کسان يافا ته د شمعون پسې چې
پطروس ورته ويل کيږي، ولېږه چې هغه راولي. (۶) هغه د شمعون څرمن جوړوونکي په کور کې
چې د بحيرې په غاړه دی، مېلمه دی.» (٧) کله چې هغې فرښتې د هغه سره خبرې وکړې نو لاړه،
بيا کورنيليوس خپل دوه نوکران او يو عسکر چې يو ديندار سړی ؤ او د هغه د کور د خدمتګارانو
څخه ؤ، راوغوښتل. (٨) هرڅه چې شوي وو، هغوی ته يې ووېل او هغوی يې يافا ته ولېږل.

## پطروس رويا ويني

(٩) بله ورځ د غرمې په وخت کې چې هغه دوه نوکران او عسکر په لاره کې روان وو او يافا ته
ورسېدل، نو په همدې وخت کې پطروس د دعا کولو دپاره پاس بام ته وخوت. (١٠) هغه وږی شو
او غوښتل يې چې څه وخوري، کله چې ډوډۍ تيارېدله، نو هغه رويا وليدله. (١١) هغه وليدل چې د
اسمان دروازې خلاصې شوې او د يو لوی دسترخوان په شان يو شی چې د څلورو څنډو څخه
راځوړند ؤ او ښکته د ځمکې خواته راروان ؤ. (١٢) په هغه کې هر ډول حيوانات، خزندې او مرغان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. ﴿١٣﴾ بیا یو اواز راغی او هغه ته یې وویل: «ای پطروسه، پاڅېږه! هغه حلال کړه او ویې خوره.»
﴿١٤﴾ خو پطروس وویل: «څښتنه! هېڅکله نه، ما هېڅکله هم حرام او ناپاکه شی نه دی خوړلی.»
﴿١٥﴾ په دوهم ځل بیا اواز راغی: «کوم شیان چې خدای حلال ګرځولي دي، هغه حرام مه ګڼه.»
﴿١٦﴾ درې ځلې همداسې وشول او بیا هغه دسترخوان بېرته پورته اسمان ته یووړل شو.

﴿١٧﴾ پطروس حیران پاتې ؤ چې د دې رویا معنی څه ده، چې په دې وخت کې هغو کسانو چې کورنیلیوس لېږلي وو، د شمعون کور پیدا کړ او هغوی د دروازې په مخکې ودرېدل. ﴿١٨﴾ هغوی نارې کړې او پوښتنه یې وکړه: «ایا شمعون چې پطروس ورته هم وایي، دلته مېلمه دی؟» ﴿١٩﴾ پطروس لا د دې رویا په هکله فکر کاوه چې روح القدس ورته وویل: «ګوره، درې سړي تا لټوي. ﴿٢٠﴾ پاڅېږه او لاندې راښکته شه او د هغوی سره په تللو کې زړه نازړه کېږه مه، ځکه چې هغوی ما درلېږلي دي.» ﴿٢١﴾ نو پطروس لاندې ښکته شو او هغوی ته یې وویل: «زه هماغه سړی یم چې تاسو یې لټوئ. تاسو د څه دپاره راغلي یئ؟» ﴿٢٢﴾ هغوی ځواب ورکړ: «مونږ قوماندان کورنیلیوس رالېږلي یو. هغه یو نېک او داسې سړی دی چې له خدایه وېرېږي او د ټولو یهودیانو په نظر کې ډېر عزتمن سړی دی. د خدای فرښتې هغه ته ویلي وو چې تا خپل کور ته راوغواړي او څه چې وایې هغه یې واوري.» ﴿٢٣﴾ نو پطروس هغوی کور ته راوستل او مېلمانه یې کړل.

## د کورنیلیوس او پطروس لیدنه

بله ورځ پطروس پاڅېده او د هغوی سره روان شو او د یافا څو ایمانداران هم ورسره ملګري وو.
﴿٢٤﴾ په بله ورځ هغوی قیصریې ته ورسېدل. کورنیلیوس هغوی ته په تمه ؤ او خپل خپلوان او خپل نژدې ملګري یې هم راغوښتي وو. ﴿٢٥﴾ څنګه چې پطروس کور ته ورننوت، کورنیلیوس د هغه مخې ته ورووت او د هغه په پښو کې پرېوت او سجده یې ورته وکړه. ﴿٢٦﴾ خو پطروس هغه د ځمکې څخه راپورته کړ او ورته ویې ویل: «راپاڅېږه، زه هم ستا په شان یو انسان یم.» ﴿٢٧﴾ په داسې حال کې چې پطروس د هغه سره خبرې کولې، کور ته ننوت او ویې لیدل چې هلته ډېر خلک راټول شوي وو. ﴿٢٨﴾ پطروس هغوی ته وویل: «تاسو ته ښه معلومه ده چې د یهودیانو دپاره دا ناروا ده چې د غیریهودیانو سره ناسته ولاړه او یا ملګرتیا وکړي. خو خدای ماته دا راښودلې دي چې زه باید هېڅوک هم ناپاکه او نجس ونه ګڼم. ﴿٢٩﴾ کله چې زه تاسو راوغوښتلم، نو پرته له کوم اعتراضه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغلم. خو اوس پوښتنه کوم چې تاسو ولې زه راوغوښتلم؟»

۳۰ کورنیلیوس وویل: «څلور ورځې کیږي چې په همدې وخت کې یعنې د ماسپښین په درې بجو زه په خپل کور کې په دعا کولو بوخت وم چې ناڅاپه یو سړی چې ځلېدونکې کالي یې اغوستي وو، زما په مخکې ودرېده ۳۱ او ویې ویل: ‹ای کورنیلیوسه! خدای ستا دعاګانې قبولې کړې دي او هغه خیراتونه یې قبول کړي دي چې غریبانو ته یې ورکوې. ۳۲ اوس یو څو کسان د شمعون پسې چې پطروس ورته ویل کیږي، یافا ته ولیږه چې هغه راولي. هغه د بحیرې په غاړه د شمعون څرمن جوړوونکي په کور کې مېلمه دی.› ۳۳ نو سمدلاسه مې تا پسې سړي درولیږل او تا ډېر ښه کار وکړ چې دلته راغلې. نو اوس مونږ ټول دلته د خدای په حضور کې حاضر یو چې د هرڅه په هکله چې ښختن تاته حکم کړی دی، هغه واورو.»

## غیریهودیانو ته د پطروس وینا

۳۴ پطروس خپلې خبرې پیل کړې او ویې ویل: «زه اوس پوه شوم چې دا رښتیا دي چې خدای د هېچا طرفداري نه کوي. ۳۵ په هر قوم کې چې هرڅوک الله خدایه وېرېږي او سم کارونه کوي، خدای هغه مني. ۳۶ تاسو پوهېږئ چې خدای خپل پیغام د اسراییلو قوم ته ورولیږه او د سولې او سلامتی زېری یې د عیسی مسیح په وسیله چې د ټولو ښختن دی، اعلان کړ. ۳۷ تاسو پوهېږئ چې په ټوله یهودیه کې څه وشول. دا پېښه د یحیی د تعمید د غسل د اعلانولو څخه وروسته له جلیل څخه پیل شوه. ۳۸ او تاسو خبر یئ چې خدای څنګه ناصري عیسی په روح القدس او په خپل قدرت سره مسح کړ. هغه به هرځای ته تللو او د خلکو سره به یې نېکي کوله او کوم خلک چې د شیطان په بند کې وو هغوی ته به یې شفا ورکوله، ځکه چې خدای ورسره مل ؤ. ۳۹ مونږ د هغو ټولو کارونو شاهدان یو چې عیسی د یهودیانو په وطن او اورشلیم کې وکړل. هغوی عیسی په صلیب باندې ځوړند کړ او ویې واژه. ۴۰ خو خدای هغه په درېمه ورځ بېرته راژوندی کړ او خلکو ته یې ښکاره کړ، ۴۱ ټولو خلکو ته نه، بلکې یوازې هغو شاهدانو ته چې خدای له مخکې نه غوره کړي وو، یعنې مونږ ته چې د هغه د بیا راژوندي کېدلو څخه وروسته مو ورسره وخوړل او وڅښل. ۴۲ عیسی مونږ ته حکم کړی چې خلکو ته وعظ وکړو او دا شهادت ورکړو چې دا هغه څوک دی چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای په مړو او ژوندیو باندې قاضي ټاکلی دی. ۴۳ د هغه په هکله ټول پیغمبران شاهدي ورکوي او وايي چې هرڅوک چې په هغه باندې ایمان راوړي، نو د هغه په نوم به يې ګناهونه وبخښل شي.»

## په غیریهودیانو باندې د روح القدس نازلېدل

۴۴ پطروس لا خبرې کولې چې په هغو ټولو خلکو باندې چې د هغه خبرې يې اورېدلې، روح القدس نازل شو. ۴۵ هغه یهودي ایمانداران چې د پطروس سره راغلي وو، په دې حیران شول چې د روح القدس نعمت په غیریهودیانو هم نازل شو. ۴۶ ځکه چې دوی اورېدل چې هغوی په نااشنا ژبو خبرې کولې او د خدای لويي يې بیانوله. بیا پطروس وویل: ۴۷ «ایا داسې څوک شته چې دا خلک چې زمونږ په شان يې روح القدس ترلاسه کړی دی په اوبو باندې د تعمید غسل د اخیستلو څخه منع کړي؟» ۴۸ نو پطروس امر وکړ چې هغوی ته دې د عیسی مسیح په نوم د تعمید غسل ورکړل شي. بیا هغوی د پطروس څخه وغوښتل چې یو څو ورځې د هغوی سره پاتې شي.

## پطروس د اورشلیم کلیسا خبروي

۱۱ ۱ په ټوله یهودیه کې رسولان او ایمانداران خبر شول چې غیریهودیانو هم د خدای پیغام منلی دی. ۲ کله چې پطروس بېرته اورشلیم ته راغی، نو یوې ډلې چې د غیریهودیانو د سنتولو غوښتونکې وو په هغه باندې اعتراض وکړ ۳ او ویل يې: «ته ولې د ناسنت شویو خلکو کور ته لاړې او د هغوی سره دې ډوډۍ هم وخوړله؟» ۴ نو څه چې پېښ شوي وو، پطروس ټکي په ټکي هغوی ته بیان کړل. ۵ هغه وویل: «زه د یافا په ښار کې وم او دعا مې کوله چې بې‌هوښه شوم او رویا مې ولیدله چې د یو لوی دسترخوان په شان یو شی چې د څلورو څنډو څخه راځوړند ؤ او د اسمان نه د ځمکې خواته راښکته کېده او ما پورې راورسېده. ۶ کله چې ما ورته په غور سره وکتل، نو په هغه کې کورني حیوانات او وحشي ځناور، خزندې او مرغان وو. ۷ بیا مې یو اواز واورېد چې ویل يې: ‹ای پطروسه! پاڅېږه، هغه حلال کړه او ويې خوره.› ۸ خو ما ورته وویل: ‹څښتنه! هېڅکله نه، ما هېڅکله هم کوم حرام یا ناپاکه شی خولې ته نه دی وروړی.› ۹ د اسمان څخه یوځل بیا اواز راغی چې ویل يې: ‹کوم شیان چې خدای حلال ګرځولي دي، ته يې باید



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حرام ونه ګڼې.› ۱۰ درې ځلې داسې وشول او بیا هغه ټول شیان بېرته اسمان ته یووړل شول. ۱۱
په هماغه شېبه کې درې تنه چې د قیصریې څخه رالېږل شوي وو، هغه کور ته راورسېدل چې مونږ
په کې اوسېدلو. ۱۲ روح القدس راته وویل چې په دې هکله اندېښنه مه کوه چې هغوی
غیریهودیان دي. بیا دا شپږ ایمانداران هم زما سره لاړل او مونږ ټول د کورنیلیوس کور ته ورننوتلو.
۱۳ هغه مونږ ته وویل چې څنګه یې په خپل کور کې یوه فرښته ولیدله چې ولاړه وه او هغه ته یې
وویل: ‹یو څوک یافا ته ولېږه او شمعون چې پطروس ورته ویل کېږي، راوله. ۱۴ هغه به تاته یو
پیغام واوروي چې د هغه په وسیله به ته او ستا ټوله کورنۍ خلاصون ومومئ.› ۱۵ کله چې ما
خبرې پیل کړې، نو په هغوی باندې روح القدس نازل شو لکه څنګه چې لومړی ځل په مونږ باندې
نازل شوی ؤ. ۱۶ بیا ماته را په یاد شول څه چې څښتن عیسی ویلي وو: ‹یحیی به په اوبو باندې د
تعمید غسل ورکاوه، خو تاسو ته به په روح القدس د تعمید غسل درکول کېږي.› ۱۷ که خدای
هغوی ته هماغه نعمت ورکړی دی چې مونږ ته یې په هغه وخت کې راکړ چې په څښتن عیسی
مسیح باندې مو ایمان راوړ، نو بیا زه څوک وم چې خدای مې د دې کار نه منع کړی وای؟» ۱۸
کله چې هغوی دا خبرې واورېدلې، نو غلي پاتې شول. هغوی د خدای په ثنا او صفت کولو پیل وکړ
او ویل یې: «نو بیا خدای حتی غیریهودیانو ته هم دا موقعه ورکړې ده چې توبه وباسي او تلپاتې
ژوندون ولري.»

## د سوریې په انطاکیه کې کلیسا

۱۹ د هغې ځورونې له امله چې د استیفان د مړینې نه وروسته پیل شوه، ځینې ایمانداران خواره
واره شول او د فنیقیې، قبرس او انطاکیې پورې لاړل. هغوی خپل پیغام یوازې یهودیانو ته ورساوه.
۲۰ خو د قبرس او قیروان ځینې ایمانداران چې انطاکیې ته لاړل، د یونانیانو سره یې هم خبرې
وکړې او هغوی ته یې د څښتن عیسی په هکله زېری ورساوه. ۲۱ د څښتن قدرت د هغوی سره ؤ
او زیات شمېر خلکو ایمان راوړ او د څښتن عیسی پیروان شول.

۲۲ دا خبر د اورشلیم کلیسا ته ورسېد او هغوی برناباس انطاکیې ته ولېږه. ۲۳ کله چې هغه
راورسېده او ویې لیدل چې خدای څنګه خلکو ته برکت ورکړ، نو ډېر خوشحاله شو او هغوی یې
وهڅول چې ټول د زړه له کومې څښتن ته وفادار پاتې شي، ۲۴ ځکه چې برناباس یو مهربانه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرې او د روح القدس څخه ډک او د ټینګ ایمان خاوند ؤ. په دې ځای کې ډېرو خلکو په څښتن
باندې ایمان راوړ. ۲۵ بیا برناباس د ترسوس ښار ته لاړ چې شاوول ولټوي. ۲۶ چې کله یې
شاوول پیدا کړ، نو هغه یې انطاکیې ته راوست او برناباس او شاوول پوره یو کال هلته د ایماندارانو
سره یوځای کېدل او ډېرو خلکو ته یې تعلیم ورکاوه. او همدلته په انطاکیه کې ؤ چې د لومړي ځل
دپاره ایمانداران د مسیحیانو په نوم یاد شول.

۲۷ په همدې وخت کې ځینې پیغمبران د اورشلیم څخه انطاکیې ته راغلل. ۲۸ په هغوی کې یو
تن چې اګابوس نومېده، ودرېده او د روح القدس په وسیله یې پېشګویي وکړه چې په ټوله نړۍ کې به
سخته قحطي راشي. دا قحطي د کلودیوس امپراتور په زمانه کې راغله. ۲۹ د انطاکیې ایماندارانو
پرېکړه وکړه چې هر یو به د خپل توان سره سم هغو ایماندارانو ته چې په یهودیه کې اوسېږي، مرسته
ورلېږي. ۳۰ هغوی همداسې وکړل او خپلې مرستې یې د برناباس او شاوول په لاس د اورشلیم د
کلیسا مشرانو ته ولېږلې.

## د یعقوب وژنه او د پطروس بندي کېدل

**۱۲** ۱ په هماغه وخت کې هیرودیس پاچا د کلیسا د ځینو غړو په ځورولو پیل وکړ. ۲
هغه د یوحنا ورور یعقوب په توره باندې وواژه. ۳ کله چې هیرودیس ولیدل چې یهودیان په دې
کار خوشحاله شول، نو پطروس یې هم ونیوه. دا کار د فطیرې ډوډۍ د اختر په ورځو کې وشو. ۴
کله چې هغه پطروس ونیوه، نو په زندان کې یې واچاوه او هغه یې څلورو ډلګیو ته چې په هر یو کې
څلور څلور عسکره وو، وسپاره چې ساتنه یې وکړي. هیرودیس د دې نیت درلود چې د فسحې د
اختر څخه وروسته هغه د ټولو خلکو په مخکې محاکمه کړي. ۵ نو پطروس یې په زندان کې
وساته، خو ایماندارانو د زړه له کومې د هغه دپاره خدای ته دعاګانې کولې.

## پطروس له زندان څخه خلاصیږي

۶ یوه شپه مخکې چې هیرودیس غوښتل پطروس د محاکمې دپاره راولي، پطروس د دوو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عسکرو په منځ کې په دوو زنځیرونو تړلی ویده پروت ؤ او ساتونکو د زندان په دروازه کې پهره کوله. ۷ ناڅاپه د څښتن فرښته راښکاره شوه او په کوټه کې رڼا وځلېدله. فرښتې د پطروس اوږه وخوځوله او هغه يې راويښ کړ او ورته ويې ویل: «زر شه، پاڅېږه.» سمدلاسه د پطروس د لاسونو څخه زنځیرونه ولوېدل. ۸ بیا فرښتې هغه ته وویل: «ملا دې وتړه او څپلۍ دې په پښو کړه.» پطروس همداسې وکړل. بیا فرښتې هغه ته وویل: «خپله چپنه دې واغونده او ما پسې راځه.» ۹ پطروس راووت او په هغې پسې روان شو. هغه نه پوهېده چې دا هرڅه رښتیا دي، ځکه هغه فکر کاوه چې روياويني. ۱۰ هغوی د لومړی او دوهمې پوستې څخه تېر شول او د اوسپنې هغې دروازې ته ورسېدل چې د ښار خواته وتلې وه. دروازه په خپله خلاصه شوه او هغوی دباندې راووتل. هغوی په یوه کوڅه کې روان وو او ناڅاپه فرښته د پطروس له سترګو پناه شوه. ۱۱ بیا پطروس په هوش راغی او ويې ویل: «اوس پوره باور لرم چې څښتن خپله فرښته راولېږله او زه يې د هیرودیس او له هغه څه نه چې یهودیانو يې تمه درلوده، خلاص کړم.»

۱۲ کله چې هغه پوه شو، نو هغه د مریم کور ته لاړ چې د یوحنا مرقوس مور وه. هلته زیات شمېر خلک د دعا دپاره راټول شوي وو. ۱۳ کله چې پطروس د کور دروازه وټکوله، نو د رودا په نوم یوه وینځه راغله چې دروازه خلاصه کړي. ۱۴ هغې د پطروس اواز واورېد او دومره خوشحاله شوه چې د دې په ځای چې دروازه ورته خلاصه کړي، هغې بېرته دننه منډه کړه او هغوی يې خبر کړل چې پطروس دباندې په دروازه کې ولاړ دی. ۱۵ هغوی ورته وویل: «ته لېونۍ شوې يې.» خو هغه په خپله خبره باندې ټینګه ولاړه وه چې همداسې ده. بیا هغوی وویل: «دا به د هغه فرښته وي!»
۱۶ خو پطروس په پرله پسې توګه دروازه ټکوله او کله چې هغوی دروازه خلاصه کړه او هغه يې ولیده، نو حیران پاتې شول. ۱۷ خو پطروس د لاس په اشاره هغوی ته وویل چې غلي شئ او هغوی ته يې دا کیسه وکړه چې څښتن څنګه هغه د زندان څخه راوویست. هغه وویل چې یعقوب او نور ایمانداران له دې څخه خبر کړئ. بیا هغه روان شو او بل ځای ته لاړ.

۱۸ کله چې سهار شو، نو هغه ساتونکي عسکر ډېر وارخطا شول چې په پطروس باندې څه وشول.
۱۹ هیرودیس امر وکړ چې پطروس ولټوي، خو هغه يې پیدا نه کړ. هغه د ساتونکو څخه پوښتنې وکړې او د هغوی د اعدام حکم يې ورکړ. له هغې وروسته هیرودیس د یهودیې څخه لاړ او د څه مودې دپاره په قیصریه کې پاتې شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د هیرودیس مړینه

۲۰ هیرودیس د صور او صیدون په خلکو ډېر په قهر ؤ. هغوی سره راټول شول او هغه ته ورغلل.
لومړی هغوی بلاستوس چې د پاچا د ماڼۍ ناظر ؤ، په دې راضي کړ چې د هغوی سره به مرسته
وکړي. بیا هغوی د هیرودیس څخه وغوښتل چې روغه جوړه ورسره وکړي، ځکه چې د دوی وطن
ته خوراکي شیان د هیرودیس پاچا د وطن څخه راتلل. ۲۱ نو په یوې ټاکلې ورځ هیرودیس خپل
د پاچاهۍ کالي واغوستل، په تخت باندې کېښناست او هغوی ته یې وینا پیل کړه. ۲۲ خلکو چیغې
وهلې: «دا د خدای اواز دی، نه د انسان.» ۲۳ سمدلاسه د څښتن فرښتې هیرودیس وواهه، ځکه
چې کوم جلال چې باید خدای ته ورکړل شوی وای، هغه خپل ځان ته ورکړ. هغه چینجیو وخوړ او
مړ شو.

۲۴ خو په همدې وخت کې د خدای کلام خپرېده او ډېر خلک ایمانداران شول. ۲۵ نو برناباس
او شاوول خپله وظیفه سرته ورسوله او د اورشلیم څخه بېرته انطاکیې ته راستانه شول او د ځان سره
یې یوحنا چې بل نوم یې مرقوس ؤ، بوتلو.

## د انطاکیې کلیسا برناباس او شاوول د خدمت دپاره لېږي

**۱۳** ۱ د انطاکیې په کلیسا کې ځینې پیغمبران او استاذان وو لکه برناباس، شمعون چې د تور په
نوم یادېده، لوکیوس قیرواني او مناحم چې د هیرودیس پاچا سره لوی شوی ؤ او شاوول هم د هغوی
سره ؤ. ۲ یوه ورځ چې هغوی د څښتن عبادت کاوه او روژه یې نیولې وه، روح القدس ورته
وویل: «برناباس او شاوول د هغه کار دپاره چې ما راغوښتي دي، وقف کړئ.» ۳ بیا هغوی د
روژې نیولو او دعا کولو څخه وروسته د هغو دواړو په سرونو باندې لاس کېښود او هغوی یې د هغه
کار دپاره ولېږل.

## برناباس او شاوول په قبرس کې

۴ نو برناباس او شاوول دواړه د روح القدس په وسیله ولېږل شول. هغوی چلندیې ته لاړل او له



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځای څخه په کشتۍ کې قبرس ته لاړل. ۵ کله چې هغوی سلامیس ته ورسېدل، نو د
یهودیانو په کنیسو کې یې د خدای د کلام وعظ کاوه. یوحنا د هغوی مرستیال ؤ.

۶ هغوی تر پافوس پورې په ټوله جزیره کې وګرځېدل او په هغه ځای کې هغوی د یو یهودي
جادوګر سره مخامخ شول چې بریشوع نومېده او د پیغمبرۍ دعوه یې کوله. ۷ هغه د قبرس د
والي سرګیوس پولوس ملګری ؤ چې یو هوښیار سړی ؤ. هغه برناباس او شاوول خپل حضور ته
راوغوښتل، ځکه چې غوښتل یې د هغوی څخه د خدای کلام واوري. ۸ خو هغه جادوګر چې
یوناني نوم یې الیما ؤ، د هغوی سره مخالفت وکړ او کوښښ یې کاوه چې والي ایمان رانه وړي. ۹
خو شاوول چې د پولوس په نوم هم مشهور ؤ، د روح القدس څخه ډک شو او جادوګر ته یې په ځیر
سره وکتل ۱۰ او ویې ویل: «ای د شیطان زویه! ای د ټولو نېکیو دښمنه! ای ټګ انسانه او د هر
ډول شرارت څخه ډکه! ایا ته به هېڅکله هم د څښتن د سمې لارې څخه د خلکو د بې‌لارې کولو
څخه لاس وانه خلې؟ ۱۱ اوس ګوره، څښتن به تاته سزا درکړي او ته به ړوند شې او تر یو وخته
پورې به د لمر رڼا نه وینې.» نو سمدلاسه د هغه په سترګو باندې خړه او تیاره راغله او لاس او پښې
یې ټپولې چې څوک راشي او له لاسه یې ونیسي او هغه بوځي. ۱۲ کله چې والي دا هرڅه ولیدل
نو ایمان یې راوړ، ځکه چې هغه د څښتن په هکله په دې تعلیم ډېر حیران شو.

## پولوس او برناباس د پیسیدیه په انطاکیه کې

۱۳ پولوس او د هغه ملګري د پافوس څخه روان شول او په کشتۍ کې پرجې ته چې په پمفیلیه
کې ده، لاړل. خو یوحنا د هغوی څخه بېل شو او بېرته اورشلیم ته ستون شو. ۱۴ پولوس او
برناباس د پرجې څخه روان شول او انطاکیې ته چې په پیسیدیه کې ده، ورسېدل. د سبت په ورځ
هغوی کنیسې ته لاړل او هلته کښېناستل. ۱۵ د تورات او پیغمبرانو د لیکنو د لوستلو څخه وروسته
د کنیسې مشرانو هغوی ته دا پیغام ورولېږه: «ای ورونو، که چېرې تاسو د خلکو د هڅولو دپاره کوم
پیغام لرئ، نو هغه ووایئ.»

۱۶ پولوس پاڅېده، په لاس یې اشاره وکړه او ویې ویل: «ای د اسراییلو خلکو او ای غیریهودیانو
چې له خدایه وېرېږئ، زما خبرو ته غوږ ونیسئ. ۱۷ د اسراییلو د خلکو خدای زمونږ نیکونه غوره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل او کوم وخت چې هغوی په مصر کې د پردیو په شان اوسېدل، نو د هغوی څخه یې یو لوی قوم
جوړ کړ. بیا یې په خپل لوی قدرت سره هغوی د مصر څخه راوویستل ۱۸ او نژدې څلوېښت کاله
یې په دښته کې د هغوی چلند وزغملو. ۱۹ هغه په کنعان کې اووه قومونه له منځه یووړل او د
هغوی خاوره یې د میراث په توګه خپل قوم ته ورکړه. ۲۰ دا هرڅه نژدې څلور سوه او پنځوس
کالو کې وشول. له هغې وروسته یې د سموییل پیغمبر تر زماني پورې د هغوی دپاره قاضیان وټاکل.
۲۱ او کله چې هغوی د خپل ځان دپاره پاچا وغوښت، نو خدای ورته د قیس زوی شاوول چې د
بنیامین د قبیلې څخه ؤ، ورکړ او هغه څلوېښت کاله پاچاهي وکړه. ۲۲ کله چې خدای شاوول لېرې
کړ، نو داود یې د اسراییلو پاچا کړ. خدای د داود په هکله داسې وویل: ‹ما ولیدل چې د یسي زوی
داود داسې سړی دی چې زما د زړه نه خبر دی او هرڅه چې زه وغواړم هغه به یې سرته رسوي.›
۲۳ نو د همدې داود د نسل څخه خدای د خپلې وعدې له مخې عیسی د اسراییلو د قوم
خلاصوونکي په توګه راولېږه. ۲۴ د عیسی د راتللو څخه مخکې یحیی د اسراییلو ټول قوم ته وعظ
وکړ چې د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي او د تعمید غسل واخلي. ۲۵ کله چې یحیی خپله وظیفه
سرته ورسوله، هغه وویل: ‹تاسو څه فکر کوئ چې زه څوک یم؟ زه هغه څوک نه یم چې تاسو یې
انتظار کوئ. خو زما څخه وروسته هغه څوک راروان دی چې زه د هغه د څپلیو د تسمو د خلاصولو
لیاقت هم نه لرم.›

۲۶ ای ورونو! ای د ابراهیم اولادې، او ای غیریهودیانو چې له خدایه وېرېږئ! مونږ هغه خلک یو
چې د خلاصون دا پیغام راته رالېږل شوی دی. ۲۷ د اورشلیم خلکو او د هغوی مشرانو نه عیسی
وپېژانده او نه هغوی د پیغمبرانو په پیغام باندې پوه شول چې د هر سبت په ورځ لوستل کېږي. خو
هغوی د عیسی په محکومولو سره د پیغمبرانو پېشګویانې پوره کړلې. ۲۸ سره له دې چې کوم
داسې جرم یې پیدا نه کړ چې هغه ته دې د مرګ سزا ورکړل شي، خو د پیلاتوس څخه یې وغوښتل
چې هغه اعدام کړي. ۲۹ کله چې هغوی هغه ټول شیان چې د هغه په هکله لیکل شوي وو سرته
ورسول، نو هغه یې د صلیب څخه راښکته کړ او په قبر کې یې کېښود. ۳۰ خو خدای هغه بېرته
راژوندی کړ ۳۱ او کوم خلک چې د هغه سره د جلیل څخه اورشلیم ته راغلي وو، تر ډېرو ورځو
پورې هغوی ته ورښکاره شو او هغوی اوس د اسراییلو د خلکو په مخکې د هغه شاهدان دي. ۳۲
اوس مونږ تاسو ته هغه زېری اوروو چې خدای زمونږ د نیکونو سره وعده کړې وه. ۳۳ خدای دا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وعده زمونږ دپاره چې د هغوی اولاده یو، د مړو نه د عیسی په بیا راژوندي کولو سره پوره کړه. لکه ښنګه چې په دوهم زبور کې لیکل شوي دي:

ته مې زوی، زه دې نن پلار شوم.

۳۴ خدای هغه د مړو څخه راژوندی کړ او دې ته يې پرېنښود چې مړی يې په قبر کې خراب شي. او په دې هکله خدای داسې وويل:

زه به تاته هغه ځانګړي او يقيني برکتونه درکړم چې د داود سره مې وعده کړې وه.

۳۵ او د زبور په بل ځای کې داود وايي:

ته به پرېنږدې مړی

د خپل سپېڅلي خادم چې شي خراب

۳۶ ځکه چې داود په خپله زمانه کې د خدای اراده پوره کړه او بیا مړ شو او د خپلو نیکونو سره ښخ کړای شو او مړی يې په قبر کې خراب شو. ۳۷ خو کوم کس چې خدای د مړو څخه راژوندی کړ، د هغه مړی خراب نه شو. ۳۸-۳۹ نو ای زما ورونو! تاسو باید په دې پوه شئ چې د ګناهونو د بخښنې پيغام د عیسی په وسیله تاسو ته اعلانیږي او هرڅوک چې په هغه باندې ایمان راوړي، هغه به د هغو ټولو ګناهونو څخه خلاص شي چې د موسی شریعت ونه شو کولای هغه ته خلاصون ورکړي. ۴۰ نو پام کوئ چې پیغمبرانو چې څه ویلي دي هغه په تاسو عملي نه شي:

۴۱ ګورئ ای ملنډو وهونکو! حیران او تباه شئ، ځکه چې زه به ستاسو په ژوندانه کې يو داسې کار وکړم، که څوک يې تاسو ته بیان هم کړي، نو باور به ورباندې ونه کړئ.»

۴۲ کله چې پولوس او برناباس د کنیسې څخه وتل، نو خلکو ورڅخه وغوښتل چې د راتلونکې سبت په ورځ بیا راشي او د دې شیانو په هکله دوی ته خبرې وکړي. ۴۳ کله چې غونډه پای ته ورسېدله، نو ډېر یهودیان او هغه دینداره خلک چې یهودیان شوي وو، د پولوس او برناباس سره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روان شول. پولوس او برناباس د هغوی سره خبرې وکړې او هغوی يې وهڅول چې تل د خدای په فضل باندې توکل ولري.

۴۴ د راتلونکي سبت په ورځ د ښار نږدې ټول اوسېدونکي راغلل چې د څښتن عيسی پيغام واوري. ۴۵ کله چې ځينو يهوديانو دا ګڼه‌ګوڼه وليدله، نو بخيلي ورسره پيدا شوه. هغوی د پولوس د خبرو سره مخالفت پيل کړ او هغه ته يې سپکاوی وکړ. ۴۶ خو پولوس او برناباس په زړورتيا سره خبرې کولې او ويل يې: «دا ضروري وه چې د خدای پيغام لومړی تاسو ته واورول شي. خو څرنګه چې تاسو هغه ونه مانه او خپل ځانونه مو د تلپاتې ژوندون وړ ونه ګڼل، نو مونږ به اوس تاسو پرېږدو او غيريهوديانو ته به ورشو. ۴۷ نو ځکه څښتن مونږ ته داسې حکم وکړ:

زه به ستا څخه د غيريهوديانو دپاره رڼا جوړه کړم، ترڅو ته ټولې نړی ته د خلاصون وسيله وګرځې.»

۴۸ کله چې غيريهوديانو دا خبرې واورېدلې، نو ډېر خوشحاله شول او د څښتن عيسی د پيغام ستاينه يې وکړه او کوم خلک چې د تلپاتې ژوندون دپاره غوره کړای شوي وو، هغوی ايمان راوړ.
۴۹ د څښتن پيغام په هغه ټوله سيمه کې خپور شو. ۵۰ خو يهوديانو ديندراه او عزتمندې ښځې او د ښار مشران د پولوس او برناباس په خلاف داسې ولمسول چې د هغوی په ځورولو يې پيل وکړ او د خپلې سيمې څخه يې وشړل. ۵۱ نو پولوس او برناباس د خپلو پښو خاورې د هغه ښار د خلکو په وړاندې د نښې په توګه وڅنډلې او د قونيې ښار ته لاړل. ۵۲ خو د هغه ځای ايمانداران د خوشحالی او روح القدس څخه ډک شول.

## پولوس او برناباس په قونيه کې زيری خپروي

**۱۴** ۱ په همدې ډول په قونيه کې پولوس او برناباس د يهوديانو کنيسې ته ورغلل او داسې خبرې يې وکړې چې زيات شمېر يهوديانو او غيريهوديانو ايمان راوړ. ۲ خو هغو يهوديانو چې ايمان يې نه ؤ راوړی، غيريهوديان ولمسول او د هغوی ذهنونه يې د ايماندارانو په وړاندې خراب کړل. ۳ نو پولوس او برناباس د اوږدې مودې دپاره هلته پاتې شول او په زړورتيا سره يې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن عیسی په هکله خبرې کولې. ښښتن عیسی هغوی ته د حیرانوونکو کارونو او معجزو د ښودلو قدرت ورکړ او ثابته یې کړه چې د هغوی پیغام د هغه د فضل په هکله رښتیا ؤ. ۴ خو د ښار خلک په دوو ډلو ووېشل شول: ځینې د یهودیانو په خوا او ځینې د رسولانو په خوا شول. ۵ بیا ځینو غیریهودیانو او یهودیانو د خپلو مشرانو سره یوځای دا پرېکړه وکړه چې رسولان وځوروي او سنګسار یې کړي. ۶ کله چې رسولان له دې څخه خبر شول، نو د لیکاونیا د لستره او دربې ښارونو او شاوخوا سیمو ته وتښتېدل. ۷ هلته هغوی د زېرې رسولو ته دوام ورکړ.

## په لستره کې شل سړي ته شفا ورکول

۸ په لستره کې یو سړی ؤ چې له مور نه شل پیدا شوی ؤ او هېڅکله په خپلو پښو نه ؤ ګرځېدلی. ۹ هغه هلته ناست ؤ او د پولوس خبرو ته یې غوږ نیولی ؤ. پولوس هغه ته په ځیر سره کتل او ویې لیدل چې هغه په دې ایمان لري چې روغ به شي، ۱۰ نو په لوړ اواز یې هغه ته وویل: «په خپلو پښو باندې سم ودرېږه.» هغه سړی زر پاڅېده او په ګرځېدلو یې پیل وکړ. ۱۱ کله چې خلکو د پولوس دا کار ولیده، نو په خپله لیکاونیایي ژبه یې چیغې ووهلې: «خدایان د انسانانو په څېره کې مونږ ته راښکته شوي دي.» ۱۲ هغوی برناباس د مشتري او پولوس یې د عطارد په نوم یاد کړ، ځکه چې پولوس د هغوی مشر ویاند ؤ. ۱۳ د مشتري کاهن چې د عبادت ځای یې ښار ته مخامخ ؤ، د ښار دروازې ته غویان راوستل او د ګلانو امېلونه یې راوړل، ځکه چې هغه او د ښار خلکو غوښتل چې برناباس او پولوس ته قرباني وړاندې کړي.

۱۴ کله چې رسولان یعنې برناباس او پولوس له دې نه خبر شول، نو خپل کالي یې وشکول او د خلکو منځ ته یې منډې کړې او چیغې یې ووهلې: ۱۵ «ای خلکو! تاسو ولې داسې کار کوئ؟ مونږ هم ستاسو په شان انسانان یو. مونږ ستاسو دپاره یو زېری لرو، ترڅو د دې بېګټې شیانو څخه لاس واخلئ او ژوندي خدای ته راوګرځئ چې اسمان، ځمکه، بحیرې او هرڅه چې په هغو کې دي پیدا کړي دي. ۱۶ په تېرو زمانو کې خدای ټول قومونه پرېښودل چې څه ورته ښه ښکاري هماغه کار وکړي. ۱۷ خو بیاهم هغه تل په خپلو نېکو کارونو سره خپل شتون ثابت کړی دی، یعنې هغه په تاسو باندې د اسمان څخه باران وروي او په خپل موسم کې فصلونه درکوي. هغه تاسو ته پریمانه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواړه هم درکوي او ستاسو زړونه د خوشحالی څخه ډکوي.» ۱۸ په دې خبرو رسولانو په سختۍ سره وکولای شول چې خلک د قربانۍ کولو څخه منع کړي.

۱۹ بیا له انطاکیې او قونیې څخه ځینې یهودیان راغلل او خلک یې خپل طرفداران کړل او پولوس یې سنګسار کړ. هغوی فکر کاوه چې مړ دی، نو په راښکلو یې د ښار څخه دباندې وویست. ۲۰ خو کله چې ایمانداران د پولوس په شاوخوا راټول شول، نو هغه راپاڅېده او بېرته ښار ته لاړ او بله ورځ هغه د برناباس سره دربې ته لاړ.

د پیسیدیه انطاکیې ته د پولوس او برناباس بېرته راستنېدل

۲۱ کله چې پولوس او برناباس په دربه کې زېرى ووراوه، نو ډېر خلک یې د عیسی پیروان کړل. بیا هغوی بېرته لستره، قونیې او انطاکیې ته لاړل. ۲۲ هغوی د ایماندارانو زړونه کلکول او هغوی یې هڅول چې په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شي او هغوی ته به یې ویل چې د خدای پاچاهۍ ته د ورننوتلو دپاره باید ډېر تکلیفونه وزغمو. ۲۳ پولوس او برناباس په هره کلیسا کې مشران وټاکل او په دعا کولو او روژې نیولو یې هغوی هغه څښتن عیسی ته وسپارل چې ایمان یې ورباندې راوړی ؤ.

۲۴ بیا هغوی د پیسیدیې څخه تېر شول او پمفیلیې ته راغلل. ۲۵ کله چې هغوی په پرجه کې د خدای کلام ووراوه، نو بیا اتالیې ته لاړل. ۲۶ له هغه ځای څخه په کشتۍ کې بېرته انطاکیې ته لاړل، یعنې هماغه ځای ته چې هغوی په کې د هغې وظیفې دپاره د خدای فضل ته سپارل شوي وو چې اوس یې سرته ورسوله.

۲۷ کله چې هغوی انطاکیې ته ورسېدل، نو د کلیسا خلک یې راټول کړل او هغوی یې د هغو کارونو څخه خبر کړل چې خدای د هغوی په وسیله سرته رسولي وو او دا چې خدای څنګه غیریهودیانو ته د ایمان راوړلو دپاره لاره خلاصه کړې وه. ۲۸ برناباس او پولوس هلته د ډېر وخت دپاره د ایماندارانو سره پاتې شول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په اورشليم کې لويه غونډه

۱۵ ۱ ځيني خلک د يهوديې څخه انطاکيې ته راغلل او ايماندارانو ته يې تعليم ورکاوه او ويل
يې: «که تاسو د موسی د شريعت له مخې سنت نه شئ، نو خلاصون نه شئ موندلی.» ۲ پولوس
او برناباس د هغوی سره موافق نه وو او ډېر سخت بحث يې ورسره وکړ او پرېکړه يې وکړه چې
پولوس او برناباس دې د نورو ايماندارانو سره اورشليم ته لاړ شي او د دې موضوع په هکله دې د
رسولانو او نورو مشرانو سره خبرې وکړي.

۳ هغوی د انطاکيې د کليسا له خوا ولېږل شول او په داسې حال کې چې هغوی د فنيقيې او
سامرې نه تېرېدل، ايمانداران يې خبرول چې څنګه غيريهوديانو ايمان راوړ. نو د دې خبر په اورېدلو
ټول ايمانداران ډېر خوشحاله شول. ۴ کله چې پولوس او برناباس اورشليم ته ورسېدل، نو د
کليسا د غړو، رسولانو او مشرانو له خوا ورته تود هرکلی ووېل شو او بيا يې هغوی د هغو ټولو
کارونو څخه خبر کړل چې خدای د هغوی په وسيله سرته رسولي وو. ۵ خو د فريسيانو د ډلې
ځيني ايمانداران راپاڅېدل او ويې ويل: «غيريهوديان بايد سنت کړای شي او هغوی ته دې امر وشي
چې د موسی په شريعت باندې عمل وکړي.»

۶ رسولان او مشران سره راټول شول چې د دې موضوع په هکله خبرې وکړي. ۷ د يو اوږد
بحث څخه وروسته پطروس پاڅېده او هغوی ته يې ووېل: «ای ورونو، تاسو پوهېږئ چې څه موده
مخکې زه خدای ستاسو له منځ څخه غوره کړم چې غيريهوديان زما د خولې نه د عيسی مسيح په
هکله زېری واوري او ايمان راوړي. ۸ خدای چې د هرچا د زړه څخه خبر دی، هغوی ته يې د
روح القدس د ورکولو په وسيله دا ثابته کړه چې خدای هغوی هم منلي دي لکه څنګه يې چې مونږ
منلي يو. ۹ خدای زمونږ او د غيريهوديانو ترمنځ هېڅ فرق ونه کړ او د ايمان د راوړلو په وسيله
يې د هغوی زړونه پاک کړل. ۱۰ نو بيا ولې تاسو اوس خدای ازمايئ او د دې ايماندارانو په اوږو
باندې داسې بار ږدئ چې نه يې مونږ او نه يې زمونږ نيکونه وړلی شي؟ ۱۱ خو مونږ په دې عقيده
يو چې مونږ يهوديانو د څښتن عيسی په فضل خلاصون موندلی دی، همدا ډول غيريهوديانو هم
خلاصون موندلی دی.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ د غونډې ټول خلک غلي پاتې شول او د برناباس او پولوس خبرو ته يې غوږ ونيوه چې د
هغو ټولو معجزو او حيرانوونکي کارونو په هکله يې کولې چې خدای د هغوی په وسيله په
غيريهوديانو کې ښودلي وو. ۱۳ کله چې د برناباس او پولوس خبرې پای ته ورسېدلې، يعقوب
وويل: «ای ورونو، زما خبرو ته غوږ ونيسئ. ۱۴ شمعون مونږ ته ويلي وو چې خدای څنګه د
لومړي ځل دپاره د غيريهوديانو سره علاقه وښودله او د هغوی له منځ نه يې د خپل ځان دپاره يو
قوم غوره کړ. ۱۵ دا د پيغمبرانو د خبرو سره سمون خوري، لکه څنګه چې د خدای په کلام کې
ليکل شوي دي:

۱۶ له هغې وروسته به زه بېرته راستون شم. بېرته به د داود وران شوی کور اباد او قوي کړم، ۱۷
ترڅو نور انسانان ښښتن ته رجوع وکړي يعنې ټول غيريهوديان چې ما خپل کړي دي. دا هغه څه
دي چې ښښتن يې وايي ۱۸ چې دا شيان يې له پخوا نه ښکاره کړي دي.»

۱۹ يعقوب زياته کړه: «دا زما پرېکړه ده چې مونږ بايد هغه غيريهوديان په تکليف نه کړو چې د
خدای خواته راګرځي، ۲۰ بلکې د دې په ځای هغوی ته ليک وليکو او ورته ووايو چې داسې
خواړه ونه خوري چې په مذهبي توګه ناپاک وي، ځکه چې هغه بتانو ته وړاندې شوي دي او خپل
ځانونه د جنسي بدو اړيکو څخه وساتي او د داسې حيواناتو غوښه ونه خوري چې زندی شوي وي
او همدارنګه وينه ونه خوري. ۲۱ ځکه چې د پخوا زمانې راهيسې په هر ښار کې د موسی د قانون
په هکله وعظ کيږي او هغه په کنيسو کې د هر سبت په ورځ لوستل کيږي.»

## غيريهودي ايماندارانو ته ليک لېږل

۲۲ بيا رسولانو، مشرانو او د کليسا ټولو غړو دا پرېکړه وکړه چې د خپل منځ نه يو څو کسان
غوره کړي او هغوی د پولوس او برناباس سره انطاکيې ته ولېږي. نو هغوی دوه کسان يعنې يهودا چې
د برسابا په نوم يادېده او سيلاس چې د ايماندارانو له خوا يې ډېر درناوی کېده، غوره کړل ۲۳ او د
هغوی په لاس يې دغه ليک ولېږه:

«مونږ رسولان او مشران تاسو ټولو غيريهودي ايماندارانو ته چې په انطاکيه، سوريه او قيليقيه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې اوسېږئ، خپل سلامونه وایو.
۲۴ مونږ اورېدلي چې ځینو خلکو چې زمونږ د ډلې څخه تللي دي، تاسو په خپلو خبرو
پرېشانه کړي يئ او ستاسو فکرونه يې ګډوډ کړي دي، خو هغوی مونږ نه دي درلېږلي. ۲۵
نو مونږ ټولو په ګډه پرېکړه وکړه چې يو څو کسان غوره کړو او د خپلو ګرانو دوستانو
برناباس او پولوس سره يې تاسو ته درولېږو، ۲۶ يعنې هغه خلک چې خپل ځانونه يې
زمونږ د څښتن عیسی مسیح ته د خدمت دپاره په خطر کې اچولي دي. ۲۷ نو له دې امله
مونږ یهودا او سیلاس تاسو ته درولېږل چې هغوی په خپله خوله باندې تاسو ته هغه څه
ووايي چې مونږ لیکلي دي. ۲۸ دا د روح القدس او زمونږ په نظر کې ښه ښکاره شوه چې
پرته له دې لاندېنیو ضروري شیانو په تاسو باندې نور بار وانه چوو: ۲۹ تاسو باید هغه
خواړه چې بتانو ته وړاندې کېږي ونه خورئ، وينه او د هغو حيواناتو غوښه ونه خورئ چې
زندی شوي وي او خپل ځانونه د جنسي بداخلاقی څخه وساتئ. که تاسو خپل ځانونه د دې
شیانو څخه وساتئ، نو دا به ښه کوئ. د خدای پامان.»

۳۰ نو کله چې یهودا او سیلاس رخصت کړای شول، انطاکیې ته لاړل او د کلیسا ټول غړي يې سره
راټول کړل او هغه لیک يې ورته ورکړ. ۳۱ کله چې خلکو هغه ولوست، نو هغوی په دې تشویق
کوونکي پیغام باندې ډېر خوشحاله شول. ۳۲ یهودا او سیلاس چې په خپله پیغمبران وو، په خپلو
زیاتو خبرو هغوی تشویق او تکړه کړل. ۳۳ هلته د څه وخت تېرولو نه وروسته هغوی د ایماندارانو
له خوا په خیریت سره رخصت شول او بېرته هغو خلکو ته ورغلل چې دوی يې لېږلي وو. ۳۴-
۳۵ خو پولوس او برناباس په انطاکیه کې پاتې شول او هلته يې د ډېرو نورو سره يوځای تعلیم
ورکاوه او د څښتن عیسی پیغام يې اوراوه.

## د پولوس او برناباس بېلېدل

۳۶ څه موده وروسته پولوس برناباس ته وويل: «راځئ چې بېرته لاړ شو او په هغو ټولو ښارونو
کې چې مونږ په کې د څښتن عیسی پیغام اورولی ؤ، د ایماندارانو سره لیدنه کتنه وکړو او وګورو چې
هغوی څنګه دي.» ۳۷ برناباس غوښتل چې یوحنا چې د مرقوس په نوم یادېده هم د ځان سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بوځي. ۳۸ خو پولوس دا مناسبه نه ګڼله چې مرقوس د ځان سره بوځي، ځکه چې هغوی يې په
پمفيليا کې پرېښې وو او د کار تر پايه پورې د هغوی سره پاتې نه شو. ۳۹ د پولوس او برناباس
ترمنځ يوه داسې سخته شخړه راپيدا شوه چې د يو بل نه بېل شول. برناباس مرقوس د ځان سره
واخيست او په کشتۍ کې قبرس ته روان شول. ۴۰ خو پولوس سيلاس خوښ کړ او وروسته له
هغې چې ايماندارانو هغوی د څښتن فضل ته وسپارل، هغوی روان شول. ۴۱ کله چې پولوس د
سوريې او قيليقيې له لارې تېرېده، نو کليساګانو ته يې ډاډګېرنه ورکوله.

## د پولوس او سيلاس سره د تيموتاوس ملګرتيا

۱۶ ۱ پولوس دربې او لسترې ته ورسېده او په لستره کې يې وليدل چې د تيموتاوس په نوم
يو ايماندار اوسېده چې مور يې يهودۍ ايمانداره وه، خو پلار يې يوناني ؤ. ۲ د لسترې او قونيې
ايماندارانو د هغه صفت کاوه. ۳ پولوس غوښتل چې تيموتاوس د ځان سره بوځي، نو هغه يې د
هغو ځايونو د يهوديانو په خاطر سنت کړ. هغه ځکه داسې وکړل چې ټولو ته معلومه وه چې د
تيموتاوس پلار يوناني ؤ. ۴ کله چې هغوی د يو ښار نه بل ښار ته سفر کاوه، نو کومې پرېکړې
چې رسولانو او مشرانو په اورشليم کې کړې وې، هغه يې ايماندارانو ته رسولې، ترڅو عمل ورباندې
وکړي. ۵ نو کليساګانې په ايمان کې قوي کېدلې او د ايماندارانو شمېر ورځ په ورځ زياتېده.

## په تروآس کې د پولوس رويا

۶ هغوی د فريجيې او غلاتيې د سيمو څخه تېر شول، ځکه چې روح القدس هغوی د اسيا په
ولايت کې د څښتن عيسی د پيغام ورکولو څخه منع کړي وو. ۷ کله چې هغوی د ميسيه سرحد
ته ورسېدل، نو کوښښ يې وکړ چې د بتونيې ولايت ته لاړ شي، خو د عيسی روح يعنې روح القدس
هغوی ته اجازه ورنه کړه. ۸ نو هغوی د ميسيه څخه تېر شول او د تروآس ښار ته لاړل. ۹ په
هماغه شپه پولوس رويا وليدله چې يو مقدونی سړی ولاړ دی او هغه ته زاري کوي او وايي:
«مقدونيې ته راپورې وځه او زمونږ سره مرسته وکړه.» ۱۰ څنګه چې پولوس دا رويا وليدله، نو
مونږ سمدلاسه تيار شولو چې مقدونيې ته لاړ شو. ځکه مونږ دې نتيجې ته ورسېدلو چې خدای مونږ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رابللي يو چې د هغه ځای خلکو ته زېرى ورسوو.

## په فيليپي کې د ليديه ايمان راوړل

۱۱ په ترواس کې په کشتۍ کې سپاره شو او سيده د ساموتراکې جزيرې ته لاړو او په بله ورځ د
نياپوليس ښار ته لاړو. ۱۲ له هغه ځای څخه فيليپي ته چې د مقدونيې د لومړی ناحيې يو ښار ؤ
او د روميانو مستعمره وه، لاړو او د يو څو ورځو دپاره په هغه ښار کې پاتې شو. ۱۳ د سبت په
ورځ مونږ د ښار له دروازې نه ووتلو او د سيند غاړې ته چې مونږ فکر کاوه د يهوديانو د دعا کولو
ځای به وي، لاړو. هلته کښېناستلو او په هغه ځای کې مو د راټولو شويو ښځو سره خبرې وکړې.
۱۴ په هغو ښځو کې چې زمونږ خبرو ته يې غوږ ايښی ؤ د يوې نوم ليديه وه چې د بانجاني قيمتي
ټوټو سوداګره او د تياتيرا د ښار اوسېدونکې وه. هغه داسې ښځه وه چې د خدای عبادت يې کاوه او
څښتن د هغې ذهن جوړ کړ څه چې پولوس وايي هغه ومنې. ۱۵ بيا هغې او د هغې کورنۍ ته د
تعميد غسل ورکړل شو او هغې مونږ خپل کور ته راوبللو او ويې ويل: «که چېرې تاسو ما د څښتن
عيسی رښتينې ايمانداره ګڼئ، نو راشئ او زمونږ په کور کې پاتې شئ.» هغې ټينګار وکړ چې ورسره
لاړ شو.

## پولوس او سيلاس د فيليپي په زندان کې

۱۶ يوه ورځ مونږ د دعا کولو ځای ته تللو چې د يوې وينځې سره مخامخ شولو چې داسې پېريان
يې لرل چې د هغو په مرسته به يې فال کتلو. هغې به له دې لارې خپلو بادارانو ته ډېرې پيسې ګټلې.
۱۷ هغه پولوس او مونږ پسې راروانه وه او چيغې به يې وهلې: «دا د خدای تعالی خدمتګاران دي.
هغوی تاسو ته د خلاصون لاره ښايي.» ۱۸ هغې هره ورځ دا کار کاوه، تر هغې چې پولوس دومره
تنګ شو چې مخ يې راواړاوه او هغو پېريانو ته يې وويل: «زه درته د عيسی مسيح په نوم امر کوم
چې د هغې نه راووځئ.» نو په هماغه ساعت پېريان د هغې څخه راووتل.

۱۹ کله چې د هغې وينځې باداران پوه شول چې د هغوی د پيسو ګټلو هيله له منځه لاړه، نو هغوی
پولوس او سيلاس ونيول او په راښکلو يې حاکمانو ته د محاکمې دپاره د بازار چوک ته راوستل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ هغوی یې رومي لوړرتبه مامورینو ته راوستل او ویې ویل: «دا خلک یهودیان دي او دوی زمونږ په ښار کې ګډوډي جوړوي. ۲۱ دوی د هغو دودونو او دستورونو په هکله تعلیم ورکوي چې منل او په هغو باندې عمل کول یې مونږ رومیانو دپاره روا نه دي.» ۲۲ خلک د هغې وینځې د بادارانو سره یوځای شول او په پولوس او سیلاس باندې یې حمله وکړه او مامورینو امر وکړ چې د دوی کالي وباسي او په کوتکونو یې ووهي. ۲۳ د سختو وهلو او ټکولو څخه وروسته یې پولوس او سیلاس په زندان کې واچول او د زندان مشر ته یې وویل چې د هغوی کلکه څارنه وکړي. ۲۴ د دې امر له مخې د زندان مشر هغوی په یوې ډېرې خوندي کوټه کې واچول او پښې یې ورته د لرګیو په کونډو پورې په زنځیرونو وتړلې.

۲۵ نژدې نیمه شپه وه چې پولوس او سیلاس دعا کوله او خدای ته یې روحاني سندرې ویلې او نورو بندیانو ورته غوږ نیولی ؤ ۲۶ چې ناڅاپه یوه سخته زلزله وشوه چې د زندان بنیادونه یې ولړزول. سمدلاسه د زندان ټولې دروازې خلاصې شوې او د ټولو بندیانو زنځیرونه مات شول. ۲۷ کله چې د زندان مشر راویښ شو او ویې لیدل چې د زندان دروازې خلاصې دي، نو فکر یې وکړ چې بندیان به تښتېدلي وي، نو خپله توره یې راوویستله او نژدې ؤ چې خپل ځان ووژني. ۲۸ خو پولوس په زوره چیغې ووهلې: «خپل ځان ته دې زیان ونه رسوې، ځکه چې مونږ ټول دلته یو.» ۲۹ د زندان مشر څراغ راوغوښت او دننه یې منډه کړه او په داسې حال کې چې له ویرې رپېده، هغه د پولوس او سیلاس په پښو کې پرېوت. ۳۰ بیا یې هغوی دباندې راوویستل او پوښتنه یې ترې وکړه: «ای ښاغلو! زه باید څه وکړم چې خلاصون ومومم؟» ۳۱ هغوی ځواب ورکړ: «په څښتن عیسی باندې ایمان راوړه چې ته او ستا کورنۍ خلاصون ومومئ.» ۳۲ بیا هغوی د څښتن عیسی پیغام هغه او د هغه د کورنۍ ټولو خلکو ته بیان کړ. ۳۳ د شپې په هماغه ساعت د زندان مشر هغوی بوتلل او د هغوی زخمونه یې ووینځل او سمدلاسه هغه او د هغه ټولې کورنۍ ته د تعمید غسل ورکړل شو. ۳۴ بیا هغه پولوس او سیلاس خپل کور ته راوستل او هغوی ته یې ډوډۍ راوړه. په دې خاطر چې هغه او ټولې کورنۍ یې په خدای باندې ایمان راوړ، نو ډېر خوشحاله شول.

۳۵ کله چې سهار شو، نو رومي مامورینو خپل د پولیسو منصبداران د زندان مشر ته ورولېږل او امر یې ورته وکړ: «هغه سړي پرېږدئ چې لاړ شي.» ۳۶ نو د زندان مشر پولوس ته وویل: «رومي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مامورینو امر کړی چې ته او سیلاس به ازاد شئ. نو اوس تاسو کولای شئ چې راووځئ او په خیر
لاړ شئ.» ۳۷ خو پولوس د پولیسو منصبدارانو ته وویل: «سره له دې چې مونږ رومي تابعیت لرو،
خو بیاهم هغو خلکو مونږ بې له کومې محاکمې څخه د ټولو خلکو په مخکې ووهلو او په زندان کې
یې واچولو او اوس غواړي مونږ په پټه وباسي؟ نه، پرېږده چې هغوی خپله راشي او مونږ وباسي.»
۳۸ د پولیسو منصبدارانو دا خبرې رومي مامورینو ته ورسولې او کله چې هغوی خبر شول چې
پولوس او سیلاس رومیان دي، نو وویرېدل ۳۹ او راغلل او د هغوی څخه یې بخښنه وغوښتله او
هغوی یې د زندان څخه راوویستل او غوښتنه یې ورڅخه وکړه چې د ښار نه لاړ شي. ۴۰ نو
پولوس او سیلاس د زندان څخه ووتل او د لیدیه کور ته لاړل او هلته یې د ایماندارانو سره ولیدل او
یوځل بیا یې هغوی ته تسلي ورکړه او بیا لاړل.

## په تسالونیکیه کې ناارامي

۱۷ ۱ پولوس او سیلاس د امفیپولیس او اپولونیا د ښارونو څخه تېر شول او تسالونیکیې ته
چې د یهودیانو کنیسه په کې وه، ورسېدل. ۲ پولوس د خپل عادت له مخې کنیسې ته لاړ او درې
هفتې یې د هر سبت په ورځ د خدای د کلام په هکله د هغوی سره بحثونه وکړل ۳ او دا یې ورته
بیان او ثابت کړل چې مسیح باید تکلیفونه وزغمي او د مړینې څخه وروسته به بیا راژوندی شي.
پولوس وویل: «همدا عیسی چې زه د هغه په هکله تاسو سره خبرې کوم، هماغه مسیح دی.» ۴
ځینې یهودیان او زیات شمېر دینداره یونانیان او نامتو ښځې قانع شوې او پولوس او سیلاس سره
یوځای شول. ۵ خو په دې کار د ځینو یهودیانو سره بخیلي راپیدا شوه. هغوی څو بېکاره او
لوچک خلک د کوڅو څخه راټول کړل او یوه ډله یې جوړه کړه او په ښار کې یې شور او غوغا
جوړه کړه. هغوی د یاسون په کور حمله وکړه او کوښښ یې کاوه چې پولوس او سیلاس پیدا کړي او
خلکو ته یې راولي. ۶ خو چې کله یې هغوی پیدا نه کړل، نو یاسون او ځینې نور ایمانداران یې د
ښار واکمنانو ته په راښکلو راوستل او چیغې یې وهلې: «دې خلکو نړۍ په بل مخ اړولې ده او اوس
دلته راغلي ۷ او یاسون هغوی په خپل کور کې مېلمانه کړي دي. دوی ټولو د امپراتور قانون مات
کړی او وایي چې دلته یو بل پاچا دی چې عیسی نومېږي.» ۸ کله چې خلکو او د ښار واکمنانو
دا خبرې واورېدلې، نو ډېر ناارامه شول. ۹ نو هغوی د یاسون او نورو ایماندارانو څخه ضمانت


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واخیست او هغوی یې پرېښودل چې لاړ شي.

## پولوس او سیلاس په بیریه کې

۱۰ ځنګه چې شپه شوه، نو ایماندارانو پولوس او سیلاس بیریې ته ولېږل. کله چې هلته ورسېدل، نو د یهودیانو کنیسې ته لاړل. ۱۱ د بیریې یهودیان د تسالونیکیې د یهودیانو څخه د روښانه فکر خاوندان وو. ځکه چې هغوی په ډېر شوق سره پیغام ومنلو او هره ورځ به یې په غور سره د خدای کلام لوسته، ترڅو په دې پوه شي چې کوم څه چې پولوس وایي هغه رښتیا دي که نه. ۱۲ نو له همدې امله په هغوی کې ډېرو خلکو ایمان راوړ او همدارنګه ډېرو نامتو یوناني ښځو او سړیو هم ایمان راوړ. ۱۳ خو کله چې د تسالونیکیې یهودیان خبر شول چې پولوس په بیریه کې هم د خدای کلام بیانوي، نو هلته راغلل چې خلک ولمسوي او د پولوس په خلاف یې راپورته کړي. ۱۴ نو ایماندارانو سمدلاسه پولوس د بحیرې غاړې ته ولېږه، خو سیلاس او تیموتاوس په بیریه کې پاتې شول. ۱۵ کومو خلکو چې پولوس یې بدرګه کاوه، د هغه سره د آتن تر ښاره پورې لاړل. بیا پولوس هغوی ته لارښوونه وکړه چې کله بېرته خپل کور ته ورسېدلځ، نو سیلاس او تیموتاوس ته ووایئ چې زر تر ژره آتن ته راشي.

## پولوس په آتن کې

۱۶ په هغه وخت کې چې پولوس په آتن کې د سیلاس او تیموتاوس دپاره انتظار کاوه، نو کله چې هغه ولیدل چې هغه ښار د بتانو څخه ډک دی، ډېر خفه شو. ۱۷ هغه به په کنیسه کې د یهودیانو او دینداره غیریهودیانو سره بحثونه کول او هره ورځ به یې د ښار په بازارونو کې د هغو خلکو سره چې هلته ورسره مخامخ کېدل، هم بحثونه کول. ۱۸ ځینو اپیکوري او رواقي فیلسوفانو هم د هغه سره بحث کاوه. ځینو خلکو به پوښتنه کوله: «دا جاهل غواړي څه ووایي؟» نورو به ویل: «داسې ښکاري چې هغه د نورو خدایانو په هکله خبرې کوي.» دا یې ځکه وویل چې پولوس د عیسی او د قیامت په هکله زېری ورکاوه. ۱۹ نو هغوی پولوس شورا ته چې د مریخ په غونډۍ کې وه، راوست او ویې ویل: «مونږ غواړو پوه شو چې دا نوی تعلیم چې ته یې ورکوې هغه د څه شي په هکله دی؟ ۲۰ ځینې خبرې چې ته یې کوې هغه مونږ ته حیرانوونکې ښکاري. مونږ غواړو چې د هغو په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معنی پوه شو.» ۲۱ (ځکه چې د آتن خلکو او هغو پردیو خلکو چې هلته اوسېدل، دا خوښول چې
خپل ټول وخت د نویو نظرونو په هکله په خبرو کولو او اورېدلو تېر کړي.)

۲۲ پولوس د مریخ د غونډۍ د شورا په مخکې ودرېده او ویې ویل: «ای د آتن خلکو! زه پوه شوم
چې تاسو ډېر مذهبي خلک یئ. ۲۳ ځکه کله چې زه ستاسو په ښار کې ګرځېدم او ستاسو د
عبادت شیانو ته مې کتل، نو د قربانۍ یو ځای مې ولیده چې پرې لیکل شوي وو: ‹د یو نامعلوم
خدای دپاره.› تاسو چې د کوم شي عبادت کوئ او نه یې پېژنئ، د هغه په هکله تاسو ته خبرې کوم.
۲۴ هغه خدای چې نړۍ او هرڅه چې په هغې کې دي، پیدا کړي دي، هغه د ځمکې او اسمان
څښتن دی او د انسانانو په لاس جوړ شویو عبادتځایونو کې نه اوسیږي. ۲۵ همدارنګه نه هغو
شیانو ته کومه اړتیا لري چې انسانان یې په خپلو لاسونو هغه ته تیاروي، ځکه چې خدای په خپله
انسانانو ته ژوند، ساه او هرڅه ورکوي. ۲۶ هغه ټول قومونه د یو انسان د نسل څخه پیدا کړل چې
په ټولې نړۍ کې واوسیږي. د هغوی دپاره یې وختونه او د ځایونو حدونه وټاکل چې چېرته به
اوسیږي. ۲۷ د هغه مقصد دا ؤ چې هغوی د خدای په لټه کې اوسي، هغه ته ځانونه ورسوي او پیدا
یې کړي، که څه هم هغه زمونږ هر یو څخه لېرې نه دی. ۲۸ لکه څنګه چې یو چا ویلي دي:

په هغه کې زمونږ ژوند، زمونږ حرکت او زمونږ شتون دی.

لکه څنګه چې ستاسو ځینو شاعرانو ویلي دي:

مونږ هم د هغه اولادونه یو.

۲۹ نو څرنګه چې مونږ د خدای اولادونه یو، نو باید داسې فکر ونه کړو چې د خدای ذات د یوې
مجسمې په شان دی چې د انسان په هنر او مهارت د سرو زرو، سپینو زرو یا تیږو څخه جوړه شوې
وي. ۳۰ په هغه وخت کې چې خلکو خدای نه پېژانده، خدای په دې شیانو سترګې پټولې. خو
اوس هغه په هرځای کې ټولو خلکو ته حکم کوي چې توبه وباسي. ۳۱ ځکه چې خدای یوه ورځ
ټاکلې ده چې هغه به د عدالت له مخې د نړۍ قضاوت د هغه چا په وسیله کوي چې هغه غوره کړی
دی. او د هغه کس په بیا راژوندي کولو سره یې دا خبره ټولو خلکو ته ثابته کړې ده.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ کله چې هغوی د پولوس څخه د مړو نه د راژوندي کېدلو خبره واورېدله، نو ځینو ورباندې
ملنډې ووهلې، خو نورو وویل: «مونږ به په دې هکله په کوم بل وخت کې ستا خبرې بیا واورو.»
۳۳ نو په دې ډول پولوس د هغوی څخه لاړ. ۳۴ خو یو څو تنه د پولوس سره یوځای شول او
ایمان یې راوړ، چې دیونیسوس چې د مریخ د غونډې د شورا غړی ؤ او همدارنګه یوه ښځه چې
دامریس نومېدله او ځینې نور خلک هم ورسره وو.

## پولوس په قرنتوس کې

۱۸ ۱ له هغې وروسته پولوس له آتن څخه روان شو او قرنتوس ته لاړ. ۲ په هغه ځای
کې هغه د یو یهودي سره چې اکیلا نومېده او په اصل کې د پونتوس څخه ؤ، مخامخ شو. اکیلا د
خپلې ښځې پریسکیلا سره نوی له ایټالیې څخه راغلی ؤ، ځکه چې کلودیوس امپراتور امر کړی ؤ
چې ټول یهودیان دې له روم څخه ووځي. پولوس لاړ چې د هغوی سره وګوري ۳ او په دې
خاطر چې هغه هم د هغوی په شان خېمه جوړوونکی ؤ، نو د هغوی سره پاتې شو او یوځای یې
ورسره کار کاوه. ۴ د هر سبت په ورځ هغه په کنیسه کې بحث کاوه او کوښښ یې کاوه چې
یهودیانو او یونانیانو ته قناعت ورکړي.

۵ کله چې سیلاس او تیموتاوس د مقدونیې څخه راغلل، نو پولوس خپل ټول وخت د کلام په
بیانولو تېر کړ. هغه یهودیانو ته دا شاهدي ورکوله چې عیسی هماغه مسیح دی. ۶ خو کله چې
یهودیانو د هغه سره مخالفت وکړ او هغه ته یې بد رد وویل، نو پولوس خپل کالي وڅنډل او هغوی ته
یې وویل: «ستاسو خون ستاسو په خپله غاړه دی. زه یې د مسوولیت څخه خلاص یم. زه به له دې
وروسته غیریهودیانو ته ورځم.» ۷ نو پولوس له هغه ځای څخه لاړ او د تیتیوس یوستوس په نوم
د یو غیریهودي کور ته چې د خدای عبادت به یې کاوه، لاړ. د هغه کور د کنیسې په څنګ کې ؤ.
۸ کرسپوس چې د کنیسې مشر ؤ، د خپلې ټولې کورنی سره په څښتن عیسی باندې ایمان راوړ.
همدارنګه د قرنتوس ډېرو خلکو چې د پولوس پیغام یې اورېده، نو ایمان یې راوړ او د تعمید غسل
ورته ورکړل شو.

۹ یوه شپه څښتن په رویا کې د پولوس سره خبرې وکړې او ورته ویې ویل: «مه وېرېږه، بلکې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل وعظ کوه او غلی مه پاتې کېږه، ﴿١٠﴾ ځکه چې زه درسره مل یم او هېڅوک به ونه شي کولای
چې په تا باندې حمله وکړي او زیان درته ورسوي، ځکه چې په دې ښار کې ډېر داسې خلک شته
چې زما دي.» ﴿١١﴾ نو پولوس د یو کال او شپږو میاشتو دپاره هلته پاتې شو او خلکو ته یې د
خدای د کلام تعلیم ورکاوه.

﴿١٢﴾ خو کله چې ګالیون د جنوبي یونان د اخیې د ولایت والي وټاکل شو، نو یهودیان سره راټول
شول او پولوس یې ونیوه او محکمې ته یې راوست ﴿١٣﴾ او ویې ویل: «دا سړی خلک په داسې ډول
د خدای عبادت ته هڅوي چې د قانون خلاف دی.» ﴿١٤﴾ څنګه چې پولوس خبرې پیل کړلې، نو
ګالیون یهودیانو ته وویل: «ای یهودیانو، که چېرې په دې خبره کې کومه غلطي او یا کوم سخت جرم
وای چې هغه کړی وي، نو ما به ستاسو دعوه اورېدلې وای. ﴿١٥﴾ خو څرنګه چې دا ستاسو د بحثونو
موضوع، اصطلاحګانو او ستاسو د خپل شریعت خبره ده، نو تاسو خپله یې باید حل کړئ. زه نه
غواړم چې د دې شیانو په هکله قضاوت وکړم.» ﴿١٦﴾ نو هغوی یې له محکمې څخه وویستل. ﴿١٧﴾
خلکو سوستینیس چې د کنیسې مشر ؤ، راونیوه او د محکمې په مخکې یې وواهه. خو ګالیون یې
کومه پروا ونه کړه.

## پولوس د قرنتوس څخه د سوریې انطاکیې ته سفر کوي

﴿١٨﴾ پولوس د څه وخت دپاره د ایماندارانو سره په قرنتوس کې پاتې شو او بیا یې د هغوی سره
خدای پاماني وکړه او په کشتۍ کې د پریسکیلا او اکیلا سره سوریې ته لاړ. د کینخریې په ښار کې
هغه خپل سر وخرایه، ځکه چې نذر یې اېښی ؤ. ﴿١٩﴾ کله چې هغوی افسیس ته ورسېدل، نو
پولوس پرسکیلا او اکیلا هلته پرېښودل. بیا یوازې کنیسې ته لاړ او هلته یې د یهودیانو سره بحث
وکړ. ﴿٢٠﴾ هغوی ورڅخه وغوښتل چې د ډېر وخت دپاره پاتې شي، خو هغه ونه منله. ﴿٢١﴾ نو د
هغوی سره یې خدای پاماني وکړه او ویې ویل: «که د خدای رضا وي، نو بېرته به راشم.» نو هغه د
افسیس څخه په کشتۍ کې روان شو. ﴿٢٢﴾ کله چې هغه په قیصریه کې د کشتۍ څخه راښکته شو، نو
اورشلیم ته لاړ او د کلیسا د خلکو سره د سلام او احوال اخیستنې څخه وروسته انطاکیې ته لاړ.
﴿٢٣﴾ په انطاکیه کې د څه مودې تېرولو څخه وروسته پولوس بیا په سفر روان شو او د غلاتیې او
فریجیې په ټوله سیمه کې یې د یو ځای څخه بل ځای ته سفر کاوه او د ټولو ایماندارانو زړونه یې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غښتلي کول.

## اپولوس په افسيس او قرنتوس کې

۲۴ په دې وخت کې يو يهودي چې اپولوس نومېده او په اصل کې د سکندريې څخه ؤ، افسيس ته
راغی. هغه يو ښه ويناند ؤ او د خدای په کلام ډېر ښه پوهېده. ۲۵ هغه ته د څښتن د لارې تعليم
ورکړل شوی ؤ او په زيات شور او شوق سره يې خبرې کولې او په سمه توګه يې د عيسی په هکله
تعليم ورکاوه، که څه هم هغه يوازې د يحيی د تعميد د غسل څخه خبر ؤ. ۲۶ هغه په کنيسه کې په
زړورتيا سره خبرې پيل کړې. کله چې پريسکيلا او اکيلا د هغه خبرې واورېدلې، نو هغه يې ګوښه کړ
او په سمه توګه يې ورته د خدای لاره بيان کړه. ۲۷ اپولوس جنوبي يونان ته د تګ په هکله فکر
کاوه، نو د افسيس ايماندارانو هغه وهڅاوه چې لاړ شي. هغوی د اخيې ايماندارانو ته ليک ولېږه چې
هغه ته تود هرکلی ووايي. کله چې هغه هلته ورسېده، نو د هغو خلکو سره يې ډېره مرسته وکړه چې
د خدای په فضل سره يې ايمان راوړی ؤ. ۲۸ هغه د يهوديانو سره سخت بحث وکړ او د خلکو په
مخکې يې د خدای د کلام څخه دا ثابته کړه چې عيسی هماغه مسيح دی.

## پولوس په افسيس کې

۱۹ ۱ کوم وخت چې اپولوس په قرنتوس کې ؤ، نو پولوس د هغه ولايت له داخلي سيمو څخه
تېر شو او افسيس ته ورسېده او هلته د څو ايماندارانو سره مخامخ شو. ۲ د هغوی څخه يې
پوښتنه وکړه: «کله چې تاسو ايمان راوړ، نو روح القدس مو ترلاسه کړ؟» هغوی ځواب ورکړ: «نه،
مونږ لا خبر هم نه يو چې روح القدس شته.» ۳ پولوس پوښتنه وکړه: «بيا تاسو ته د تعميد کوم
ډول غسل درکړل شوی دی؟» هغوی په ځواب کې ووېل: «د يحيی د تعميد غسل.» ۴ پولوس
ووېل: «يحيی چې د تعميد کوم غسل ورکاوه، هغه د ګناهونو څخه د توبې ويستلو نښه وه او خلکو
ته به يې ويل چې په هغه چا باندې ايمان راوړئ چې د هغه څخه وروسته راروان دی يعنې په عيسی
باندې ايمان راوړئ.» ۵ کله چې هغوی دا واورېدل، نو د څښتن عيسی مسيح په نوم ورته د
تعميد غسل ورکړل شو. ۶ کله چې پولوس د هغوی په سر باندې خپل لاس کېښود، نو روح



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

القدسورباندې نازل شو او هغوی په نااشنا ژبو خبرې پیل کړلې او د خدای پیغام یې رساوه. ﴿۷﴾
هغوی ټول شاوخوا دولس تنه وو.

﴿۸﴾ پولوس تر درې میاشتو پورې کنیسې ته تللو او په زړورتیا سره به یې د خلکو سره خبرې
کولې او د خدای د پاچاهی په هکله به یې هغوی ته دلیل ویلو او بحث به یې کاوه چې هغوی قانع
کړي. ﴿۹﴾ خو د هغوی څخه ځینې سرزورو خلکو ایمان نه راوړلو او د کنیسې د خلکو په مخکې
به یې د څښتن عیسی مسیح لارې ته بد ویل. نو پولوس له هغوی څخه لاړ او شاګردان یې له ځان
سره بوتلل او هره ورځ به یې د تیرانوس د غونډو په تالار کې بحثونه کول. ﴿۱۰﴾ دا کار تر دوو کالو
پورې روان ؤ، ترڅو د اسیا د ولایت ټولو اوسېدونکو یعنې یهودیانو او یونانیانو دواړو د څښتن
عیسی پیغام واورېد.

## د اسکیوا زامن

﴿۱۱﴾ خدای به د پولوس په وسیله لویې لویې معجزې ښودلې. ﴿۱۲﴾ خلکو به هغه دستمالونه او
پیشبندونه چې د پولوس په بدن باندې وهل شوي وو، وړل او هغه به یې د ناروغانو په بدن باندې
وهل او هغوی به روغېدل او پېریان به ورڅخه وتل. ﴿۱۳﴾ ځینو یهودیانو چې یوځای او بل ځای به
ګرځېدل، کوښښ کاوه چې د څښتن عیسی په نوم پېریان وباسي. هغوی به پېریانو ته ویل: «زه د هغه
عیسی په نوم چې پولوس یې وعظ کوي، امر کوم چې راووځه.» ﴿۱۴﴾ د یهودي لوی کاهن اسکیوا
اووه زامنو به دا کار کاوه. ﴿۱۵﴾ خو یوه ورځ پېري هغوی ته ځواب ورکړ: «زه عیسی پېژنم او د
پولوس په هکله مې هم اورېدلي دي، خو تاسو څوک یئ؟» ﴿۱۶﴾ نو بیا هغه پېریانو نیولي سړي په
هغوی ورټوپ کړ او هغوی ټول یې ترپښو لاندې کړل او دومره یې ووهل چې د هغه کور څخه لوڅ
او ژوبل شوي وتښتېدل. ﴿۱۷﴾ کله چې د افسیس ټول اوسېدونکي یهودیان او یونانیان د دې پېښې
څخه خبر شول، نو په هغوی ټولو باندې وېره راغله او د څښتن عیسی نوم نور هم سرلوړی شو.
﴿۱۸﴾ ډېرو خلکو چې ایمان یې راوړی ؤ، راغلل او دا اقرار یې وکړ چې هغوی جادوګري کوله. ﴿۱۹﴾
ډېرو جادوګرانو خپل د جادوګری کتابونه راټول کړل او د خلکو په مخکې یې وسوځول. کله چې
هغوی د کتابونو قیمتونه حساب کړل، نو د هغو بیه پنځوس زره د سپینو زرو سکې شوې. ﴿۲۰﴾ په
دې ډول د څښتن عیسی پیغام خپرېده او په خلکو یې ډېره اغېزه کوله.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ د دې ټولو پېښو نه وروسته پولوس د روح القدس په لارښوونه پرېکړه وکړه چې مقدونيې او
جنوبي يونان ته سفر وکړي او وروسته بيا اورشليم ته لاړ شي. هغه وويل: «هغه ځاى ته د تللو نه
وروسته بايد د روم ښار هم ووينم.» ۲۲ هغه خپل دوه ملګري يعنې تيموتاوس او اراستوس
مقدونيې ته ولېږل او په خپله د يو څه وخت دپاره د اسيا په ولايت کې پاتې شو.

۲۳ په دې وخت کې د څښتن عيسى د لارې له امله سخت شور او غوغا پيدا شوه. ۲۴ هلته د
ديميتريوس په نوم يو زرګر ؤ چې د ارتيميسې د بت د عبادت ځاى د سپينو زرو نمونې به يې
جوړولې او په دې ډول يې د کسبګرو دپاره يو ښه او ګټور کاروبار برابر کړى ؤ. ۲۵ نو ديميتريوس
هغوى او د هغوى په شان نور کسبګر سره راټول کړل او ورته يې وويل: «اى ملګرو، تاسو پوهېږئ
چې مونږ له همدې کاروبار څخه ښه ګټه ترلاسه کوو. ۲۶ لکه څنګه چې تاسو وينئ او اورئ چې
دې پولوس يوازې په افسيس کې نه، بلکې د اسيا په ټول ولايت کې ګڼ شمېر خلک په خپلو خبرو
ځان ته رااړولي او بې‌لارې کړي دي. هغه وايي چې د انسان په لاس جوړ شوي خدايان بالکل
خدايان نه دي. ۲۷ نو دا خطر شته چې نه يوازې دا چې زمونږ کاروبار به بدنام شي بلکې د دې
خطر هم شته چې زمونږ د لوى خداى ارتيميسې د عبادت ځاى به هم بې‌اعتباره شي او د هغې شان
او شوکت چې په اسيا او ټوله نړۍ کې ورته عبادت کېږي، هم له منځه لاړ شي.»

۲۸ کله چې هغوى دا خبرې واورېدلې، نو ډېر په قهر شول او چيغې يې ووهلې: «لويه ده د
افسيسيانو ارتيميسه!» ۲۹ په ټول ښار کې شور او غوغا پيدا شوه. خلکو ګايوس او ارسترخوس
چې د مقدونيې څخه وو او د پولوس د سفر ملګري وو، ونيول او په راښکلو راښکلو يې د ښار د
غونډې ځاى ته يوووړل. ۳۰ پولوس غوښتل چې دننه ورشي او د خلکو سره خبرې وکړي، خو
ايماندارانو هغه پرېنښود. ۳۱ د ولايت ځينو واکمنانو چې د پولوس ملګري وو هم هغه ته پيغام
ورولېږه او هغه ته يې زاري وکړه چې د غونډې ځاى ته لاړ نه شي. ۳۲ په دې وخت کې غونډه
ګډه وډه شوه او ځينو به په چيغو چيغو کې يو څه او ځينو به بل څه ويل، ځکه چې په هغوى کې ډېر
خلک په دې هم نه پوهېدل چې د څه دپاره دلته راټول شوي دي. ۳۳ ځينو يهودي مشرانو د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سکندر په نوم سړی د خلکو د ګڼې ګوڼې مخې ته ورټېله کړ او هغه ته یې وویل چې یوڅه باید
ووایي. هغه په خپل لاس اشاره وکړه چې خلک غلي شي او کوښښ یې وکړ چې هر هغه څه چې
شوي وو، هغه بیان کړي. ۳۴ خو کله چې خلک پوه شول چې سکندر یهودي دی، نو ټولو په یو
اواز دوه ساعته چیغې ووهلې: «لویه ده د افسیسیانو خدای ارتیمیسه!»

۳۵ په پای کې ښاروال خلک غلي کړل او ویې ویل: «ای د افسیس خلکو، ټولو ته معلومه ده چې
د افسیس ښار د لویې ارتیمیسې د عبادتځای او د هغې سپېڅلې تیږې ساتونکی دی چې د اسمان
څخه راغورځېدلې ده. ۳۶ نو څرنګه چې هېڅوک د دې حقیقتونو څخه انکار نه شي کولای، تاسو
باید غلي شئ او بې‌سنجشه کار ونه کړئ. ۳۷ دا خلک چې تاسو دلته راوستلي دي هغوی نه د
عبادتځای څخه غلا کړې ده او نه یې زموږ خدای ارتیمیسې ته کفر ویلی دی. ۳۸ که چېرې
دیمیتریوس او د هغه نور کسبګران د هغوی په خلاف دعوه چلول غواړي، نو د محکمو دروازې
خلاصې دي او قاضیان هم شته، نو هغوی کولای شي چې په یو بل باندې دعوه وکړي. ۳۹ که
تاسو نور څه غواړئ، نو د هغې په هکله دې په یوه رسمي غونډه کې پرېکړه وشي. ۴۰ ځکه چې
دا خطر شته چې موږ د نن ورځې د شور او غوغا په خاطر تورن شو او د دې ګډوډۍ دپاره کومه
بهانه نشته او موږ به ونه شو کولای چې د دې دپاره کوم سم دلیل وړاندې کړو.» ۴۱ کله چې هغه
دا خبره وکړه، نو د غونډې خلک یې رخصت کړل.

## مقدونیې او یونان ته د پولوس سفر

۲۰ ۱ کله چې شور او غوغا پای ته ورسېدله، نو پولوس ایمانداران راوغوښتل، هغوی یې
وهڅول او خدای پاماني یې ورسره وکړه او مقدونیې ته روان شو. ۲ هغه د مقدونیې د سیمو له
لارې تېرېده او ایماندارانو ته یې ډاډګېرنه ورکوله او بیا یونان ته ورسېده. ۳ درې میاشتې هلته
پاتې شو. هغه تیاری ونیوه چې په کشتۍ کې سوریې ته لاړ شي، خو کله چې پوه شو چې یهودیانو د
هغه په خلاف دسیسه جوړه کړې ده، نو پرېکړه یې وکړه چې د مقدونیې په لاره بېرته ستون شي.
۴ د پیروس زوی سوپاتروس چې د بیریې څخه ؤ، ارسترخوس او سکندوس د تسالونیکې څخه،
ګایوس له دربې څخه، تیخیکاس او تروفیموس چې د اسیا د ولایت څخه او تیموتاوس د هغه د سفر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ملګري وو. ۵ هغوی مخکې لاړل او په ترواس کې یې زمونږ انتظار کاوه. ۶ کله چې د فطیرې ډوډۍ د اختر ورځې تېرې شوې، نو مونږ د فیلیپي څخه په کشتۍ کې روان شولو او په پنځو ورځو کې د هغوی سره په ترواس کې یوځای شولو او یوه هفته هلته پاتې شولو.

## په ترواس کې د پولوس وروستنی لیدنه او کتنه

۷ د شنبې ورځې په ماښام مونږ د غوره ماښامي د مراسمو د لمانځلو دپاره سره راټول شولو. پولوس ایماندارانو ته خبرې وکړې، ځرنګه چې هغه غوښتل بله ورځ په سفر لاړ شي، نو تر نیمې شپې پورې یې خپلو خبرو ته دوام ورکړ. ۸ پاس په بالاخانه کې چې مونږ په کې راټول شوي وو، ډېر څراغونه لګېدلي وو. ۹ هلته په کړکۍ کې یو ځوان ناست ؤ چې افتیخوس نومېده. کله چې پولوس خبرې کولې، نو په هغه ځوان باندې خوب راغی او په درانه خوب ویده شو او د درېم منزل څخه لاندې ځمکې ته راولوېد. کله یې چې راپورته کړ، نو هغه مړ شوی ؤ. ۱۰ پولوس لاندې ورښکته شو او خپل ځان یې په هغه ځوان باندې ورووغورځاوه او هغه یې په غېږ کې ونیوه او هغوی ته یې وویل: «مه پرېشانه کېږئ، هغه ژوندی دی.» ۱۱ بیا پولوس بېرته بالاخانې ته وخوت، ډوډۍ یې ماته کړه او ویې خوړله. هغه تر لمرخاته پورې د هغوی سره خبرو ته دوام ورکړ او بیا روان شو. ۱۲ بیا خلکو هغه ځوان خپل کور ته ژوندی بوته او هغوی ډېر ارام شول.

## د ترواس څخه میلیتوس ته د پولوس سفر

۱۳ مونږ مخکې لاړو او په کشتۍ کې کښېناستو او د اسوس ښار ته روان شولو، چېرته چې مونږ غوښتل پولوس هم راسره په کشتۍ کې سپور شي. ځکه چې هغه نیت کړی ؤ چې د وچې لارې نه هغه ځای ته لاړ شي. ۱۴ کله چې پولوس په اسوس کې زمونږ سره مخامخ شو، نو هغه مو په کشتۍ کې سپور کړ او میتیلیني ته راغلو. ۱۵ د هغه ځای څخه په کشتۍ کې روان شو او په بله ورځ د خیوس جزیرې ته ورسېدلو. بله ورځ ساموس ته راغلو او د هغې ورځې په سبا میلیتوس ته ورسېدلو. ۱۶ ځکه چې پولوس پرېکړه کړې وه چې په کشتۍ کې د افسیس څخه تېر شي، ترڅو د اسیا په ولایت کې د وخت د ضایع کېدلو څخه مخنیوی وشي. هغه بېړه کوله چې که چېرې امکان ولري د پنتیکاست د ورځې نه مخکې اورشلیم ته ورسېږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د افسیس د کلیسا د مشرانو سره د پولوس خدای پاماني

۱۷ پولوس د میلیتوس څخه افسیس ته پیغام ولیږه او د کلیسا د مشرانو څخه یې وغوښتل چې
راشي او د هغه سره ووینې. ۱۸ کله چې هغوی راورسېدل، نو هغه ورته وویل: «تاسو ته معلومه ده
چې د هماغې لومړۍ ورځې څخه چې زه د اسیا ولایت ته راورسېدم او خومره وخت چې ستاسو
سره وم، نو تاسو سره مې څنګه ژوند تېر کړ. ۱۹ که څه هم د یهودیانو د دسیسو له امله په ما
سختې ورځې راغلې، خو ما په پوره عاجزۍ او اوښکو تویولو سره د څښتن خدمت کړی دی. ۲۰
تاسو ته معلومه ده چې ما ستاسو د ښېګڼې دپاره د هېڅ شي څخه ډډه نه ده کړې او تاسو ته مې د
خلکو په مخکې او کور په کور تعلیم درکړی دی. ۲۱ ما یهودیانو او غیریهودیانو دواړو ته په کلکه
خبرداری ورکړ چې باید د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي او خدای ته رجوع وکړي او زمونږ په
څښتن عیسی ایمان راوړي. ۲۲ زه اوس د روح القدس څخه په اطاعت کولو سره اورشلیم ته روان
یم، خو نه پوهېږم چې هلته به زما سره څه کېږي. ۲۳ زه یوازې په دې پوهېږم چې روح القدس په
هر ښار کې ما خبروي چې زندان او تکلیفونه زما په انتظار کې دي. ۲۴ خو زه د خپل ژوند هېڅ
پروا نه لرم او هغه ماته کوم ارزښت نه لري. زه یوازې دا غواړم چې خپله وظیفه سرته ورسوم کومه
چې څښتن عیسی راته سپارلې ده، هغه ترسره کړم چې هغه د خدای د فضل په هکله د خلکو
خبرول دي.

۲۵ زه ستاسو ټولو په منځ کې ګرځېدلی یم او د خدای د پاچاهۍ په هکله مې وعظ کړی دی.
اوس پوهېږم چې ستاسو څخه به یو کس هم نور زما مخ ونه ویني. ۲۶ نو له دې امله زه همدانن
تاسو خبروم چې که ستاسو څخه کوم څوک د تلپاتې ژوندون څخه بې‌برخې شي، نو زه به یې
مسوول نه یم، ۲۷ ځکه چې ما تاسو ته هغه ټول شیان وویل چې خدای یې غواړي. ۲۸ په خپلو
ځانونو او هغو ټولو خلکو باندې پام کوئ چې روح القدس تاسو د هغو د ساتنې دپاره ټاکلي یئ. د
خدای په کلیسا باندې چې عیسی د خپلې وینې په بیه اخیستې ده، داسې پام کوئ لکه څنګه چې
شپانه په خپلو رمو پام کوي. ۲۹ زه پوهېږم چې زما د تګ څخه وروسته به داړونکي لېوان ستاسو
منځ ته درشي او رمه به په امان کې پرېنږدي. ۳۰ حتی ستاسو په منځ کې به داسې خلک پیدا شي
چې د حقیقت په ځای به دروغ وایي، ترڅو ایمانداران خپل ځان ته راواړوي. ۳۱ نو بېداره اوسئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دا خبره یاد ساتئ چې درې کاله مې شپه او ورځ تاسو هر یو ته نصیحت کاوه او ستاسو دپاره مې اوښکې تویې کړې.

۳۲ اوس زه تاسو خدای او د هغه د فضل نه ډک کلام ته سپارم، هغه کلام ته چې کولای شي تاسو ته قوت درکړي او هغه برکتونه درکړي چې خدای یې خپلو ټولو سپېځلو خلکو د میراث په توګه ورکوي. ۳۳ ما هېڅکله د چا نه د سپینو زرو، سرو زرو او کالیو تمه نه ده کړې. ۳۴ تاسو خپله پوهېږئ چې ما په خپلو لاسونو زیار ویستلی او د خپل ځان او خپلو ملګرو اړتیاوې مې پوره کړې دي. ۳۵ ما په خپلو سختو کارونو سره تاسو ته وښودل چې په دې ډول کولای شو چې د غریبانو سره مرسته وکړو او باید د څښتن عیسی هغه خبرې په یاد وساتو چې ویلي یې دي: ‹د اخیستلو څخه په ورکولو کې برکتونه ډېر دي.›»

۳۶ کله چې پولوس خپلې خبرې پای ته ورسولې، نو د هغوی سره یوځای په ګونډو شو او د هغوی ټولو سره یې دعا وکړه. ۳۷ بیا هغوی ټولو وژړل، هغه یې په غېږ کې ونیوه، ښکل یې کړ او خدای پاماني یې ورسره وکړه. ۳۸ هغوی په دې ډېر زیات غمجن شول، ځکه چې پولوس ویلي وو چې دوی به نور هېڅکله د هغه مخ ونه ویني. نو هغوی ورسره تر کشتۍ پورې لاړل.

## اورشلیم ته د پولوس سفر

۲۱ ۱ مونږ د افسیسانو د مشرانو سره خدای پاماني وکړه او له هغه ځای څخه روان شولو او په کشتۍ کې مخامخ د کاس جزیرې ته لاړو. په بله ورځ د رودوس جزیرې ته ورسېدلو او له هغه ځای څخه د پاترا د ښار بندر ته لاړو. ۲ په هغه ځای کې مونږ یوه کشتۍ پیدا کړه چې فنیقیې ته روانه وه، نو مونږ په کې سپاره شولو او لاړو. ۳ کله چې قبرس د لیرې نه ښکاره شو، نو مونږ د هغه د جنوب خوا څخه تېر شولو او د سوریې خواته روان شولو او د صور د ښار په بندر کې ښکته شولو، ځکه چې هلته یې د کشتۍ څخه بار ښکته کاوه. ۴ په هغه ځای کې مو ایمانداران پیدا کړل او یوه هفته د هغوی سره پاتې شولو. هغوی د روح القدس په لارښوونه پولوس ته وویل چې اورشلیم ته لاړ نه شي. ۵ خو کله چې هفته پوره شوه، نو مونږ بیا په سفر روان شولو. هغوی ټول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپلو ښځو او ماشومانو سره زمونږ سره ملګري شول او د ښار څخه ووتلو او د بحیرې په غاړه په ګونډو شولو او دعا مو وکړه. ﴿۶﴾ بیا مو یو د بل سره خدای پاماني وکړه. مونږ په کشتۍ کې سپاره شو او هغوی بېرته خپلو کورونو ته لاړل.

﴿۷﴾ مونږ په بحیره کې د صور څخه خپل سفر ته دوام ورکړ او د پتولامایس ښار ته ورسېدلو. هلته مو د ایماندارانو سره ستړي مشي وکړه او د یوې ورځې دپاره د هغوی سره پاتې شولو. ﴿۸﴾ په بله ورځ له هغه ځای څخه روان شولو او قیصریې ته ورسېدلو او هلته د فیلیپوس په کور کې چې زیری رسوونکی ؤ، پاتې شولو. هغه د هغو اوو کسانو څخه ؤ چې په اورشلیم کې د خوړو د وېشلو دپاره ټاکل شوي وو. ﴿۹﴾ فیلیپوس څلور پېغلې لورګانې لرلې چې د خدای پیغام به یې رساوه. ﴿۱۰﴾ کله چې مونږ څو ورځې هلته وو، نو د یهودیې څخه د اګابوس په نوم یو پیغمبر راغی. ﴿۱۱﴾ هغه مونږ ته راغی، د پولوس کمربند یې واخیست او په هغه باندې یې خپل لاسونه او پښې وتړلې او ویې ویل: «روح القدس داسې وایي: ‹په اورشلیم کې به یهودیان د دې کمربند خاوند همدا شان وتړي او غیریهودیانو ته به یې وسپاري.›»

﴿۱۲﴾ کله چې مو دا خبرې واورېدلې، نو مونږ او د هغه ځای خلکو پولوس ته زاری وکړې چې اورشلیم ته لاړ نه شي. ﴿۱۳﴾ خو پولوس په ځواب کې وویل: «تاسو څه کوئ؟ تاسو ولې ژاړئ او زما زړه ماتوئ؟ زه نه یوازې دې ته تیار یم چې بندي شم، بلکې دې ته هم تیار یم چې د څښتن عیسی په خاطر په اورشلیم کې مړ شم.» ﴿۱۴﴾ مونږ ونه شو کولای چې هغه ته قناعت ورکړو، نو غلي شولو او ومو ویل: «څه چې د څښتن رضا وي هماغسې دې وشي.»

﴿۱۵﴾ څو ورځې وروسته مونږ سفر ته تیاری ونیوه او اورشلیم ته روان شولو. ﴿۱۶﴾ د قیصریې څو شاګردان زمونږ سره ملګري شول او مونږ یې د مناسون کور ته چې د قبرس څخه ؤ او د لومړنیو ایماندارانو څخه ؤ، د اوسېدلو دپاره بوتلو.

## د یعقوب او د کلیسا د مشرانو سره د پولوس لیدنه

﴿۱۷﴾ کله چې مونږ اورشلیم ته ورسېدلو، نو ایماندارانو مونږ ته تود هرکلی ووایه. ﴿۱۸﴾ بله ورځ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پولوس زمونږ سره د یعقوب د لیدلو دپاره لاړ او د کلیسا ټول مشران هم په هغه ځای کې حاضر وو.
۱۹ پولوس په هغوی باندې سلام واچاوه او هغوی ته یې د هغو کارونو په هکله پوره راپور ورکړ
چې خدای د هغه په وسیله په غیریهودیانو کې کړي وو. ۲۰ کله چې هغوی دا واورېدل، نو د
خدای ثنا یې وویله. بیا هغوی پولوس ته وویل: «ای وروره، ته وینې چې په یهودیانو کې په زرګونو
خلکو ایمان راوړی دی او هغوی د موسی په شریعت باندې ټینګ ولاړ دي. ۲۱ هغوی ته ستا په
هکله ویل شوي دي چې ته هغو یهودیانو ته چې د غیریهودیانو په هېوادونو کې اوسېږي، تعلیم
ورکوې چې د موسی شریعت پرېږدي. همدارنګه هغوی ته وایې چې خپل اولادونه مه سنتوئ او د
یهودیانو د رواجونو څخه پیروي مه کوئ. ۲۲ هغوی خامخا ستاسو د راتللو څخه خبرېږي، نو بیا
څه وکړو؟ ۲۳ بیا هرڅه چې مونږ درته وایو هماغسې وکړه. دلته څلور کسان دي چې نذر یې
منلی دی. ۲۴ د هغوی سره لاړ شه او په ګډه ورسره د پاکوالي مراسم په ځای کړه او هغوی ته
پیسې ورکړه چې خپل سرونه وخرایي. نو په دې ډول به هغوی ټول په دې پوه شي څه چې ستا په
هکله ویل شوي وو هغه ربښتیا نه دي، بلکې ته په خپله هم د موسی د شریعت سره سم خپل ژوند
تېروې. ۲۵ خو د هغو غیریهودیانو په هکله چې ایمانداران شوي دي، مونږ هغوی ته خپله پرېکړه
په لیکلې توګه لېږلې ده چې هغوی باید د هغو خوړو څخه چې بتانو ته وړاندې کېږي، د وینې د
خوړلو څخه، د هغه حیوان د غوښې د خوړلو څخه چې زندی شوی وي او د جنسي بداخلاقۍ څخه
خپل ځانونه وساتي.»

۲۶ نو بله ورځ پولوس هغه څلور تنه د ځان سره بوتلل او د هغوی سره یې د پاکوالي مراسم سرته
ورسول. بیا هغه د خدای کور ته لاړ چې هغوی ته خبر ورکړي چې په څو ورځو کې به د پاکوالي
مراسم پوره کېږي او له هغې وروسته به د هر یو دپاره قرباني وړاندې کړای شي.

## پولوس د خدای په کور کې نیول کېږي

۲۷ د پاکوالي د مراسمو اووه ورځنۍ دوره لا پای ته نه وه رسېدلې چې د اسیا د ولایت ځینو
یهودیانو پولوس د خدای په کور کې ولیده. هغوی خلک ولمسول او پولوس یې ونیوه ۲۸ او چیغې
یې ووهلې: «ای د اسراییلو خلکو، مرسته وکړئ او د دې سړي په خلاف زمونږ سره یوځای شئ. دا
هغه سړی دی چې هرچېرته ځي او زمونږ د قوم، د موسی د شریعت او د خدای د کور په ضد هرچا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته تعلیم ورکوي. برسېره پردې هغه یونانیان هم د خدای کور ته راوستلي دي او دا سپېڅلی ځای يې
ورباندې ناپاکه کړی دی.» ۲۹ هغوی د دې دپاره دا خبرې وکړې چې له مخکې څخه يې
تروفیموس چې د افسیس څخه ؤ، په ښار کې د پولوس سره لیدلی ؤ او فکر يې کاوه چې پولوس
هغه د خدای کور ته راوستلی دی. ۳۰ په ټول ښار کې ګډوډي رامنځته شوه او خلکو د هرې خوا
څخه رامنډې کړې، پولوس يې ونیو او په راښکلو يې د خدای د کور څخه دباندې راوویست او
سمدلاسه د خدای د کور دروازې بندې شوې. ۳۱ کله چې خلکو هڅه کوله پولوس ووژني، په دې
وخت کې د رومي لښکرو قوماندان ته خبر ورسېده چې په ټول اورشلیم کې غوغا جوړه شوې ده.
۳۲ قوماندان سمدلاسه خپل عسکر او منصبداران د ځان سره واخیستل او د ګڼې ګوڼې خواته يې
ورمنډې کړې. کله چې خلکو قوماندان او عسکر ولیدل، نو د پولوس د وهلو نه يې لاس واخیست.
۳۳ بیا قوماندان پولوس ته نژدې ورغی او هغه يې ونیو او امر يې وکړ چې هغه په دوو زنځیرونو
باندې وتړئ. بیا هغه پوښتنه وکړه: «دا سړی څوک دی او څه يې کړي دي؟» ۳۴ ځینو خلکو به
په چیغو کې یو څه ویل او ځینو به بل څه. هلته دومره شور او غوغا وه چې قوماندان پوه نه شو چې
حقیقت څه دی. نو امر يې وکړ چې هغه نظامي‌قلعه ته بوځي. ۳۵ کله چې هغوی د نظامي‌قلعه زینو
ته ورسېدل، نو خلکو دومره زور راوړ چې عسکر مجبور شول پولوس په خپلو اوږو باندې یوسي،
۳۶ ځکه چې خلک ورپسې وو او چیغې يې وهلې: «هغه ووژنئ.»

## پولوس د خپل ځان څخه دفاع کوي

۳۷ عسکرو لا پولوس نظامي‌قلعه ته نه ؤ رسولی چې قوماندان ته يې وویل: «ایا زه کولای شم
تاته یو څه ووایم؟» قوماندان ورته وویل: «نو ته په یوناني ژبه هم خبرې کولای شې؟ ۳۸ نو بیا ته
هغه مصری نه يې چې څه موده مخکې يې الګوله جوړه کړې وه او څلور زره قاتلان يې د ځان سره
دښتې ته بیولي وو؟» ۳۹ پولوس ځواب ورکړ: «زه یهودي یم او په قیلیقیه کې د ترسوس د ښار
څخه یم چې یو مهم ښار دی. مهرباني وکړه اجازه راکړه چې د خلکو سره خبرې وکړم.» ۴۰
قوماندان ورته اجازه ورکړه، نو پولوس په زینې باندې ودرېده او د لاس په پورته کولو سره يې
خلکو ته اشاره وکړه چې غلي شي. کله چې هغوی غلي شول، نو په عبراني یعنې د هغوی په ژبه يې
د هغوی سره خبرې پیل کړې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ ۱ پولوس هغوی ته وویل: «ای زما یهودي ورونو او پلرونو! زه چې اوس تاسو ته د خپل
ځان څخه د دفاع دپاره څه وایم، ورته غوږ ونیسئ.» ۲ کله چې هغوی واورېدل پولوس په
عبراني ژبه خبرې کوي، نو هغوی نور هم غلي شول. بیا پولوس وویل: ۳ «زه یهودي یم او د
قیلیقیې په ترسوس کې پیدا شوی یم، خو دلته په اورشلیم کې لوی شوی یم او د غمالاییل شاګرد وم.
د هغه څخه مې په ډېرې سختې طریقې سره زده کړل چې څنګه د خپلو نیکونو د شریعت څخه
پیروي وکړم او په غیرت او شوق سره مې د خدای خدمت وکړ لکه څنګه چې تاسو یې کوئ. ۴
ما د مرګ تر حده د څښتن عیسی مسیح د لارې پیروان ځورول. ښځې او نران دواړه به مې نیول او
په زندان کې به مې اچول. ۵ لوی کاهن او د یهودیانو د شورا ټول غړي کولای شي شاهدي
ورکړي چې زه رښتیا وایم. هغوی ماته په دمشق کې د یهودي ورونو دپاره رسمي لیکونه راکړي وو.
نو زه دمشق ته لاړم چې هغه خلک لاس تړلي اورشلیم ته راولم چې سزا ورته ورکړل شي.

۶ کله چې زه په سفر روان وم او دمشق ته نژدې شوم او د غرمې وخت نژدې ؤ، نو ناڅاپه د
اسمان څخه یوه لویه رڼا زما شاوخوا وځلېدله. ۷ زه په ځمکه راولوېدم او یو اواز مې واورېد
چې ویل یې: ‹شاووله، شاووله! ته ولې ما ځوروې؟› ۸ ما پوښتنه وکړه: ‹ای څښتنه، ته څوک
یې؟› هغه ځواب راکړ: ‹زه ناصري عیسی یم، یعنې هغه څوک چې ته یې ځوروې.› ۹ زما ملګرو
رڼا ولیدله، خو چا چې زما سره خبرې کولې د هغه اواز یې نه اورېدلو. ۱۰ ما پوښتنه وکړه:
‹څښتنه، زه څه وکړم؟› څښتن راته وویل: ‹پاڅېږه او دمشق ته لاړ شه. کله چې هلته ورسېدلې، نو
په هغه ځای کې به د هغو ټولو کارونو په هکله چې ستا دپاره ټاکل شوي دي، درته وویل شي.› ۱۱
زه د هغې سختې رڼا له لاسه ړوند شوی وم، نو ملګرو مې له لاسه ونیولم او دمشق ته یې بوتلم.

۱۲ په هغه ښار کې یو سړی اوسېده چې حنانیا نومېده چې یو پرهېزګاره او په شریعت باندې
ټینګ ولاړ ؤ او د هغه ځای ټولو یهودیانو د هغه ډېر درناوی کاوه. ۱۳ هغه راغی، زما په څنګ کې
ودرېده او ویې ویل: ‹ای شاووله وروره، سترګې وغړوه.› په هماغه شېبه زه بینا شوم او هغه مې
ولیده. ۱۴ هغه وویل: ‹زمونږ د نیکونو خدای ته د دې دپاره غوره کړی یې چې د هغه رضا
وپېژنې، د هغه نېک خدمتګار ووینې او د هغه اواز د هغه د خپلې خولې څخه واورې. ۱۵ ځکه
چې ته به د ټولو خلکو دپاره د هغه شاهد اوسې او څه چې دې لیدلي او اورېدلي دي، د هغو شاهدي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ورکوې. ۱۶ اوس څه شي ته انتظار کوې؟ پاڅېږه، د تعميد غسل واخله او څښتن ته دعا وکړه
چې ګناهونه دې وبخښل شي.›

۱۷ کله چې زه بېرته اورشليم ته راغلم او د خدای په کور کې مې دعا کوله، نو رويا مې وليدله.
۱۸ په دې رويا کې مې څښتن وليده چې راته ويل يې: ‹زر شه او سمدلاسه د اورشليم څخه لاړ
شه، ځکه چې د دې ښار خلک به زما په هکله ستا شاهدي ونه مني.› ۱۹ ما وويل: ‹څښتنه،
هغوی په دې ښه پوهېږي چې زه هغه سړی يم چې ستا ايمانداران به مې زندان ته اچول او په هرې
کنيسې کې به مې وهل. ۲۰ کله چې ستا شاهد استيفان ووژل شو، نو زه هلته ولاړ وم او په دې کار
کې ورسره زما رضا وه او د هغه د قاتلانو د چپنو ساتنه مې کوله.› ۲۱ نو څښتن راته وويل: ‹لاړ
شه، ځکه چې زه تا د لېرې ځايونو غيريهوديانو ته لېږم.›»

## پولوس رسول او رومي قوماندان

۲۲ خلکو تر دې ځای پورې د پولوس خبرو ته غوږ ونيوه، خو هغوی چيغې پيل کړې: «داسې
سړی د دې نړۍ څخه ورک کړئ! هغه د دې لايق نه دی چې ژوندی پاتې شي.» ۲۳ هغوی چيغې
وهلې، خپل څادرونه يې له ځمکې وهل او خاورې يې پورته بادولې. ۲۴ رومي قوماندان امر وکړ
چې پولوس دننه نظامي‌قلعه ته بوځئ او په دورو يې ووهئ او پوښتنه ترې وکړئ، ترڅو دا معلومه
شي چې خلک ولې د هغه په خلاف داسې چيغې وهي. ۲۵ خو کله چې هغوی پولوس وتاړه چې
په دورو يې ووهي، نو پولوس د هغه منصبدار څخه چې په هغه ځای کې ولاړ ؤ، پوښتنه وکړه: «ايا
تاسو ته قانون دا اجازه درکوي چې يو رومي سړی چې جرم هم ورباندې ثابت شوی نه وي،
ووهئ؟» ۲۶ کله چې هغه منصبدار دا خبره واورېدله، نو قوماندان ته ورغی او پوښتنه يې ترې
وکړه: «ته پوهېږې چې څه کوې؟ دا سړی خو رومي دی.» ۲۷ نو قوماندان پولوس ته ورغی او
پوښتنه يې ترې وکړه: «ماته ووايه چې ته رومي يې؟» پولوس ځواب ورکړ: «هو.» ۲۸ قوماندان
وويل: «ما په ډېره لوړه بيه دا تابعيت حاصل کړی دی.» پولوس ورته وويل: «خو زه رومي يم، ځکه
چې مور او پلار مې روميان دي.» ۲۹ نو کومو عسکرو چې غوښتل د پولوس څخه پوښتنې
وکړي، هغه يې زر پرېښود او قوماندان هم ووېرېده، ځکه هغه پوه شو چې پولوس يو رومي سړی
دی او د هغه په امر تړل شوی ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ په بله ورځ قوماندان وغوښتل په دې پوه شي چې په کوم معقول دلیل یهودیان په پولوس تور
لګوي، نو پولوس یې ازاد کړ او مشرانو کاهنانو او ټولې شورا ته یې امر وکړ چې سره راټول شي. بیا
هغه پولوس راوست او د هغوی په مخکې یې ودراوه.

۲۳ ۱ پولوس په ځیر سره د شورا غړو ته وکتل او ویې ویل: «ای ورونو! ما تر نن ورځې
پورې په پاک وجدان سره د خدای په حضور کې ژوند تېر کړی دی.» ۲ په دې خبره لوی کاهن
حنانیا هغو خلکو ته چې د پولوس په خوا کې ولاړ وو، امر وکړ چې په خوله یې ووهئ. ۳ بیا
پولوس هغه ته وویل: «خدای به دې ووهي، ای په چونه باندې سپین شوی دېواله. ته ناست یې چې
د شریعت له مخې زما په هکله قضاوت وکړې، خو اوس د شریعت خلاف امر کوې چې ما ووهي.»
۴ نو هغو خلکو چې د پولوس په خوا کې ولاړ وو، وویل: «ته د خدای لوی کاهن ته سپکاوی
کوې؟» ۵ پولوس ځواب ورکړ: «ای ورونو، زه نه پوهېدم چې هغه لوی کاهن دی. ځکه چې د
خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

چې د خپل قوم مشر ته بدې خبرې مه کوئ.»

۶ کله چې پولوس پوه شو چې د شورا ځینې غړي صدوقیان او ځینې یې فریسیان دي، نو په لوړ
اواز یې وویل: «ای ورونو! زه فریسي یم او پلار مې هم فریسي ؤ. زه په دې خاطر محاکمه کېږم چې
په دې هیله یم چې مړي به بیا راژوندي کېږي.» ۷ څنګه چې هغه دا خبره وکړه، نو د فریسیانو
او صدوقیانو ترمنځ مخالفت پیدا شو او غونډه په دوو ډلو ووېشل شوه. ۸ (ځکه چې صدوقیان د
قیامت د ورځې، فرښتو او پېریانو څخه منکر دي، خو فریسیان دا ټول مني.) ۹ په غونډه کې ډېر
شورماشور او غوغا پیدا شوه او د فریسیانو د ډلې څخه د شریعت یو څو عالمان راپاڅېدل او په
کلکه یې وویل: «مونږ په دې سړي کې هېڅ غلطي نه وینو. کېدای شي چې کوم روح یا فرښتې
ورسره خبرې کړې وي.» ۱۰ دا مخالفت دومره سخت شو چې قوماندان ووېرېده چې هسې نه
هغوی پولوس ټوټې ټوټې کړي، نو عسکرو ته یې امر وکړ چې غونډې ته ورننوځي او پولوس په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوره د هغوی له منځ نه راوباسي او نظامي‌قلعه ته يې بوځي.

(١١) په هماغه شپه ښښتن د پولوس په خوا کې ودرېده او ويې ويل: «زړور اوسه! لکه څنګه چې تا په اورشليم کې زما په هکله شاهدي ورکړه، نو په روم کې هم بايد شاهدي ورکړې.»

## د پولوس په ضد دسيسه

(١٢) کله چې ورځ شوه، نو ځينې يهوديان سره راټول شول او يوه دسيسه يې جوړه کړه او قسم يې وخوړ چې ترڅو پورې مو پولوس نه وي وژلی، نو نه به څه خورو او نه به څه څښو. (١٣) کومو خلکو چې دا دسيسه جوړه کړې وه، شمېر يې د څلوېښتو تنو څخه زيات ؤ. (١٤) بيا هغوی مشرانو کاهنانو او د قوم مشرانو ته ورغلل او ويې ويل: «مونږ قسم خوړلی دی تر هغې پورې چې پولوس مو نه وي وژلی، نو مونږ به هېڅ شی ونه خورو. (١٥) نو اوس تاسو او د شورا غړي په دې بهانه چې غواړئ د هغه په هکله سم معلومات ترلاسه کړئ، د قوماندان څخه وغواړئ چې پولوس تاسو ته راولي. مونږ دې ته تيار يو چې دلته د رارسېدلو څخه مخکې هغه مړ کړو.»

(١٦) خو د پولوس د خور زوی د دې دسيسې څخه خبر شو او نظامي‌قلعه ته لاړ او پولوس يې خبر کړ. (١٧) بيا پولوس يو منصبدار راوغوښت او ورته ويې ويل: «دا ځوان سړی قوماندان ته بوځه، ځکه هغه غواړي چې قوماندان ته کوم څه ووايي.» (١٨) نو منصبدار هغه ځوان سړی قوماندان ته بوته او ورته ويې ويل: «زنداني شوي پولوس زه راوغوښتلم او زما څخه يې وغوښتل چې دا ځوان تاسو ته راولم، ځکه چې هغه غواړي تاسو ته څه ووايي.» (١٩) قوماندان هغه له لاسه ونيو او يو ګوښه ځای ته يې بوته او پوښتنه يې ترې وکړه: «ته څه غواړې چې ماته يې ووايې؟» (٢٠) هغه وويل: «ځينو يهوديانو دسيسه جوړه کړې چې ستاسو څخه وغواړي چې پولوس سبا شورا ته بوځئ. هغوی به داسې يوه بهانه وکړي چې غواړي د هغه په هکله سم معلومات ترلاسه کړي. (٢١) خو د هغوی خبرو ته غوږ مه نيسه، ځکه چې تر څلوېښتو زيات کسان هغه ته په کمين کې ناست دي او قسم يې خوړلی، ترڅو پورې يې چې پولوس مړ کړی نه وي، نو هغوی به نه څه خوري او نه به څه څښي. هغوی همدااوس دې کار ته تيار دي او ستا ځواب ته انتظار وباسي.» (٢٢) نو قوماندان هغه ځوان رخصت کړ او هغه ته يې حکم وکړ: «څه چې دې ماته وويل هغه هېچا ته ونه وايې.»



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پولوس فیلیکس والي ته لېږل کېږي

۲۳ بیا قوماندان خپل دوه تنه منصبداران راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: «دوه سوه پیاده او اویا
تنه سپاره عسکر او دوه سوه نېزه لرونکي تیار کړئ چې نن شپه نهه بجې قیصریې ته لاړ شي. ۲۴
د پولوس دپاره هم یو څو اسونه تیار کړئ چې ورباندې سپور شي او روغ رمټ یې فیلیکس والي ته
ورسوئ.» ۲۵ بیا قوماندان هغه ته یو لیک ولیکه چې په کې داسې لیکل شوي وو:

۲۶ «د کلودیوس لیسیاس له خوا دې ښاغلي فیلیکس والي ته سلام وي. ۲۷ دا سړی
یهودیانو نیولی ؤ او نږدې ؤ چې وژلی یې وای. خو کله چې زه خبر شوم هغه یو رومي دی،
نو د خپلو عسکرو سره ورغلم او هغه مې ترې خلاص کړ. ۲۸ ما غوښتل په دې پوه شم
چې هغوی پرې ولې تور لګولی دی، نو هغه مې د هغوی شورا ته بوته. ۲۹ زه پوه شوم چې
هغه داسې کار نه دی کړی چې د مرګ لایق وي او یا دې په زندان کې واچول شي. کوم تور
چې په هغه باندې لګېدلی دی هغه د هغوی د خپل شریعت پورې تړلې خبرې وې. ۳۰ خو
کله چې زه خبر شوم چې د هغه د وژلو دپاره دسیسه جوړه شوې ده، نو سمدلاسه مې پرېکړه
وکړه چې تاسو ته یې درولېږم او د هغه مدعیانو ته مې امر وکړ چې خپله دعوه دې تاسو ته
وړاندې کړي.»

۳۱ نو عسکرو د حکم سره سم په هماغه شپه پولوس د انتیپاتریس ښار ته بوته. ۳۲ په بله ورځ
پیاده عسکر بېرته خپلې نظامي‌قلعه ته راستانه شول او سپاره عسکر یې پرېښودل چې د پولوس سره
لاړ شي. ۳۳ کله چې هغوی قیصریې ته ورسېدل، نو هغه لیک یې والي ته ورساوه او پولوس یې
ورته وروسپاره. ۳۴ والي لیک ولوست او د پولوس څخه یې پوښتنه وکړه چې د کوم ولایت څخه
دی. کله چې پوه شو چې هغه د قیلیقیې څخه دی، ۳۵ نو والي ورته وویل: «زه به هغه وخت ستا
دعوه واورم چې کله ستا مدعیان راورسېږي.» بیا هغه امر وکړ چې پولوس دې د هیرودیس په ماڼۍ
کې وساتل شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فیلیکس والي په حضور کې د پولوس محاکمه

**۲۴** ﴿۱﴾ پنځه ورځې وروسته لوی کاهن حنانیا د څو تنو مشرانو او د ترتولوس په نوم د یو وکیل سره قیصریې ته راورسېدل او د پولوس په ضد یې خپله دعوه والي ته وړاندې کړه. ﴿۲﴾ کله چې پولوس راوغوښتل شو، نو ترتولوس خپله دعوه داسې پیل کړه: «ښاغلیه، ستاسو د ښه مشرتوب له امله مونږ د دوامدارې سولې څخه برخمن شولو او زمونږ د وطن د ښېګڼې دپاره ډېر ضروري اصلاحات روان دي. ﴿۳﴾ مونږ په هرځای کې او په هر وخت کې ستاسو د دې کارونو دپاره د زړه له کومې ډېره مننه کوو. ﴿۴﴾ زه نه غواړم چې ستاسو ډېر وخت ونیسم، نو ستاسو څخه غوښتنه کوم چې د مهربانۍ له مخې زمونږ څو خبرو ته غوږ ونیسئ. ﴿۵﴾ مونږ ته معلومه شوې ده چې دا یو شر جوړوونکی سړی دی او په ټوله نړۍ کې د یهودیانو ترمنځ شور او غوغا راپیدا کوي او د ناصریانو د مذهبي ډلې مشر دی. ﴿۶﴾ همدارنګه هغه کوښښ کاوه چې د خدای د کور بې‌عزتي وکړي، خو مونږ هغه ونیوه. [مونږ غوښتل چې د خپل شریعت له مخې هغه محاکمه کړو. ﴿۷﴾ خو لیسیاس قوماندان راغی او په زوره یې هغه زمونږ نه خلاص کړ ﴿۸﴾ او د هغه مدعیانو ته یې امر وکړ چې ستاسو حضور ته راشي.] که تاسو خپله د پولوس څخه پوښتنه وکړئ، نو پوه به شئ چې زمونږ دعوه رښتیا ده.» ﴿۹﴾ بیا نورو حاضرو یهودیانو هم په پولوس باندې همدا تورونه ولګول او ویې ویل چې د ترتولوس ټولې خبرې رښتیا دي.

## د فیلیکس په حضور کې د پولوس دفاع

﴿۱۰﴾ والي پولوس ته اشاره وکړه چې خبرې وکړي او پولوس وویل: «زه خبر یم چې ډېر کلونه کیږي تاسو د دې قوم قاضي یئ، نو زه په خوشحالۍ سره ستاسو په مخکې د خپل ځان څخه دفاع کوم. ﴿۱۱﴾ تاسو ته به خپله معلومه شي چې د دولسو ورځو څخه زیات وخت نه کیږي چې زه اورشلیم ته د عبادت کولو دپاره تللی وم. ﴿۱۲﴾ هیڅا زه نه یم لیدلی چې د خدای په کور کې مې د چا سره بحث کړی وي یا مې په کنیسې یا مې د ښار په کوم بل ځای کې خلک راپارولي وي. ﴿۱۳﴾ کوم تورونه چې هغوی په ما لګولي دي د هغو په هکله تاسو ته کوم ثبوت نه شي وړاندې کولای.
﴿۱۴﴾ خو زه ستاسو په حضور کې اقرار کوم چې زه د خپلو نیکونو د خدای په عبادت کولو کې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن عیسی د لارې څخه پیروي کوم چې هغوی یې غلطه بولي. زه په هغو ټولو شیانو چې د موسی په شریعت او د پیغمبرانو په کتابونو کې لیکل شوي دي، عقیده لرم. ۱۵ زه خدای ته همداسې هیله لرم چې دوی یې لري او هغه دا چې نېک او بد خلک به دواړه د قیامت په ورځ له مړو نه راژوندي کیږي. ۱۶ نو زه تل کوښښ کوم چې د خدای او انسانانو په حضور کې پاک وجدان ولرم.

۱۷ وروسته له څو کلونو زه اورشلیم ته راغلم چې خپل قوم ته خیرات یوسم او قرباني وکړم. ۱۸ زه د خدای په کور کې د پاکوالي د مراسمو د سرته رسولو څخه وروسته هغوی ولیدم. هلته نه د خلکو ګڼه‌ګوڼه او نه کومه شور او غوغا وه. ۱۹ خو د اسیا د ولایت ځینې یهودیان چې هلته موجود وو، باید په خپله دلته حاضر شي او که زما په خلاف کوم څه لري، نو خپل تورونه دې وړاندې کړي. ۲۰ یا پرېږدئ چې په خپله دا خلک ووایي کله چې زه د شورا په مخکې ولاړ وم په ما کې کوم جرم پیدا کړ، ۲۱ بې له یو شي چې کله زه د هغوی په مخکې ولاړ وم او په لوړ اواز مې وویل: ‹زه نن له دې امله محاکمه کېږم چې په دې عقیده یم چې مړي به بیا راژوندي کیږي.›»

۲۲ خو فیلیکس چې د ښبنتن عیسی د لارې نه ښه خبر ؤ، نو محاکمه یې وځنډوله او ویې ویل: «کله چې لیسیاس قوماندان راورسېده، نو بیا به زه ستاسو د دعوې په هکله خپله پرېکړه وکړم.»
۲۳ هغه یو منصبدار ته امر وکړ چې پولوس تر نظارت لاندې ونیسي او هغه ته لږ څه ازادي ورکړي او د هغه ملګرو ته چې د هغه د اړتیاوو د پوره کولو دپاره ځي او راځي، اجازه ورکړي.

## پولوس د فیلیکس او دروسیلې په حضور کې

۲۴ څو ورځې وروسته فیلیکس د خپلې ښځې دروسیلې سره چې یهودۍ وه، راغی. هغه پولوس راوغوښت او د هغه خبرې یې چې په عیسی مسیح باندې د ایمان راوړلو په هکله کولې، واورېدلې.
۲۵ خو کله چې پولوس د عدالت، په خپل نفس باندې د واک لرلو او د قیامت د ورځې په هکله خبرې کولې، نو فیلیکس ووېرېده او ویې ویل: «د اوس دپاره همدومره بس دی. کله چې یو مناسب وخت پیدا شو بیا به دې راوغواړم.» ۲۶ په همدې وخت کې هغه په دې هیله ؤ چې پولوس به ورته رشوت ورکړي او له همدې امله به یې هغه هر وخت راغوښته او خبرې به یې ورسره کولې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ کله چې دوه کاله تېر شول، نو پورکيوس فستوس د فيليکس په ځای والي وټاکل شو. فيليکس
د يهوديانو د خوشحالولو دپاره پولوس په زندان کې پرېښود.

## د رومي امپراتور څخه د پولوس غوښتنه

# ۲۵

۱ کله چې فستوس قيصريې ته د والي په توګه راغی، نو درې ورځې وروسته اورشليم ته
لاړ. ۲-۳ هلته مشرانو کاهنانو او د يهوديانو مشرانو د پولوس په خلاف خپله دعوه هغه ته
وړاندې کړه. هغوی د فستوس څخه غوښتنه وکړه چې ورباندې مهرباني وکړي او پولوس اورشليم ته
راوغواړي. ځکه چې هغوی ورته دسيسه جوړه کړې وه چې کمين ورته ونيسي او په لاره کې يې
ووژني. ۴ فستوس ځواب ورکړ: «پولوس په قيصريه کې بندي ساتل شوی دی او زه په خپله ډېر
زر بېرته هلته ورځم. ۵ نو ستاسو مشران دې زما سره قيصريې ته لاړ شي او که هغه کوم غلط
کار کړی وي، نو دعوه دې پرې وکړي.»

۶ فستوس د اتو يا لسو ورځو دپاره په اورشليم کې پاتې شو او بيا قيصريې ته لاړ. په بله ورځ
هغه په محکمه کې په خپلې چوکۍ باندې کېښناست او امر يې وکړ چې پولوس راولي. ۷ کله چې
پولوس راغی، نو هغه يهوديان چې د اورشليم څخه راغلي وو د هغه څخه شاوخوا راتاو شول او په
هغه باندې يې ډېر سخت تورونه ولګول چې ثابتولی يې نه شول. ۸ پولوس د خپل ځان څخه
دفاع وکړه او ويې ويل: «ما نه د يهوديانو د شريعت په خلاف، نه مې د خدای د کور او نه مې د
امپراتور په خلاف کوم غلط کار کړی دی.» ۹ خو فستوس غوښتل چې يهوديان خوشحاله کړي،
نو د پولوس څخه يې پوښتنه وکړه: «ايا ته غواړې چې اورشليم ته لاړ شې او د دې تورونو له امله
چې درباندې لګېدلي دي په هغه ځای کې زما په حضور کې ستا محاکمه وشي؟» ۱۰ پولوس په
ځواب کې وويل: «زه همدااوس د امپراتور په محکمه کې يعنې هغه ځای کې چې بايد زما قضيه په
کې وچلېږي، ولاړ يم. تاسو ته ښه معلومه ده چې ما د يهوديانو په خلاف کوم جرم نه دی کړی. ۱۱
که چېرې زه مجرم يم او داسې کار مې کړی وي چې د مرګ د سزا لايق يم، نو د مرګ څخه نه
تښتم. خو که چېرې هغه تورونه چې د دې يهوديانو له خوا په ما لګېدلي دي رښتيا نه وي، نو
هېڅوک حق نه لري چې ما هغوی ته په لاس ورکړي. زه امپراتور ته عرض کوم چې خپله دې زما د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قضيې په هکله پرېکړه وکړي.» ﴿۱۲﴾ بیا فستوس د خپلو مشاورانو سره د مشورې کولو نه وروسته په ځواب کې وويل: «دا چې تا امپراتور ته عرض کړی دی، نو امپراتور ته به لاړ شې.»

## پولوس د اګریپاس او برنیکی په حضور کې

﴿۱۳﴾ څو ورځې وروسته اګریپاس پاچا او د هغه خور برنیکی قیصریې ته راغلل چې فستوس ته هرکلی ووايي. ﴿۱۴﴾ هغوی د څو ورځو دپاره هلته پاتې شول، نو فستوس د پولوس قضيه پاچا ته وړاندې کړه او ويې ويل: «دلته یو سړی دی چې فیلیکس په زندان کې پريښی دی. ﴿۱۵﴾ کله چې زه اورشلیم ته لاړم، نو د مشرانو کاهنانو او نورو يهودي مشرانو په هغه باندې تورونه ولګول او زما څخه يې وغوښتل چې هغه ته سزا ورکړم. ﴿۱۶﴾ خو ما هغوی ته ځواب ورکړ چې دا د رومیانو دود او دستور نه دی چې یو تورن سړی دې خپلو مدعیانو ته په لاس ورکړي، تر هغې چې هغه د خپلو مدعیانو سره مخامخ نه کړي او هغه ته دا موقعه ورنه کړي چې د لګول شويو تورونو په وړاندې د خپل ځان څخه دفاع وکړي. ﴿۱۷﴾ کله چې هغوی دلته راغلل، نو ځنډ مې ونه کړ او په بله ورځ په محکمه کې کښېناستم او امر مې وکړ چې هغه راولي. ﴿۱۸﴾ کله چې د هغه مدعیان پاڅېدل چې خبرې وکړي، هغوی ونه شو کولای چې هغه په هغو جرمونو باندې چې زما په خیال کې هم نه وو، ملامته کړي. ﴿۱۹﴾ هغوی د خپل دین او د یو سړي په هکله چې عیسی نومېږي او مړ شوی دی، د نظر اختلاف درلود او پولوس دعوه کوي چې هغه ژوندی دی. ﴿۲۰﴾ زه زړه نازړه وم چې څنګه د دې موضوع په هکله څېړنه وکړم، نو د پولوس څخه مې پوښتنه وکړه چې ایا ته غواړې چې اورشلیم ته لاړ شې او هلته دې قضيه وڅېړل شي. ﴿۲۱﴾ خو پولوس غوښتنه وکړه تر هغې پورې چې امپراتور د هغه د قضيې په هکله خپله پرېکړه نه وي کړې، هغه دې تر نظارت لاندې وساتل شي. نو ما امر وکړ، ترڅو پورې چې هغه امپراتور ته لېږم هغه دې بندي وساتل شي.» ﴿۲۲﴾ اګریپاس فستوس ته وويل: «زه غواړم چې په خپله د دې سړي خبرې واورم.» فستوس ځواب ورکړ: «سبا به د هغه خبرې واورې.»

﴿۲۳﴾ په بله ورځ اګریپاس او برنیکی په زیات شان او شوکت سره راغلل او د قوماندانانو او د ښار د مشرانو سره دربار ته ننوتل. بیا فستوس امر وکړ او پولوس يې حاضر کړ. ﴿۲۴﴾ بیا فستوس وويل:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«ای اګریپاس پاچا او ټولو حاضرینو! تاسو دا سړی وینئ چې ټولو یهودیانو که دلته دي او که په اورشلیم کې دي، ورځخه ماته شکایت کړی دی. هغوی چیغې وهلې چې دا سړی باید ژوندی پاتې نه شي. ۲۵ خو زما په نظر هغه کوم داسې کار نه دی کړی چې د مرګ سزا دې ورکړای شي. خرنګه چې هغه خپله عرض وکړ چې امپراتور دې د هغه د قضیې په هکله پرېکړه وکړي، نو ما پرېکړه وکړه چې هغه روم ته ولېږم. ۲۶ خو د هغه په هکله زما سره کوم ځانګړی څه شی نشته چې امپراتور ته یې ولیکم. نو هغه مې تاسو ټولو او په ځانګړې توګه ستاسې اګریپاس پاچا حضور ته راوست، ترڅو د هغه د قضیې تر څېړلو وروسته وکولای شم هغه ته یو څه ولیکم. ۲۷ ځکه چې زما په نظر دا خبره سمه نه ده چې یو بندي بې له کومو ښکاره تورونو امپراتور ته ولېږم.»

## د اګریپاس په حضور کې د پولوس دفاع

**۲۶** ۱ اګریپاس پولوس ته وویل: «تاته اجازه درکول کیږي چې د خپل ځان څخه دفاع وکړې.» نو پولوس خپل لاس پورته کړ او د خپل ځان څخه یې داسې دفاع وکړه: ۲ «ای پاچا، زه خپل ځان بختور ګڼم چې نن ستاسو په حضور کې ولاړ یم او د هغو ټولو تورونو په خلاف چې د یهودیانو له خوا په ما لګېدلي دي، د خپل ځان څخه دفاع کوم. ۳ په ځانګړې توګه څرنګه چې تاسو د یهودیانو د ټولو دودونو او د هغوی ترمنځ چې کوم اختلافات موجود دي، د هغو ټولو سره بلد یئ. نو تاسو ته سوال کوم چې په پوره صبر او حوصلې سره زما خبرو ته غوږ ونیسئ.

۴ ټول یهودیان پوهیږي چې ما د ځوانی د وخت نه د خپلو خلکو سره او په اورشلیم کې څنګه ژوند تېر کړی دی. ۵ هغوی ما له پخوا څخه پېژني او که چېرې هغوی وغواړي، نو کولای شي تصدیق کړي چې زه د فریسیانو د ډلې غړی وم چې دا زموږ یوه ډېره سرسخته مذهبي ډله ده. ۶ اوس د دې دپاره چې د خدای د هغې وعدې په هیله یم چې زموږ د نیکونو سره یې کړې ده، محاکمه کیږم. ۷ دا هغه وعده ده چې زموږ د خلکو دولس قبیلې د هغې د پوره کېدلو په هیله شپه او ورځ عبادت کوي. ای پاچا! د همدې هیلې په خاطر یهودیان په ما باندې تورونه لګوي. ۸ تاسو هر یو ته دا ولې ناشونې ښکاري چې خدای مړي راژوندي کولای شي؟ ۹ یو وخت ما خپله داسې فکر کاوه هرڅه چې کولای شم باید د ناصري عیسی د نوم سره د مخالفت کولو دپاره یې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړم. ⑩ ما په اورشليم کې همداسې وکړل. د مشرانو کاهنانو څخه مې واک او اختيار ترلاسه کړ
او ډېر ايمانداران مې زندان ته واچول او کله به چې هغوی ته د مرګ سزا ورکول کېدله، نو ما به هم د
هغوی په خلاف رايه ورکوله. ⑪ څو څو ځلې مې هغوی ته په کنيسو کې سزا ورکړې ده او
کوښښ مې کاوه چې هغوی دې ته مجبور کړم چې د خپلې عقيدې څخه منکر شي. زما قهر او
غضب تر دې حده پورې ورسېده چې حتی هغوی پسې به د نورو هېوادونو ښارونو ته تللم چې
هغوی وځوروم.

## پولوس د خپل ايمان راوړلو په هکله خبرې کوي

⑫ يوه ورځ زه د هغه واک او حکم له مخې چې د مشرانو کاهنانو له خوا راکړل شوی ؤ، د يو کار
پسې دمشق ته روان وم. ⑬ ای پاچا! کله چې زه د غرمې په وخت کې په لاره روان وم، نو ما يوه
رڼا وليدله چې د لمر څخه هم زياته روښانه وه او د اسمان څخه راروانه وه او په ما او زما د سفر په
ملګرو باندې وځلېدله. ⑭ مونږ ټول په ځمکه باندې راولوېدلو. بيا مې په عبراني ژبه کې يو اواز
واورېد چې ماته يې وويل: ‹ای شاووله، ای شاووله، ته ولې ما ځوروې؟ دا يو بې‌ګټې کار دی چې د
خپل بادار په وړاندې ودرېږې.› ⑮ ما پوښتنه وکړه: ‹ای څښتنه، ته څوک يې؟› او څښتن وويل:
‹زه عيسی يم، يعنې هغه څوک چې ته يې ځوروې. ⑯ خو اوس پاڅېږه او په خپلو پښو ودرېږه.
زه تاته د دې دپاره راښکاره شوم چې تا خپل خدمتګار وټاکم او څه چې دې زما څخه وليدل او
هغه څه چې په راتلونکې کې به يې درته وښايم د هغو په هکله به شاهدي ورکړې. ⑰ زه به تا د
اسراييلو د قوم او غيريهوديانو څخه وژغورم. زه تا هغوی ته لېږم ⑱ چې د هغوی سترګې خلاصې
کړې، ترڅو هغوی د تيارې څخه رڼا ته او د شيطان د واکمنۍ څخه يې د خدای خواته راواړوې،
ترڅو په ما باندې د ايمان راوړلو په وسيله د هغوی ګناهونه وبخښل شي او د خدای په سپېڅلو
خلکو کې شامل شي.›

## پولوس د خپلو خدمتونو په هکله خبرې کوي

⑲ نو ای پاچا! ما د هغه حکم څخه چې په اسماني رويا کې راته وشو، سرغړونه نه ده کړې. ⑳
ما لومړی په دمشق او اورشليم کې او بيا په ټوله يهوديه کې او همدارنګه غيريهوديانو ته مې اعلان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړ چې د خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي، د خدای خواته راوګرځي او داسې کارونه وکړي چې
ثابته کړي چې هغوی توبه ويستلې ده. (۲۱) له همدې امله ځينو يهوديانو زه د خدای په کور کې
ونيولم او کوښښ يې کاوه چې ما ووژني. (۲۲) خو تر نن ورځې پورې خدای وساتلم او دلته ولاړ
يم او ټولو لويو او وړو ته شاهدي ورکوم. زه يوازې هغه څه وايم چې موسی او نورو پيغمبرانو ويلي
دي چې پېښ به شي، (۲۳) يعنې دا چې مسيح بايد کړاوونه وزغمي او لومړنی کس به وي چې د
مړو څخه به راژوندی شي او يهوديانو او غيريهوديانو دواړو ته به د خلاصون د رڼا اعلان وکړي.»

## پولوس اګريپاس ته د مسيحيت بلنه ورکوي

(۲۴) پولوس لا د خپل ځان څخه د دفاع په خاطر خبرې کولې چې فستوس چيغې کړې: «ای
پولوسه، ته لېونی يې! په ډېرو لوستلو لېونی شوی يې.» (۲۵) پولوس په ځواب کې وويل: «نه
ښاغليه! زه لېونی نه يم. زه په هوش يم او رښتيا او معقولې خبرې کوم. (۲۶) پاچا په دې ښه خبر
دی او زه د هغه سره په زړورتيا سره خبرې کوم. زه په دې باندې ډاډه يم چې دا ټولې پېښې تاسو ته
معلومې دي، ځکه چې هغه په کوم پټ ځای کې نه دي شوې. (۲۷) ای پاچا! ايا تاسو په پيغمبرانو
باندې عقيده لرئ؟ زه پوهېږم چې تاسوورباندې عقيده لرئ.» (۲۸) اګريپاس پولوس ته وويل: «ته
فکر کوې چې دومره زر به ما مسيحي کړې؟» (۲۹) پولوس وويل: «که لږ وخت ونيسي يا ډېر، خو
زه خدای ته دعا کوم چې يوازې تاسو نه بلکې هغه ټول خلک چې نن زما خبرې اوري، زما په شان
شي، بې له شکه زما په شان په زولنو کې نه.»

(۳۰) بيا پاچا پاچهبد او والي، برنيکی او نور خلک چې د هغوی سره ناست وو، هم پاڅېدل. (۳۱)
کله چې هغوی ووتل، نو يو بل ته يې سره وويل: «دې سړي داسې کوم کار نه دی کړی چې د مرګ
يا زندان ته د اچولو وړ وي.» (۳۲) اګريپاس فستوس ته وويل: «که چېرې دې سړي امپراتور ته
عرض نه وای کړی، نو ازادېدلی شو.»

## پولوس په کشتۍ کې روم ته بيول کيږي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ۲۷

(۱) کله چې دا پرېکړه وشوه چې مونږ به په کشتۍ کې ایټالیا ته ځو، نو هغوی پولوس او ځینې نور بندیان یولیوس ته چې د روم د امپراتور د لښکرو د کنډک یو منصبدار ؤ، وسپارل. (۲) بیا مونږ د ادرامیتیني په کشتۍ کې چې د اسیا د ولایت بندرونو ته روانه وه، سپاره شولو. زمونږ سره یو مقدوني سړی چې ارسترخوس نومېده او د تسالونیکیې ښخه ؤ، هم ملګری ؤ. (۳) په بله ورځ مونږ د صیدون د ښار بندر ته ورسېدلو. یولیوس په پولوس مهربانه شو او هغه ته یې اجازه ورکړه چې خپلو ملګرو ته ورشي او چې کوم شي ته اړتیا ولري، هغوی یې ورته ورکړي. (۴) مونږ د صیدون ښخه روان شولو، خو له دې امله چې باد مونږ ته مخامخ لګېده، نو د قبرس د جزیرې په بلې خوا لاړو، ځکه چې هلته باد نه لګېده. (۵) کله چې مونږ د قیلیقیې او پمفیلیې د بحیرو ښخه تېر شولو، نو د میرا ښار ته چې د لیکیا په ولایت کې دی، ورسېدلو. (۶) په هغه ځای کې هغه منصبدار د سکندریې یوه کشتۍ پیدا کړه چې ایټالیا ته روانه وه او مونږ یې په هغې کې سپاره کړو. (۷) تر ډېرو ورځو پورې مونږ ورو ورو تللو او په ډېر تکلیف سره قنیدوس ته ورسېدلو. څرنګه چې باد مونږ ته مخامخ لګېده، نو بلې خواته مو حرکت وکړ او د کریت د جزیرې په هغې خوا چې د باد ښخه پناه وه، روان شولو او د سلموني د سیمې ښخه تېر شولو. (۸) په سختۍ سره د بحیرې په غاړه تللو او یو ځای ته ورسېدلو چې د «خوندي بندر» په نوم یادېده او د لسایې ښار ته نژدې ؤ.

(۹) هلته مونږ زیات وخت له لاسه ورکړ او زمونږ دپاره نور سفر کول خطرناک ؤ، ځکه چې د کفارې ورځ تېره شوې وه. نو پولوس هغوی ته دا مشوره ورکړه: (۱۰) «ای ملګرو، ماته ښکاري چې د دې ځای نه وروسته به زمونږ سفر خطرناک وي. یوازې کشتۍ او د هغې بار ته به لوی تاوان ونه رسیږي بلکې زمونږ ژوند ته به هم خطر وي.» (۱۱) خو هغه منصبدار د پولوس په ځای د کشتۍ د مشر او د کشتۍ د خاوند خبرو ته زیات غوږ نیوه. (۱۲) څرنګه چې هغه بندر د ژمي تېرولو دپاره مناسب نه ؤ، نو د هغوی ښخه زیاتو یې دا پرېکړه وکړه چې له هغه ځای ښخه حرکت وکړي او کوښښ وکړي چې فینکاس ته ورسیږي او ژمی هلته تېر کړي. فینکاس په کریت کې یو بندر دی چې جنوب لوېدیځ او شمال لوېدیځ خواته مخامخ دی.

په بحیره کې توفان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ کله چې د جنوب له خوا نرۍ نرۍ باد راوالوت، نو هغوی فکر وکړ چې خپل مقصد ته
ورسېدل. نو هغوی د کشتۍ لنګر راکش کړ او د کريت په غاړه روان شول. ۱۴ خو ډېر وخت نه ؤ
تېر شوی چې يو توفاني باد چې د «شمال ختيځ» د باد په نوم يادېږي، د جزيرې څخه زمونږ خواته
راوالوت. ۱۵ کشتۍ په توفان کې راګېره شوه او د دې امکان نه ؤ چې د باد مخالف طرف ته لاړه
شي، نو مونږ نوره هڅه ونه کړه او پرې مو ښودله چې کوم طرف ته چې باد لګېږي هماغې خواته
کشتۍ بوځي. ۱۶ مونږ د کاودا په نوم د يوې کوچنۍ جزيرې طرف ته چې د باد څخه پناه وه،
روان شولو. په ډېرې سختۍ سره مو وکولای شول چې هغه کوچنۍ کشتۍ خوندي وساتو. ۱۷ هغه
کوچنۍ کشتۍ يې لويې کشتۍ ته وخېژوله او لويه کشتۍ يې ګردچاپېره په رسيو باندې وتړله. هغوی
وېرېدل چې د سيرتيس په شګو کې به ونښلي. هغوی د کشتۍ لنګر راښکته کړ او کشتۍ يې پرېښودله
چې باد يې بوځي. ۱۸ په بله ورځ چې ډېر سخت توفان ؤ، نو هغوی د کشتۍ يو څه بار اوبو ته
وغورځاوه. ۱۹ خو په درېمه ورځ يې د کشتۍ سامان په خپلو لاسونو بحيرې ته وغورځاوه. ۲۰
تر ډېرو ورځو پورې مونږ نه لمر وليده او نه ستورې او سخت باد لګېده او نور زمونږ د خلاصون
هېڅ هيله نه وه.

۲۱ په کشتۍ کې ناستو خلکو تر ډېره وخته پورې هېڅ شی نه وو خوړلي، نو پولوس د هغوی په
مخکې ودرېده او ويې ويل: «ای ملګرو، تاسو بايد زما خبره منلې وای او د کريت څخه مو حرکت
نه وای کړی، نو د دې زيان او تاوان څخه به ساتل شوي وای. ۲۲ خو اوس تاسو ته مشوره درکوم
چې زړور اوسئ! په تاسو کې به هېڅوک هم خپل ژوند له لاسه ورنه کړي، خو کشتۍ به ټوټې ټوټې
شي، ۲۳ ځکه چې پرون شپه د هغه خدای فرښته چې زه د هغه يم او د هغه عبادت کوم، ماته
راغله او زما په څنګ کې ودرېدله ۲۴ او ويې ويل: ‹پولوسه! مه وېرېږه، ځکه چې ته بايد د
امپراتور په مخکې ودرېږې او خدای به په خپل فضل سره ستا په خاطر د هغو ټولو کسانو ژوند چې
تا سره په کشتۍ کې دي، وژغوري.› ۲۵ نو ای خلکو، زړور اوسئ! ځکه چې زه په خدای ايمان
لرم. لکه څنګه چې ماته ويل شوي دي، همداسې به وشي. ۲۶ خو مونږ به د جزيرې په غاړه
وغورځول شو.»

۲۷ دا څوارلسمه شپه وه چې مونږ د مديترانې په بحيره کې د توفان له امله يوې خوا او بلې خواته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړل کېدلو. خو نژدې نيمه شپه وه چې کشتيوانانو دا ګومان وکړ چې وچې ته ورنژدې کيږي. ٢٨ هغوی د اوبو ژوروالی اندازه کړ او ويې ليدل چې څلوېښت متره ؤ او د لږې فاصلې څخه وروسته يې چې بيا اندازه واخيستله، نو دېرش متره وه. ٢٩ هغوی وېرېدل هسې نه چې د ګټانو سره ولګيږي، نو د کشتۍ له شا نه يې څلور لنګرونه واچول او دعا يې وکړه چې زر سبا شي. ٣٠ کشتيوانانو کوښښ کاوه چې د کشتۍ څخه وتښتي او هغوی په دې بهانه چې غواړي د کشتۍ د مخکينۍ برخې يو څو لنګرونه واچوي، کوچنۍ کشتۍ يې بحيرې ته ښکته کړه. ٣١ خو پولوس هغه منصبدار او عسکرو ته وويل: «که چېرې کشتيوانان په کشتۍ کې پاتې نه شي، نو ستاسو څخه به هېڅوک هم ونه ژغورل شي.» ٣٢ نو عسکرو د کوچنۍ کشتۍ طنابونه پرې کړل او هغه يې پرېښودله چې په بحيره کې لاړه شي.

٣٣ د لمرخاته څخه مخکې پولوس د ټولو څخه وغوښتل چې يو څه شی وخوري. هغه وويل: «نن څوارلسمه ورځ ده چې تاسو دومره پرېشانه يئ چې هېڅ شی مو نه دي خوړلي. ٣٤ نو له دې امله تاسو ته سوال کوم چې لږ خواړه وخورئ، ځکه چې تاسو ورته اړتيا لرئ د دې دپاره چې ژوندي پاتې شئ. په تاسو کې به د هېچا د سر يو ويښته هم کم نه شي.» ٣٥ کله چې پولوس دا خبره وکړه، بيا يې لږه ډوډۍ راواخيستله، د ټولو په مخکې يې د خدای شکر وکړ، هغه يې ماته کړه او په خوړلو يې پيل وکړ. ٣٦ هغوی ټولو همت پيدا کړ او خواړه يې وخوړل. ٣٧ په کشتۍ کې مونږ ټول دوه سوه او شپږ اويا تنه وو. ٣٨ کله چې هغوی ټول ماړه شول، نو ټول غنم يې بحيرې ته ورګوزار کړل چې کشتۍ سپکه شي.

## د کشتۍ ټوټې ټوټې کېدل

٣٩ کله چې سهار شو، نو کشتيوانانو وچه ځمکه ونه پېژندله، خو هغوی د خليج غاړه وليدله او پرېکړه يې وکړه چې که کېدای شي نو کشتۍ به په هغه ځای باندې وخېژوو. ٤٠ نو هغوی هغه طنابونه چې لنګرونه پرې تړل شوي وو، پرېکړل او هغه يې په بحيره کې پرېښودل او په هماغه وخت کې يې د کشتۍ د راشپېلونو طنابونه سست کړل. بيا هغوی د کشتۍ د مخکينۍ برخې بادوان د باد خواته پورته کش کړ او کشتۍ د بحيرې غاړې ته روانه شوه. ٤١ خو کشتۍ د اوبو لاندې د شګو د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غونډۍ سره ولګېدله او هلته ونښتله. د کشتۍ مخکينۍ برخه ډېره سخته ولګېدله او حرکت يې نه شو
کولای، خو وروستنۍ برخه يې د سختو څپو له امله ټوټې ټوټې شوه.

٤٢ عسکرو پرېکړه وکړه چې ټول بنديان به ووژنو، هسې نه چې په لامبو وهلو وتښتي. ٤٣ خو
هغه منصبدار غوښتل چې پولوس وژغوري، نو هغوی يې د دې کار څخه منع کړل. هغه امر وکړ چې
اول دې هغه کسان چې لامبو وهلی شي، ځانونه اوبو ته وغورځوي او وچې ته دې ځانونه ورسوي.
٤٤ او نورو ته يې وويل چې په تختو او يا د کشتۍ په ټوټو باندې دې هغوی پسې ورشي. په دې
ډول مونږ ټول روغ رمټ وچې ته ورسېدلو.

## پولوس د مالټا په جزيره کې

٢٨ ١ کله چې مونږ روغ رمټ د بحيرې غاړې ته ورسېدلو، نو پوه شولو چې دا د مالټا په نوم
جزيره ده. ٢ د هغه ځای خلکو په مونږ ډېره مهرباني وکړه او څرنګه چې هوا سړه وه او باران
ورېده، نو اور يې راته بل کړ او مونږ ټولو ته يې تود هرکلی ووايه. ٣ پولوس يو څه لرګي راټول
کړل او هغه يې اور ته واچول او د اور د ګرموالي له امله يو زهرجن مار راووت او د هغه د لاس
پورې ونښته. ٤ کله چې د هغه ځای خلکو وليدل چې د پولوس په لاس پورې مار ځوړند دی،
نو يو بل ته يې سره وويل: «دا سړی به خامخا قاتل وي. که څه هم هغه له بحيرې څخه وژغورل
شو، خو الهي عدالت به هغه ژوندی پرېنږدي.» ٥ خو پولوس هغه مار اور ته ورګوزار کړ او کوم
زيان ورته ونه رسېده. ٦ هغوی په دې تمه وو چې پولوس به زر وپړسېږي او يا به ناڅاپه
راولوېږي او مړ به شي. خو کله چې هغوی ډېر انتظار وويست او ويې ليدل چې په هغه باندې هېڅ
هم ونه شول، نو فکرونه يې بدل شول او ويې ويل: «دا هم يو خدای دی.»

٧ هغه ځای ته نژدې د هغې جزيرې د حاکم پوبليوس ځمکې وې. هغه په مهربانۍ سره مونږ ته
هرکلی ووايه او درې ورځې يې په خپل کور کې مېلمانه کړو. ٨ هغه وخت د پوبليوس پلار
ناروغه پروت ؤ. هغه تبه لرله او د پېچ په ناروغۍ اخته ؤ. پولوس د هغه کوټې ته ننوت، د هغه دپاره
يې دعا وکړه، خپل لاس يې ورباندې کېښود او هغه ته يې شفا ورکړه. ٩ کله چې دا کار وشو، نو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د جزیرې نور ناروغان هم راغلل او روغ شول. ۱۰ هغوی مونږ ته ډېر سوغاتونه راکړل او کله چې مونږ غوښتل لاړ شو، نو کومو شیانو ته چې په سفر کې مو ورته اړتیا لرله، هغه یې مونږ ته کشتۍ ته راوړل.

## روم ته د پولوس رسېدل

۱۱ درې میاشتې وروسته د سکندریې په یوه کشتۍ کې چې د دوه غبرګوني خدایانو کیستر او پولوکس توږل شوې مجسمې ورباندې لګېدلې وې او ژمی یې په هغې جزیرې کې تېر کړی ؤ، لاړو.
۱۲ مونږ د سراکیوس ښار ته ورسېدلو او درې ورځې هلته پاتې شولو. ۱۳ بیا د هغه ځای څخه په کشتۍ کې روان شولو او د ریغیون ښار ته ورسېدلو. بیا یوه ورځ وروسته جنوبي بادونه پیل شول او په دوو ورځو کې د پوتیولي بندر ته ورسېدلو. ۱۴ په هغه ځای کې مونږ ځینې ایمانداران ولیدل او هغوی زمونږ څخه وغوښتل چې د یوې هفتې دپاره ورسره پاتې شو. په دې ډول مونږ روم ته ورسېدلو. ۱۵ کله چې د روم ایمانداران زمونږ د راتللو څخه خبر شول، نو هغوی د اپیاس تر بازاره او هغه ځای پورې چې د درې مېلمستونونو په نوم یادېده، زمونږ لیدلو ته راغلل. کله چې پولوس هغوی ولیدل، نو د خدای شکر یې وویست او زړور شو. ۱۶ کله چې مونږ روم ته ورسېدلو، نو پولوس ته اجازه ورکړل شوه چې د یو رومي عسکر سره چې د هغه ساتنه یې کوله، په یو شخصي کور کې واوسیږي.

## پولوس په روم کې وعظ کوي

۱۷ درې ورځې وروسته پولوس د هغه ځای د یهودیانو مشران غونډې ته راوغوښتل. کله چې هغوی سره راټول شول، نو ورته ویې ویل: «ای زما ورونو، که څه هم ما د خپلو خلکو او د خپلو نیکونو د دودونو او دستورونو په خلاف کوم کار نه دی کړی، خو بیاهم زه په اورشلیم کې بندي شوم او رومیانو ته وسپارل شوم. ۱۸ کله چې رومیانو زما څخه څېړنې وکړې نو غوښتل یې چې ما ازاد کړي، ځکه هغوی پوه شول چې ما داسې کوم کار نه دی کړی چې د مرګ سزا دې راته راکړل شي.
۱۹ خو کله چې د یهودیانو مشرانو مخالفت وکړ، نو زه دې ته مجبور شوم چې امپراتور ته عرض وکړم. بې له شکه ما سره هېڅ داسې څه نشته چې د خپل قوم په خلاف یې ووایم. ۲۰ نو له دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

امله مې راوغوښتلئ چې تاسو ووينم او خبرې درسره وکړم چې زه د هغه چا په خاطر په زولنو تړل شوی يم چې د اسراييلو خلک ورته هيله‌مند دي.» ٢١ يهودي مشرانو ځواب ورکړ: «مونږ ته ستا په هکله له يهوديې څخه کوم ليک نه دی رارسېدلی او نه زمونږ د يهودي ورونو څخه کوم څوک دلته راغلی دی چې ستا په هکله يې مونږ ته خبر راوړی وي او يا يې ستا په هکله کومه بده خبره کړې وي. ٢٢ خو مونږ غواړو چې ستا نظر واورو، ځکه مونږ پوهېږو چې خلک په هرځای کې د دې ډلې په خلاف خبرې کوي.»

٢٣ نو هغوی د پولوس سره يوه ورځ وټاکله او ډېر خلک د هغه کور ته راغلل. د سهار نه تر ماښامه پورې پولوس د هغوی سره د خدای د پاچاهی په هکله خپل پيغام بيان کړ او شاهدي يې ورکړه او کوښښ يې وکړ چې د موسی د شريعت او د پيغمبرانو له کتابونو څخه په کار اخيستلو سره هغوی د عيسی په هکله قانع کړي. ٢٤ ځينې د هغه په خبرو قانع شول، خو نورو ورباندې باور ونه کړ. ٢٥ هغوی په خپل منځ کې سره بې‌اتفاقه شول او روان شول. خو له تګ څخه مخکې پولوس دا خبره وکړه: «روح القدس د اشعيا نبي په وسيله ستاسو نيکونو ته څنګه ښه ويلي دي:

٢٦ دې قوم ته ورشه او ورته ووايه:

تاسو به بيا بيا اورئ، خو پوه به نه شئ. تاسو به ګورئ، خو څه به نه وينئ، ٢٧ ځکه چې د دې خلکو زړونه سخت شوي دي او په غوږونو درانه شوي او سترګې يې پټې شوي دي. که نه، نو سترګو به يې ليدل، غوږونو به يې اورېدل، په زړونو کې به پوهېدل او ماته به بېرته راګرځېدلي وای او ما به شفا ورکړې وای.

٢٨ نو بيا پوه شئ چې دغه د خلاصون پيغام د خدای له خوا غيريهوديانو ته لېږل شوی دی او هغوی به يې مني.» [ ٢٩ کله چې پولوس خپلې خبرې پای ته ورسولې، نو يهوديان لاړل او په خپل منځ کې يې سره بحث وکړ.]

٣٠ پولوس دوه کاله په يو کرايي کور کې اوسېده او هرڅوک چې به د هغه د ليدلو دپاره راتللو، نو هرکلی به يې ورته ويل. ٣١ هغه د خدای د پاچاهی په هکله وعظ کاوه او د څښتن عيسی مسيح



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هکله يې په زړورتيا او په ازادانه توګه تعليم ورکاوه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳

Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.